نومیالي افغانان

یا

د هند په تاریخ او مدنیت کې د افغانانو برخه

لیکوال: غوث خیبري

نومیالی افغانان

یا

د هند په تاریخ او مدنیت کی د افغانانو برخه

PROPERTY OF ACKU 1667

لیکوال: غوث خیبری

د کتاب نوم : نومیالی افغانان یا د هند په تاریخ او مدنیت کی

د افغانانو برخه

لیکونکی : غوث خیبری

خپرونکی : د اطلاعاتو او کلتور وزارت د خپرونو ریاست

کال : ۱۳۶۷

پرله پسی لمبر : ۳۱۱

د چاپ ځای : دولتی مطبعه ، مانو تایپ

دليكوال خبرې

د كتاب دليكلو فكر:

په ۱۹۶۹ عيسوي كال ما د ډيلي د پوهنتون په ډيلي كالج كې سبق ويلو. زموږ د تاريخ استاذ ډاكټر دوئه نومېدو. ډوكټر صاحب دې دوني ټيټ ؤ څومره د پوهې او شخصيت په لحاظ ډېر اوچت انسان ګڼل كېدلو. په ما د لټاون كې يې كور وا او ده د خپر واورېدلو د باره په زړه د پوهنځي (كالج) نه بهر كله كله ده ده كورته هم ورتللم.

ده سره زما سره د نورو استاذانو په نسبت زياته وه. د دې وجه دا وه چې ده په زيات و خصوصاً هند په اړه او پراخه خاوره كې د افغاني كلتور، د افغاني لويو شخصيتونو افغاني هنر تاريخي مېراثونو چې هند ته پاتې ؤو افغاني لويو فاتحانو او مبارزانو په باب خواږه او دلچسپ لكچرونه وركول او ما چې د نورو په مينځ كې ځان يوكانه حس كاوه د ده لكچرونو او تقريرونو په اورېدلو سې د ښه په زړه او روح كې د هرو را وسر لوړي ژور احساس كولو، هلته دا فكر را سره ملګري كېده چې زه نه يوازې (په هند كې) پردى او نا آشنا نه يم بلكه په لويې هند كې تر ټولو زيات پېژندل شوى تر ټولو زيات منلى شوى او تر هغو ټولو زيات محترم تېر او قوله يم څو لكه چې وړاندې وروسته د لو روښا يو لواو نورو سيمو او هيوادونو څخه هند ته راغلي وو.

دا ډاكټر دوئه ژ چې ويل يې د هغه په تاريخ كې افغان پوځمه آرټيكل او پوځلانده طلا يشي باب دى او همدغه تكي زما د پاره د (نوموالي

افغانانو یادهند په تاریخ او مدنیت کښې د افغانانو برخه) د کتاب لیکلو اساس شو. د بومستند او ګردمنبع ته راوړلو فکر زما احساس را وپاروو او د اشوق او مینه یې زما په زړه کښې راوټوکوله چې زه دې یو کتاب، ور وکښې یا هغه خو د پښتنو د پاره مهم او د استفادې وړ، په خپل ماته ګوډ قلم او نیمګړې پوهه ولیکم او دادې هغه څه چې مې لیکلي او د خیال او تصور په دنیا کښې مې پرې ځان خوشحاله کړی، ستاسو قدرمنو په وړاندې یې ږدم.

د کتاب اصلي مقصدونه:

زه نه مورخ یم او نه محقق او نه د لوړې درجې کوم ادیب یم، یو لیکوال یم او د لیکوالۍ په دنیا کښې مې شل دیرش کاله په لنډی کیسې او افسانې ناول یا ناولټ کار کړیدی چې د دې سلسلې مجموعې او کتابونه خپاره شویدي او ځ یا ته برخه یې د انتظار په ځنګون ناستدي.. ګوندې کله یې هم وخوړ لی شی ځکه چې د دې مواد او افغان ولس د پاره تخلیق شوي دي او قوم ته مې خپل پور په دې ډول ادا کړیدی نو... یو هغه هدف او مقصد ته د وتلو کولو پاره، ماد او سنی کتاب د لیکلو اراده وکړه او بې له دې چې زه دې مؤرخ یا محقق او ادیب او سم د یو پاك احساس په رڼا کښې مې د یو سپیڅلي مقصد د پاره د کتاب د لیکلو هغه اراده په عمل کښې پلې کړه.

لکه څنګه چې ما مخکښې اشاره وکړه د دې کتاب اصلي مقصدونه تش همدادي چې د اسنادو او دستاویزونو په کومک، د هند او او سني پاکستان په تاریخ او مدنیت کښې د توریالو او ننګیالو افغانانو هغه پراخه او د ارزښت وړ برخه وښایم او هر ځ یې کرم کومه چې نه د هیریدو ده او نه د ټیدو.

د هند د بطن هغه د پاکستان دراز پر یدلونه راورو ستو چې ټول یو علویت کاله کیږي دا کومې جاري سائلي شویدي چې د لویې

هند همغه په رابېل شوی پاکستان کې د افغاني قهرمانانو په سترو
اوډېرو عظيمو کارنامو څخاورې واړول شي اوحتی افغاني تېراوېښتن
کهول پورې مربوطې معنوی شتمنۍ دځان پورې وتړي،چې دهغې پوره کې
مثال په لاندې کرښو کې تاسو ته ذکر کوم:

په پاکستان کې د یوې معتبرې نشراتي مؤسسې له خوا د اسلام تاریخ
یا د پاکستان اسلامي تاریخ چاپ او خپور شوی چې په هغې کې
دهغو ننګیالو افغانانو ذکر قدر له هم ندی شوی چا چې اسلام د هند
نیمې وچې چې پاکستان یې هم یو برخه ده وررسولی او ووروړیدی. دغه شان
دثور انقلاب نه څو کاله دمخه دیونسکو د نړیوالې مؤسسې په غونډه کې
چې د پاریس په مرکز پاریس کې جوړه شوې وه او په هغې کې د افغانستان
ددولت رسمي امتیازي هم لاسته، د پاکستان نماینده پښتون لوی مبارز
ملي او ادبي شخصیت دتورې او قلم خاوند خوشحال خټك چې دافغان
په ننګه یې توره ترملا تړلې وه دیو پاکستاني شاعر په توګه غونډې ته ورمعرفي
کړ او دهغوی دشعرد کلماتو چاپولو د پاره یې د مصارفو غوښتنه وکړه.
لیکن دخوا شینې خبره خو لا داوه چې دوخت دحکومت رسمي امتیازي
خپل ځیږ هم پورته نکړ.

داسې مثالونه چاپي ډیر زیات او سي چې د ټولو مقصد یو شی
دی او هغه ته ما وړاندې اشاره وکړه په دې اساس دغه‌نو نورو غرضي
آثارو او کتابونو په کتلو سره دې کوښښ ته دوام ورکړی شویدی
اویې له شکه چارې په وسا تلی شي.

دپاره ددې چې مونږ دغسې هڅې شنډې کړې وي او له بلې خوا موخپل
اوسني ځوان توك ته دپښتو دپاره ددوی د سوله دوستۍ، علم پرورۍ،
آزاده او ښتنو نیکونو دسترو څه ټولو، عظیمو کارنامو او دعلم پوهې

سیاست او کیاست په ډګر کې د دوی د لاسه پېښو نیکو کارونو هر کله
ثبوتونه ښکاره کړي وي. د نومیالي افغانانو پادشاهانو په تاریخ او مدنیت
کې د افغانانو برخه په کتاب لیکلو می لاس پورې او هغه تاغه دا و ګټالو
په موده کې می هغه پای ته ورسولو.

د کتاب متن :

نومیالي افغانان پادشاهان د هند په تاریخ او مدنیت کې د افغانانو برخه په
حقیقت کې د هند د لویې وچې (هند او پاکستان) په خاوره کې د افغانانو د معنوي
شتمنیو، لویو هستیو او منلو علمي او روحاني، ادبي او اجتماعي شخصیتونو
سپېڅلي تاریخ دی او د تاریخ په اوږدو اوږدو پېړیو کې ددې ویاړلي هېوادوالو او زړه
ور پښتنو نېکو خدمتونو یادونه او ناچارې چې د تاریخ په ځغلېدو ورو کې یې
د اسلام د مقدس او سپېڅلي دین، ادب او هنر، فرهنګ، ثقافت، حکمت، سیاست
او فلسفې په میدان کې کړې دي او د ډول ډول نهضتونو، او مثبتو
پرمختګونو بنسټ یې ایښودی دی. مونږ ددې ستر مقصد د زیات روښانه
کولو په نیت، د معتبرو لیکل شویو آثارو او اسنادو په پلټنه کې
د احقیقت ترکاڼې اندازې پورې ثابت کړې دي چې افغان قوم، د عمل
طبیعي استعداد او فطري نبوغ له مخې.. د هند او پاکستان په تاریخ او
مدنیت کې اغېزمن رول لوبولی او د هند لویې وچې ته یې ور ننوتل ددې
موجب وګرځېدل چې هلته د سوله دوستو او علم پرورو افغانانو په لاس
د علومو او فنونو ځلانده دوره پیل او تر زیات حده پورې خلک
د لرغونو خرافاتو له جال نه را خلاص شي او هم د اسلام د مقدس دین د خپر
پدلو په څنګ کې د نوي فرهنګ، علم او ادب او نورو علومو پېژندنې
وغزېږي او وده وکاندي.

په دې کتاب کې، د ارزښت ور خارجي لیکنو او آثارو او د لویو
پوهانو، مورخانو، محققانو، ادیبانو، شاعرانو روحاني شخصیتونو د لیکنو

او د مفیدو په استناد، د دغه ثابت حقیقت له مخې څخه د غرض دوری او ګردونه لیرې شوېدي چې په لويې هند کې (د پاکستان) په ګډون افغانانو د تعمیري او علمي خدمتو نو دلارې د هندي هر کنج د ژوندانه د نښو او اثارو نو سره اشنا او دد وي د پاره يې د ښو لوی لګانت بنیاد اېښی دی.

د افغانانو د علم دوستۍ پاک او صمیمي احساس په هغه ځای کښې د ښوونځایونو او مکتبونو او سلسله او ثنائي التسل بوهانو علمي اثارو شخصیتونو روحانیونو، مورخانو شاعرانو، ادیبانو او ملي شخصیتونو هندي ولس چې اوسنی (پاکستان) یې هم ورپه برخه وه سره محبت او احترام ځانته جلب کړی او په سوله او دوستۍ کښې یې د ژوند خوږې شپې سبا کړې دي.

د دې کتاب په پاڼو کې تاسو لولې چې څنګه هند ته د افغانانو په ورتګ سره د اسلام مقدس دین د لومړي ځل د پاره زیات نفوذ او پراختیا مومي او د لومړي ځل د پاره برهمني پراخه پر کنې د اسلام په دین مشرف کېږي. څنګه دري ژبه د علم او لر څنګ شعر او ادب د پیدا یښت او پراختیا بوازیني وسیله ګرزي عرفان او تصوف لوی پنه اختیاروي حکمت او فلسفه، نجوم او ریاضي د نویو پرمختګو نو لارې وهي او افغانان خپل نبوغ او فطري استعداد، د انساني ارزښتونو د لوړولو د پاره په کار اچوي. لومړی افغانان یاد هند په تاریخ او مدنیت کې د افغانانو برخه کتاب په اتو څپرکو کې لیکلی شوېدې چې په لاندې ډول دي:

لومړی څپرکی: په هندوستان کې پاندې د غزنویانو دوري اثر.

دریم څپرکی: په هند کې د خلجي افغانانو لوستر خدمتونه.

څلورم څپرکی: په هند کې د لودي افغانانو طلایي دوره یا مهد احیا علوم.

پنځم څپرکی: سوري افغانان او د هند تاریخ.

شپږم څپرکی: په هند کې د افغاني کلتور پایښت.

اووم څپرکی: په هند کې د افغاني پوهانو تذکره.

اتم عصر کې: په هند کې د افغاني الاصل شاعرانو تذکره.

د کتاب منابع او ماخذونه:

د هند په تاریخ او مدنیت کې د افغانانو پر خدمتونو لیکلو کې زیاته پاملرنه هم نه وه آثار او کتابونه لږ لیکل شوېده. یعنې هغه لیکنې تر استفادې لاندې نیول شوې دي چې هغه د خارجي لیکوالو او نوموړو مؤرخانو او محققانو له خوا لیکل شوې او هم په خارج کې چاپ شوې دي. د دې کار نه زیاتې او مقصد دا دی چې ما غوښتل د افغانانو د خلاق دماغ، نبوغ او نظریو، زور او استعداد په مکمله توګه د هغو خلکو له خوا د دماغ او قلم څخه یون شوي وي څرګند چې د غوري افغانانو لودیانو او ترک پورې او خلزي او سوري شخصاً په دې باره کې د ارزښت او اهمیت له پلوه تحقیقات تر سره کړي دي. په همدې مناسبت دلته د دې ټکي یادول ضروري ګڼم چې د دې کتاب زیاته برخه چې یعنې نوي په سلو کې کېږي ما په هند کې لیکلې او د هغه ځای د رسمي او شخصي کتابتونو آرشیفونو او نورو مدارکو څخه مې ګټه اخستې ده او دا د دې سبب شوی دی چې کله کله په ځینو ځایونو کې د کتاب عبارتونه او جملې (تغییر) پیدا کړي چې دا تغییر ګران لوستونکي د مطالعې په وخت محسوسولی او درک کولی شي.

د کتاب دري برخې ما د یو مستند ترجمې په بڼه نه، د اصلي متن له اقتباس کړي دي. د دې کتاب په لیکو او تألیف کې نږدې سل توکه مختلف آثار په بېلو بېلو ژبو لوستلي او مطالعه شوي دي البته د هغو ژبو نه چې ما استفاده کولی او کار ځنې شو لکه اردو انګلیسي او دري او دا ټول په هند او پاکستان کې بېلا بېلو پوهانو له خوا لیکل شوي او چاپ شوي دي.

دا چې کتاب به د محترمو پوهانو د ر نو لوستونکو او استفاده کوونکو په نظر کې څومره ارزښت یا اهمیت ولري زه خپله هیڅ نشم

او د هغوی په استناد، د دغه ثابت حقیقت له مخې څخه د غرض دوری او گردونه لیری شویدی چې په لویې هند کې (د پاکستان) په گډون افغانانو د تعمیری او علمی خدمتونو د لاری د هغوی پر گنې د ژوندانه د نوی نوی واقعیتونو سره اشنا او د دوی د پاره یې د نوی ثقافت بنیاد ایښی دی.

د افغانانو د علم دوستۍ پاک او سپیڅلی احساس په هغه ځای کې د هغوی ناگانو او مسلو لار پرانستله او افغانی اصیل پوهانو علمی او رو شخصیتونو روحانیونو، مورخانو شاعرانو، ادیبانو او ملی شخصیتونو هندی ولس چې اوس (پاکستان) یې هم ورته برخه وه ډېره محبت او احترام ځانته جلب کړی او په سوله او دوستۍ کې یې د ژوند خوږی شپې سبا کړې دی.

ددې کتاب په پاڼو کې تاسو لولۍ چې څنگه هند ته د افغانانو په ورتگ سره د اسلام مقدس دین د لومړی ځل دپاره زیات نفوذ او پراختیا موندی او د لومړی ځل دپاره برهمنی پراخه پرگنې د اسلام په دین مشرف کړې څنگه دری ژبه د علم او لر هنگ شعر او ادب د پیدا ښت او پراختیا پوازینی وسیله گرزی عرفان او تصوف لوی پنه اختیار وی حکمت او فلسفه، نجوم او ریاضی د نوی پرمختگونو لاره وهی او افغانانو خپل نبوغ او فطری استعداد، د انسانی ارزښتونو د لوړولو د پاره په کار اچوی. تو مبالی افغانانو یاد هند په تاریخ او مدنیت کې د افغانانو برخه کتاب په اتو څپرکو کې لیکلی شویدی چې په لاندی ډول دی:

لومړی څپرکی: په هندوستان باندې د غزنویانو دوری اثر.

دریم څپرکی: په هند کې د خلجی افغانانو لومړنی خدمتونه.

څلورم څپرکی: په هند کې د لودی افغانانو طلائی دوره یا عهد احیا علوم.

پنځم څپرکی: سوری افغانان او د هند تاریخ.

شپږم څپرکی: په هند کې د افغانی کلتور ښت.

اووم څپرکی: په هند کې د افغانی پوهانو تذکره.

اتم څپرکی: په هند کی د افغانی النسل شاعرانو تذکره.

د کتاب منابع او ماخذونه:

د هند په تاریخ او مدنیت کی د افغانانو برخه په لیکلو کی زیاته پاملرنه هر لوری آثار او کتابونو ته اړولی شوی ده. یعنی هغه لیکنی تر استناد لاندی نیولی شوی دی چی هغه د خارجی لیکونکو او هندو مورخانو او محققانو له خوا لیکلی شوی او هم په خارج کی چاپ شوی دی. د دی کار له زیاتوالی او مقصد دا و چی ما غوښتل د افغانانو د خلاق دماغ، نبوغ او فطری ذوق او استعداد په مکمله توګه د هغو خلکو له خوای دماغ او قلم هغه بیان شوی وی څرګند چی د هر افغانی تولنی او ترک پوری اړه لری او هغوی شخصا په دی باره کی د ارزښت او اهمیت له ډک تحقیقات ترسره کړی دی. په هغه مناسبت دلته د دی تکی یادول ضروری ګڼم چی د دی کتاب زیاته برخه چی پخوانی پړاو کی کومې ما په هند کی کښلی او د هغه ځای درسمی او شخصی کتابتونو آرشیفونو او نورو مدارکو هغه سی ګټه اخستی ده او دا د دی سبب شوی دی چی کله په هغو ځایونو کی د کتاب عبارتونه او جملی (تغییر) پیدا کړی چی د تغییر کران لوستونکی د مطالعی په وخت په محسوس سولی او درک کولی شی.

د کتاب دری برخی ما د یو مقصد لرمخی پخپله بیله د اصلی متن له اقتباس کړی دی. د دی کتاب په لیکلو او تالیف کی نژدی سل توکه مختلف آثار ته بیلو بیلو ژبو متنونه او مطالعه شوی دی البته د هغو ژبو نه چی ما استفاده کولی او کار خیستی شو لکه اردو، انګلیسی او دری او دا ټول په هند او پاکستان کی بیلا بیلو پوهانو له خوا لیکل شوی او چاپ شوی دی.

دا چی کتاب به د محترمو پوهانو درنو لوستونکو او استفاده کوونکو په نظر څه ډول وی څومره ارزښت یا اهمیت به ولری زه خپله هیڅ نشم

ویلی شکه چې د کتاب په پیل کې ما خپل عذر تاسو ته وړاندې کړی دی خوزه په دې پاندې ده برو بار احساس کوم چې ما یو ستر کار ته لاس اچولی داسې کار چې زما د قوم زما د ولس او زما د ګران او محبوب وطن افغانستان او ټولو افغانانو د پاره د زیات ارزښت او اهمیت وړ ښکاري. ما د دې قوم او دې ویاړلي ولس د تاریخ په پاڼو پاڼه مستند رکې خوندي وهلي او هغه قیمتي او ګران بها د رنې میراث لاس ته راوړیدی، که هغه هیڅ قلل او صالي اثري هیله ده چې ان مخته ن اوددي کهول، په وطن او قام مین ځوانان یې لا زیات ځلانده او روښانه کړي، دوی زمانه زیات ددې مستند ر تل ته ځان ورسوي او لا قیمتي دانې تر لاسه کاندي. په دې باید کلک ایمان او ټینګه عقیده ولرو چې په دې زور درپاب کې د بردا مې هغه شته چې هغو ته لا د چا لاس ندی ور رسیدلی او چا د ځانه ندی پېژندلي... ددې پېژندلو او را ښېر کولو وظیفه د هغه چا کار دی چې د لوی انقلابي، مختللي سرکاله او خوشحاله افغانستان د جوړولو تکل یې کړی دی او د هغه سره د علمي مقابلې خیال ساتي. زه په دې لار کې د دوی دپاره د زیاتې کاسپا بې دعا کوم او په خپله قاصرایي او کمزورۍ اقرار لازمي ګڼم.

دغه کتاب (نومیالي افغانان یا دهند په تاریخ او مدنیت کښې د افغانانو برخه) په ۱۳۰۹ کال کښې دا پوهاند البیروني لومړی درجه جائزه ګټلې ده او زه یې خپل ښیرني ولس ته د ډالۍ په توګه وړاندې کوم

په درناوی

خوشخبري

کابل غویي میاشته

کال ۱۳۶۷

دکتاب څپرکي

لومړی څپرکی

په هندوستان باندې د غزنویانو د دورې اثر ۱- ۳۶ مخ

دویم څپرکی

هندوستان د غوري افغانانو په دولت کښې ۳۷- ۶۰ رر

دریم څپرکی

په هند کښې د خلجي افغانانو ستر خدمتونه ۶۱- ۸۶ رر

څلورم څپرکی

په هند کښې د لودي افغانانو طلائي دوره یا عهد احیاء علوم ۸۷- ۱۱۲ رر

پنځم څپرکی

سوري افغانان او د هند تاریخ ۱۱۴- ۱۳۷ رر

شپږم څپرکی

په هند کښې د افغاني کلتور پایښت ۱۲۸- ۱۶۹ رر

اووم څپرکی

په هند کښې د افغاني پوهانو تذکره ۱۷۰- ۱۸۸ رز

اتم څپرکی

په هند کښې د افغاني النسل شاعرانو تذکره ۱۸۹- ۲۱۹ رر

د کتاب دوهمه برخه ۲۲۲- ۲۴۳

ویلی ځکه چې د کتاب په پیل کې مې د خپل عذر تاسو ته وړاندې کړېدی
خو زه په دې باندې ډېر ویاړ احساس کوم چې ما یو ستر کار ته لاس
اچولی داسې کار چې زما د قوم زما د ولس او زما د ګران او محبوب
وطن افغانستان او ټولو افغانانو د پاره د زیات ارزښت او اهمیت وړ ښکاري.
ما د دې قوم او دې ویاړلي ولس د تاریخ په پاڼو یا په سمندر کې خوندي
ویلي او څه قیمتي او ګران بها درنې مې لاس ته راوړي دي،
که څه هم صیقل او صافي نه وي هیله ده ځوان محققان او د دې کهول،
په وطن او قام مین ځوانان به یې لا زیات ځلانده او روښانه کړي، دوی
زما نه زیات د دې سمندر تل ته ځان ورسوي او لا قیمتي دانې تر لاسه کاندي
. په دې باید کلک ایمان او ټینګه عقیده ولرو چې په دې زوړ دریاب
کې ډېر داسې څه شته چې هغو ته لا د چا لاس نه دی ور رسېدلی او چا د ځان په
نه دی ښورولی... د دې ښورولو او را ایستلو دنده د هغه چا کار دی
چې د لوی انقلابي، مستقل سرلوړي او خوشحاله افغانستان د جوړولو
تکل یې کړېدی او د دې هم سره د علمي سقا بلی خیال ساتي. زه په دې
لار کې د دوی د پاره د زیاتې کامیابۍ دعا کوم او په خپله نارسایي
او کمزورۍ اقرار لازمي ګڼم.

د هغه کتاب (نومیالي افغانان یا د هند په تاریخ او مدنیت کښې
د افغانانو برخه) په ۱۳۰۹ کال کښې د ابوریحان البیروني لومړۍ درجه
جائزه ګټلې ده او زه یې خپل سپېڅلي ولس ته د دالۍ په توګه وړاندې کوم
په درناوی

خوشخبري

کابل خوري مېنه
کال ۱۳۶۷

دکتاب څپرکي

لومړی څپرکی

په هندوستان باندې د غزنویانو د دورې اثر ۱- ۳۶ مخ

دوهم څپرکی

هندوستان د غوری افغانانو په دوه وخت کښې ۳۷- ۶۰ رر

دریم څپرکی

په هند کښې د خلجي افغانانو مستر خدمتونه ۶۱- ۸۶ رر

څلورم څپرکی

په هند کښې د لودی افغانانو طلائي دوره یا عهد احیاء علوم ۸۷- ۱۱۲ رر

پنځم څپرکی

سوري افغانان او د هند تاریخ ۱۱۴- ۱۳۷ رر

شپږم څپرکی

په هند کښې د افغاني کلتور اهمیت ۱۲۸- ۱۶۹ رر

اووم څپرکی

په هند کښې د افغاني صوفیانو تذکره ۱۷۰- ۱۸۸ رز

اتم څپرکی

په هند کښې د افغاني النسل شاعرانو تذکره ۱۸۹- ۲۱۹ رر

د کتاب دوهمه برخه ۱۲۲- ۲۴۳

لومړی څپرکی

په هندوستان باندی دغزنويانو ددوري اثر

دافغانستان نومیالی او پیاوری څوی حضرت سلطان محمود غزنوی. دلومړی ځل لپاره په (۱۰۰۰ م) کښی دهندوستان په خاوره باندی یرغل وکړ (۱) اوله هغه نه وروسته یی څو نوری حملی هم

(۱) دی سلطنت اف دهلی دای ، ال شری واستا تا لیف ۳۵مخ داګری چاپ کال۱۹۶۳ ع علورم چاپ دی ګولډن هستری اف انډیا دویشوانات او جګن نات تالیف ۱۲۹ مخ دجلندر چاپ کال۱۹۵۹ اهل هند کی مختصر تاریخ دډاکټر تاراچند تالیف دډیلی دارد و اکاډیمی چاپ۱۰۶مخ کال ۱۹۶۸ تاریخ هند دمولوی ذکاالله تالیف دنولکشور طبع کال ۱۹۴۵ هستری اف انډیاد پاتیه تالیف ۱۱۸ مخ داله آباد طبع ۱۹۶۲ کال کلمویسس فرام الدین هستری اردوا دیشن دلکنهو چاپ د ۱۹۴۷ع کال ۸۷ مخ .

و کړی (۱) چه په دوی کښې څلور حملې تر تو لومهمې او ستری وژندل کیږی (۲) او په تو لو کښې بیا لویه حمله دسومنات پرڅل اوٌ فتح کنل کیږی (۳) دسلطان محمود غزنو ی دیر ځل په وخت ، دهندوستان په ځینو سیمو کښې ، داسلام مقدس دین دعربو په وسیله خپور شوی ؤ او دعربو دمشهور زلمی سردار (محمد بن قاسم)حمله په ۷۱۱ ع کښې (٤) ددی سبب شوه چه اسلام د هندوستان په خاوره کښې لږ نور هم ژوندی شی او سر را پورته کړی لیکن حقیقت دادی چه داسلام مترقی او پرمخ تللی ژوند ، په هندوستان کښې دسلطان محمود غزنوی اوورپسی دنوروافغانی پادشاهانو له واکمنی نه وروسته شروع کیږی څکه چه دهند وستا ن اسلامی مسلسل تاریخ دغزنو یا نوله دوری څخه شروع او مخکښی له دینه دغه تاریخ یوه پرله پسی او اساسی کړی نه جوړ وی » (۵)

دمعاصر تاریخ پوهانو اودتاریخ ماهرانو عقیده او نظریه سلطان محمود غزنوی دیر غلونوا و دهغه دشخصیت او اخلاقو په هکله د کلاسیکو مؤرخینو او په تیره بیا دهغو تاریخ لیکو نکو بلکل مخالفه ده کوم چه دد باری

---

(۱) دهندوستان مؤرخین په هند باندی دمحمو دغزنوی دحملو شمیر له ۱۶ څخه تر ۱۷ پوری بیانوی .

(۲) اهل هند کی مختصر تاریخ دد کتور تارا چند تالیف ۱۵۹ مخ

(۳هستری اف انډیاد باتیه تالیف ددیلی چاپ ۱۹۶۰ -

(۳) مسلم رول ان انډیا د پشوری پرسا دتالیف دحید رآباد طبع کال ۱۹۳۵

(٥) ایضا دغه کتاب او دسید ریاست علی ندوی اثرعهداسلامی کاهندوستان دادارة المصنفین پټنی طبع کال ۱۹۵۰ لومړی چاپ. ۲۶۹ مخ

تاریخ لیکونکو حیثیت درلوداود پادشاهانو او امیرانو یاد نفوذ او دولت دخاوندانو په امراو هدایت او لارښوونه یې تاریخونه لیکل او ترتیبول مثلاً (سلطان محمود غزنوي دستر او لوړ شخصیت او دهغوي دیرغلونو په هکله چه کله (محمد قاسم هندوشاه) پخپل لوي اثر تاریخ فرشته کښې چه پوره شهرت او نوم هم لري کوم ذکر کوي یا څه وائي یا خافي خان په منتخب اللباب کښې دده او چت افغاني او اسلامي شخصیت په باب ځینې مطالب راوړي نوالبته او بې له شکه په هغه دمعاصر تاریخ پوهانو دمفکورې او نظر بې سره توپير لري اود معاصري تاریخ پوهې په رڼا کښې به د ومره اصیل ښکاره نشي لکه څومره چه ښائي.

یا که د (ابن اثیر) غوندي یو لوی او کره محقق اوعالم دافغانستان ددغه مشهورعلم پروراو فاضل پاچا په هکله نظریه ښکاره کړي او ووائي چه سلطان محمود غزنوی په زړه کښې د دولت او پیسې په مال او شتو سخته طمع درلوده (۱) نودا خبره دا سنادو په شهادت دمعاصرو تاریخ پوهانو دپاره نه خودمنلووړ ده اونه دیا ور کولو.

د لته مونږ دافغانستان ددغه ستر سلطان (محمود غزنوی) په باب کښې دځینو معاصر وپوهانو اومؤرخانو نظریات وړاندي کوو څودغه حقیقت روښانه شي چه پخپله د هند مؤرخین دغه دعلم اوفضیلت سر چینې ته په کوم نظر گوري او په څه قیمت ور ته قایل دي.

پروفیسر دکتور تاراچند وائي:

(محمود غزنوی یولایق اوزبردست سپه سالار او پوروړ اوند پش پادشه و او په هغه کښې دعمل قوت او اوللعزمي ډیره زیاته وه هغه ډیر ف ض

---

(۱) اهل هند کی مختصر تاریخ ۵۷ مخ-۱۹۰۸ع کال چاپ.

ژیا وړن، عادل او مهرباڼه انسان ؤ د حقیقت له مخې هغه دا سواد ستر و او لوی پادشاهانو څخه ؤ چه د عظمت او شوکت نښې به یې د تل لپاره د تاریخ په پاڼو کښې پاتې وي(۱)

پروفیسر اشری پادی لال شری و استا عقیده ښکاره کوي:

«محمود غزنوی دا سیاد نومیالو او د پرولوی پادشاهانو څخه شمیرل په کیږي چه سلطنت یې د عراق له پولو څخه شروع د کسپین د بحیرې او بیا په هند کښې د ګنګا د سیند ترڅنډو پورې غزیدلی ؤ. دی نه یوازې پو مشهور سپه سالار ؤ بلکې په هر ځای کښې د پوهانو او عالمانو لوی حامی او پالونکی هم ؤ عجیبه داده چه ده په هند پاندې کښې حملې وکړې او د ډیرې سومې یې لاندې کړې خو هیڅ کله یې په چا ظلم و نکړ او نه یې په زور او جبر څوك اسلام ته راوا ړول (۲)

پروفیسر شری و استا په بل ځای کښې وائي :

(د محمود غزنوی د عظمت او ستر توب پاره دا دلیل کافی دی چه وا یو دغه هوښیار لایق او انسان سلطان حتی په غزنه کښې هم هندو انوته خپل حقوق ورکړي او ځینې پوهندوان یې په خپل پوځ کښې نیولي وو ده دغه آرزو لرله چه د جهان له هر کوټ څخه کدا سکانو لری پوهان او د علم او فضیلت خاوندان خپل دربار او خپل هیواد ته راوولی هلته ورته پوره امتیازات ورکړي(۳)

مهدی حسین ناصری د صنادید عجم پوخ محقق لیکي :

---

(۱) اهل هند کی مختصر تاریخ ۱۵۷ مخ د ۱۹۶۸ کال چاپ مخ د پروفیسر تاراچند تالیف .

(۲) دی سلطنت اف دهلی ۶۰ - او ۶۲۲ مخونه دا کړی چاپ کال ۱۹۶۳ ع

(۳) ایضاً دغه کتاب ۶۳ مخ

(دسلطان محمود غزنوی لوی سلطان داخلاقواو سیرت په هکله مؤرخینو دیر زیات تعریف کړی خوحقیقت دادی چه دغه پاچا له تصور څخه لوړ انسان ؤ او د هر ډول ستاینی وړهم دی. د اسلام اود خپل هیواددنوم اوچتولو دپاره چه ده کوم کارونه اوخدمتونه کړیدی دده نوم به دتل دپاره د یوسپیڅلی او پاك انسان په توګه په تاریخ کښی لیکلی وي (۱).

پروفیسر دته په تاریخ هند کی عقیده ښکاره کوی :

«مسلمان مؤرخین او پوهان دغزنی لوی سلطان، محمود غزنوی ته دیوولی درجه ورکوی. بی له شکه چه هغه دآسیا یو زبر دست فاتح او لایق جنګیالی ؤ. هغه تل دبی وزلو او مظلومانو مرستی ته تیار و لاړ ؤ دروژی په سیاشت کښی به یی هیڅکله دلطر دحقوقو ورکول نه هیرول او ذکاة به یی په غریبو باندی ویشلو هغه یومهذب، علم دوست او دعالمانو مرستندوی (۲) سلطان ؤ شیخ محمداکرام دآب کوثر مولف دافغانستان دستر سلطان محمود غزنوی په هکله لیکی.

«سلطان محمودغزنوی له یوازی د جګړی دمیدان یوتکړه پهلوان ؤ بلکه هغه دعلم او ادب پولوی حامی اود پوهانو اوشاعرانو پرخواخوږی دوست هم او پخپل دربار کښی ئی مشهور او لوی عالمان و شاعران او ادیبان او د فضیلت خاوندان راغونډ کړي وو . حقیقت دادی چه دسلطان محمود غزنوی ستر پاچا په دربار کښی چه کوم پوهان او فاضلان را

(۱) صنناد یدعجم داله آباد طبع کال ۱۹۰۷ ع ۷۰ مخ

(۲) هستری اف انډیا دجلددر چاپ کال ۱۹۰۹ ع ۱۲۰ مخ

تول شوی وو هغه داړان ، توران پاېل سلطان په دربار کی نه وو اونه په دې لاره کښې د هغه پادشاه سره په دې باره کښې چا سیالی کولی شوه (۱)

شیخ محمد اکرام وړاندې‌وائي :

دا۔ پیانو، شاعرانو، پوهانو او عالمانو سره دغزنې‌دلوی سلطان محمود کبیر مینه او علاقه دو مره زیاته وه او هغوی ته یې د و مره اهمیت او ارزښت ورکاوه چې حتی دچکړې دګرته به یې هم هغوی دځانه سره بیول لکه چه و یل کیږی‌مشهور شاعر عسجدې د سومنات پەحمله کښې دسلطان محمود سره ؤ اودغه شاعر پەادسومنات د فتحی په هکله یوه ښکلې قصیده هم و لیکله چه مطلع یې داده :

تاشاه خسروان سفر سومنات کرد

کردار خویش را علم معجزات کرد (۲)

دکتور بی‌ام شرما دافغانستان ددغه نوښا لی او پیاوړی خوی په باب کښې داسې لیکی :

«محمود غزنوی دتاریخ هغه څیره ده چه هیڅ مله به یې څوك څیره ونکړی بهادر، جنګیالی ، د عالمانو اوپوهانو سرپرست ، علم دوست ، دفضیلت څښتن، او مهربان پادشاه ؤ چه مشهور فلسفه دان دحساب ماهراو دسنسکرت ژبې پنډت اوعالم ابوریحان البیرونی یې دځانه سره هندوستان ته راوست .

---

(۱) آب کوثر دفیروزسنز چاپ کال ۱۹۵۸ع ۶۷مخ اردواډیشن

(۲) ـ ایصاء دغه کتاب ۶۸ مخ

دی د آسیا ترټولو لوستر پادشاه تیر شوی او د عالمانو ډېره مدارا او درناوی یې کاوه (۱)

پروفیسر مکرجي لوی محقق او مؤرخ عقیده ښکاره کوي:

«د محمود غزنوي د عظمت او د هغه د لوړ شخصیت مطالعه نه باید سوازې د هغه په حملو او فتوحاتو کښې وکړو بلکه هغه باید له دې اړخ نه مطالعه کړو چه د آسیا دیو عظیم فاتح او جنګیالی په توګه نوموړی څنګه د علم او پوهې او عالمانو او پوهانو سره مینه درلوده او د دې علاقې او مینې په اساس یې څنګه لوی لوی شاعران، مؤرخان، ادیبان، نجومیان، ریاضي دانان، او نور پخپل دربار کښې راټول کړي وو او د هغو قدر او درناوی یې کاوه.

د یو جنګي سړي په وجود کښې د دغو صفاتو موجودیت په رښتیا سره ډېر عجیب او حیرانونکی دی» (۲)

پروفیسر ایشوری پرساد لوی عالم او مورخ د افغانستان د دغه لوی پادشاه په باب کښې لیکي.

(محمود غزنوي په هندوستان کښې دیوی منظمې اسلامي دورې تهذاب او بنسټ کیښود او د دغه اساس د دې سبب شو چه په راتلونکي وخت کښې دد غه علم دوست او فاضل سلطان د فتوحاتو له مخې په هند کښې یوه نوې دوره پیل شي او بیا ترسو ونو کالو پورې دوام وکړي.

---

(۱) کلیمپسس فرام اندین هستري د لکنهو چاپ کال ۱۹۴۷ ع ۸۱ مخ اردو اډیشن

(۲) هستري اف انډیا لومړی ټوك د چند یګر چاپ ۱۷۰ مخ کال نا معلوم.

محمود غزنوی یو پوځی مشر نه پاکه دهغه شخصیت دیو عادی انسان نه ډیر لوړ و او کله کله ورته خلك په افسانوی نظر ګوری چه دا هم دنوموړی دستر توب نښانه ګڼل کیدی شی (۱)

سرمن رومیلا تهاپر د تاریخ پوهه او استاذ د سلطان محمود غزنوی په هکله وائی:

(سلطان محمود غزنوی د افغانستان دیوی کوچنی سیمی غزنی څخه څوواری په هندوستان یرغل وکړل یکن دغه یو او په تیره بیا دمحمد بن قاسم برخلاف ده هیڅکله کوښښ ونکړ چه په هندی ولس ظلم اوناروا وکړی او یا څوك په زور او جبر مسلمان کړی بلکی دا فکر هم ورسره وچه خلك آرام اوراضی اوسی او پخپله خوښه د اسلام دین ومنی او پیروی یی شی او په دی کار کښی خو دمحمود غزنوی عظمت ترسترګو کیږی»(۲)

سید ریاست علی ندوی دهند یو پوخ محقق او فاضل د افغانستان د دغه ستر سلطان په هکله نظر په ښکاره ګوی او لیکی:

(په سلطان محمود غزنوی دا الزام لګول کیږی چه هغه یو متعصب مسلمان و او د یرغل هدف او مقصد یی یوازی دا وچه مندرونه ویجاړ او بتان مات کړی او ټول شته لکه طلا و نور یی لاس ته راوړی لیکن حقیقت دا دی چه دغه نومیالی پادشاه ته د سولی او امن په وخت کښی هیڅکله کوم مندر ویجاړ نکړ او د بت ماتو لو هیڅ یوه واقعه مخ ته را نغله بلکه مال او دولت او سره او سپین یی هم د عالمانو درو ز لو او د کتابخانو او

---

(۱) مسلم رول ان انډیاد ۱۹۵۱ طبع د ډیلی کالج د کتابخانی مربوط ۱۳۸ مخ دچاپ ځای حیدر آباد.

(۲) هسټری اف انډیاد جلددوهم چاپ کال ۱۹۶۱ ع ۱۹۵ مخ

مسجد ونو په جوړ ولو خرڅ کول او د پوزلو سره یې تل مرسته او کومك کاوه »(۱)

دافغانستان ددغه نومیالي څوی (حضرت سلطان محمود غزنوی دنیك اخلاق او لوړ شخصیت په باب کښې مو نږ دهند دګڼور او بیشمار ومحققانو مورخانو او پوهانو دنظر یوا و ینا و ذکر په پوره شرح اومفصل ډول سره وکړو نوکیدی شي چه ډیری زیاتی پانی پری ډکی شي په داسی حال کښې چه دغه موضوع داو سنی کتاب د بحث اصلی موضوع نه شمیرل کیږی بلکه دد ځو اسناد وراوړل او دځینو نامتو پوهانو او مؤرخانو دنظر یو ذکر دد ې لپاره وکړی شوچه دهنداو پاکستان په تاریخ او مدنیت کښې دافغانستان دنومیالی ملت برخه له هندی څای اوهمدی فصل څخه پیل کیږی اودا یې په حقیقت کښې لومړی باب دی. له بل پلوه، دافغانانو دهغه عظیم او سپیڅلی شخصیت اوعام پروړ پاچا ته ځینو د شك په نظر کتلی او دهغه باطله نظریه یې تینګه کړیده چه گوندی په هندوستان باندی د سلطان محمود کبیر حملی او پر غلونه یوازی او یوازې دمادی استفادی اوسرواو سپینو دراټولو په مقصد و ی او کومه معنوی نتیجه یې نه درلوده په دی برخه کښې یوازی دهندوستان پوهانو او علما واستناد ځکه وکړی شوچه دهندوستان خاوره ددغه جنګیالی سلطان دآسونو تر پښو لاندی شوی وه نو بهترین شهادت هم د دغه هیواد د پوهانو کیدی شی له دنورو خلکو .

---

(۱) عهد اسلامی کا هندوستان دسید ریاست علی ندوی تالیف دپتنی داداره المصنفین چاپ کال ۱۹۵۰ لومړی طبع ۱۹ مخ

بله داچه په راتلونکو یا نو کښې مونږداسنا دواوتوی شواهدو په رڼا کښې د اخبر ه نبوّت ته رسول غواړ وچې نه یوازې په هندېې دسلطان محمو دغزنوي پر غلو نو ستر ی او مهمې معنو ی نتیجې در لودې بلکه دهندوستان په تاریخ او مدنیت کښې افغانان دلوېې برخې خا وندان وېږ ندل شول اود محمود کبیر نه وروسته تر سوونو کالو پورې دافغا نا نو کلچر اومعنوي نفوذ په هغه خاوره کښې خپل نقش ولوبوه. مونږ په وړاندې کړ شو کښې د دې خبرې یا دونه و کړه چه دافغانستان دپادشاه سلطان محمود غزنوي دلو مړ ی حملې (۱۰۰۰ ع) هغه مخکښې دهندوستان دنیمې و چې په څېنو سیمو لکه (سند) او نورو کښې دعربو په واسطه داسلام پلو شې خپر شوي وې اوپه (۷۱۱ م) کښې دزلمی ۱۷ کلن عرب سپه سالار محمد بن قاسم دیر څل اوقتو حاتو نه پس داسلام دین دلیا خپرېدلو د پاره لاره اواره شوه او په دریو کالو کې د (یبل) (نیرون) (۱) سهوان) (بهمن آباد) (راو) سیمې تر قبضې لاندې راوستلې (۲) لیکن په شمالي، شمال لوید یزاو ختیز وبر خو کښې یې هیڅ ډول فعالیت ونشو کړای اوکه یې فعالیت هم کاوه نتیجه یې دداد ور نه وه ددې وجه دا شو دلې کیږ ی چه دمحمد بن قاسم عرب سردار سره دځوانۍ زور او طاقت خود تجربې له لحاظه یې کافي پو هوالي نه درلوداو دزیاتو سیمو او لارو کو در وسره یې پوره آشنائي

---

(۱) دا هغه سیمه ده چه ځینې په غلطی سره هغه دافغانستان دلوی عالم او پوه ابوریحان البیر وني د زیږ یدو ځای بولي په داسې حال کښې چې د نیرون او بیرون په منځ کښې د یر توپیر پر وت دی.

(۲) آب کوثر دشیخ اکرام تالیف ۳۲ مخ.

نه در لوده په داسې حال کښې چه دری سوه کاله وروسته کله چه په (۱۰۰۰م) کال کښې دغزنی سلطان محمود کبیر په هندوستان حمله کوله نوهم دعمر له مخې او هم د تجربې له پلوه یې په محمد بن قاسم بر تری درلوده او له همدې کبله بریالی شو چه زیاتی سیمې په نسبتاً لږوخت کښې لاندې کړې او په خپلو حریفانو باندې بری ترلاسه کړی.

لکه چه په وړاندې کړیو کښې ولیکل شول په هند باندې دمحمود غزنوی دحملو پیل په (۱۰۰۰ع) کښې چه د ۳۹ سره شپږسوو خوری شوېدی اودد هوېر غلو په هکله په ابتدا کښې داسې تصور کیدو چه گوندې سلطان محمود غزنوی هندوستان ته یوازې دمال دولت دلوټ کولو چه مقصد نیولی اوددغو حملو اساس یې په مادي گټو او استفادو ولاړ دی لیکن ډیر ژر د دغه خام تصور ترشا یو داسې روڼ حقیقت ځان ښکاره کړچه شروع کښې دهیچا په ذهن کښې دهغه وجود نشو احساس کیدلی .

«دافغانستان دنو میالې خوی سلطان محمود غزنوی یرغلونه په هندوستان باندې ددې سبب شول چه په هندوستان کښې دعلوموا وفنونو په ډګر کښې یوځل گندحرکت راپیدا شي اوددې وجه هم دا وه چه ددغه لوی سلطان په برکت دغزنی له خاوری څخه دعالمانو، پوهانو ، بزرګانو شاعرانو، خطاطانو ،نجومیانو اوهیئت پیژندو نکوډلې هند ته لاړې او هلته میشتې شې (۱)

«دحضرت سلطان محمود غزنوی سره دراغلو پوهانو په جمله کښې

(۱) عهداسلامی کا هندوستان دسیدرپاست علی ندوی: یف ۹۶ مخ اردوادیشن دکال ۱۹۵۰ چاپ

یو هم کړه او زبردست عالم بحرالعلوم علامه ابوریحان البیرونی ؤ چه په هند کښې دشو کالو او سیدلو په دوران کښې یې دهندي علوموا وفنونو مذهب او عقایدو ، کلتور اوجغرافیا پوره مطالعه وکړه اووروسته یې دخپلودغو معلوماتو په بنسټ دهند په باب مشهور او کتور کتاب ولیکلوچه کتاب الهند یا (تحقیق ما للهند) نومیږي (۱) اودسلطان محمودغزنوی لهو فات څخه اته نوده پس یې هغه تکمیل ته ور سوو. دلته مونږ دهندوستان دپاره ددغه لوی افغانی عالم دعظیموخدمتونو لنلډ کر داسنادو په رڼا کښې کوو .

دتاریخ یوه لویه سوضوع تر دی سر خطلاندی دې یلیدالجمعیت اردوورځپا نه(۱۹۸۲ع کال دجنوری په کڼه کښې لیکی:

«علامه ابو ریحان البیرونی دمحمود غزنوی سره هندوستان ته راغی اودلته یې دسا سکرت لوړ تعلیم حاصل کړ او دهند وانودمذهب دیره ژوره مطالعه یې وکړله .

البیرونی دهندوستان په باب یو لوی شاهکار د(کتاب الهند یا تحقیق ماللهند) په نوم تالیف کړ او دهغې په لیکلو یې هند و ستا ن ته والوته په حقیقی رنګ کښې وروپیژاند او د باندنی دنیاته یې هندی علوم ورمعرفی کړل.

که چیرته ابوریحان البیرونی هند وستان ته نه وای راغلی او کتاب الهند) دلیکلو موقع یې نه وه موندلی او په دی وسیله یې هندوستان کښې یو نوی انقلا ب مینځ ته نه وای راوستی داسی انقلاب چې ددغه ځای دلرغونو او سید و نکو جمو د اوبی حر کتی یی له مینځه یوړ لهاو د ژوندپه هره ځانګه او هره برخه کښې یې نوی احساس اوحرارت را پید کړنو بیا خو به دهندوستان دپار.دهغه شان ستر او مهم خدمت بلچا کړی وای؟

(۱) آب کوثرد شیخ محمداکرام تالیف ۷۳ مخ د۱۹۵۸طبع

قدرت دهند و ستان دپیدارې او وپښولو کار د کومو کسانو هغه اخستی دی. دادتاریخ یوه ډیره لویه موضوع ده (۱)

د آلمان پیاوړی او مشهور محقق عالم او پوه پروفیسر (سخاو) هغه سړی دی چه د لومړی ځل لپاره یې د علامه ابوریحان البیرونی شاهکار (تحقیق ماللهند) په آلمانی او بیا انګلیسی ژبه ترجمه او خپور کړ او لکه څنګه چه البیرونی خارجی نړی ته د هندی علوم و پیژندنی او معرفی په برخه کښی ستر خدمت کړیدی هغه شان (پروفیسر سخاو)

د تحقیق ماللهند د ژباړنی په واسطه د البیرونی د معرفی او پیژندګلوی په برخه کښی لوی او مهم کار سرته رسولی دی

پروفیسر سخاو پخپل کتاب (البیرو نیزانډیا) (۲) کښی د علامه ابوریحان په هکله لیکی:

(دسلطان محمود غزنوی په رکاب کښی هندته تلل ابوریحان البیرونی سفر په ظاهر کښی یو معمولی او عادی سفر و او کیدی شی چه دهغه شان زیات کسان او دعلم او فضیلت خاوندان دنړی له هر کوټ څخه هندوستان ته تللی وی لاکن طبیعت دا منلی وه چه ددغه عظیم انسان دا سفر دی دیوی عظیمی او لوی نتیجی حامل وی کومه نتیجه چه تر بل هرچا ښه او کتوره وه او هغه دالبیرونی په وسیله نوری نړی ته دهندی علومو، فلسفی مذهب او نورو علوم و معرفی او پیژندګلوی ده. (پروفیسر سخاو) پخپل کتاب کښی دی حقیقت ته اشاره کوی چه

---

(۱) دالجمعیت ورځپانه ۱۹۷۲م کال دجنوری د میاشتی ګڼه دډیلی چاپ.

(۲) دالبیرو نیزانډیا اردو اړیشن البیرونی کاهندوستان ۹۷ مخ دحیدرآباد دعثمانیه یونیورستی د کتابخانی مربوط د ۱۹۴۳ طبع.

ودا بوریحان البیرونی کتاب تحقیق ما للهند چه دهند وانودرسم او رواج، علومو، مذهب او فلسفی په باره کښی یې تخلیق کړیدی هغه دهند یانواو دهغوی دژوند دپېژند نی د باره بوه اعتمادی او داډور کونکی منبع گڼل کیږی البته دڅه ستر انسان په ژوندانه کښی نور زیات قیمتی کتابونه هم لیکلی دی چه هریویی ځانته ارزښت او اهمیت لری او په هریو کښی دالبیرونی عظمت له ورایه ښکاری (۱)

لری محقق او فاضل داکتر تاراچند عقیده ښکاره کوی او لیکی:

(علامه ابوریحان البیرونی دیولسمی پیړی په منځ کښی هغه وخت له غزنی څخه هندوستان ته راغلی وچه داسلامی حکومت ابتدا په هند کښی شوی وه.

ابوریحان چه دفضل او کمال خاوند دعلم او پوهی څښتن ، د صدق او صفا لرونکی او پو ه تقوی او با فضیلت انسان و هغه وخت دهندوستان دتهذیب رسم ور واج، فلسفی مذهب علومو او فنونو په باب یو عالمانه غټ کتاب و لیکلو چه داهمیت له کبله زمونږ ډیره دارزښت و ړ او پېژندل کیږی (۲)

پرو فیسر تاراچند وراندی وائی

(په حقیقت کښی دهندو انو دمذهب او عقایدو په اړونه په خلکو کښی ځینی غلط فهمی دپخوا څخه تر او سه را روانی دی لیکن دا یو ازی ستر پوه او پیاوړی عالم ابوریحان البیرونی وچه دهند یانو دفلسفی ،

(۱) دعلامه البیرونی دکتاب اردوا ژبهش (البیرونی کا هندوستان ۹۸ مخ دعثما نیه پوهنتون یونیورسټی دکتابخانی مربوط د ۱۹۴۳ چاپ .

(۲) اسلام کا هندوستان تهذیب پراثر چودهری رحم علی الهاشمی اردو ترجمه د آزاد کتاب گهر چاپ ۱۹۶۶ع کال

مذهب، عقیدی اوعلومو معرفی یی په د یرښه شان سره وکړله اودا

یولوی خدمت دی (۱)

داکترتاراچند لیکی :

(د لرغزنوهندوانودمذهب په اړوند پخپله په هندوانو کښی هم د را یی

اتفاق نه و سو جودخو دهند وانو غالب مذهب (هندوازم) و

اوالبیرونی دمخبرانو اوتحریری اسناد و په اساس داذکر راوړی

چه دد یوسالا لوسری دیوتا (خدایګی) وشنو یانراڼن واودشیو ذکر

ضمنی شوی و (۲)

(علامه ابوریحان البیرونی چه کوم معلومات لاس ته راوړی

وو نوهغه دخپلو برهمن استادانو سره یوځای شو له دی کبله قدرتا

هغه داومنله چه دهندوستان یعنی هندوانو غالب مذهب ویشنوی

ؤ او په دی لړ کښی چه البیرونی کوم تحقیقات کړ یدی کیدی شی چه

هغه ناځه مبالغه آمیزوی لیکن بی بنیاده نه دی اودپوره ارزښت او

اهمیت ور پوژندل کیږی (۳)

دیر تواسناد وله سخی په هندوستان کښی اسلامی تعلیم له پنځمی

پیړی څخه شروع کیږی ځکه چه په دی خاوره کښی مسلسل اسلامی

تاریخ په اصل کښی دغزنویانو له عهد اودوری څخه پیل شویدی (٤)

دغزنویانو دوره لکه څنګه چه د افغانستان دپاره یوه طلائی

دوره شمیرل کیږی هغه شان هند هم ددغه دوری تر سیوری لاندی دعلم او

---

۱ ـ اسلام کا هندوستانی تهذیب پراثر چودهری رحم علی الهاشمی

اردو ترجمه د آزاد کتاب ګهر چاپ ۱۹٦٦ ع کال کتاب ۱٦٥ مخ

۲ ـ ایضاد غه کتاب ۱٦٦ مخ

۳ ـ ایضا د کتاب ۱٦٦ مخ

(٤) عهد اسلامی کا هندوستان دسید ریاست علی ندوی

تالیف ۲٦٩ مخ

پوهې په پیلو پیلو اړخونو او ډول ډول څانګو کې پوره پرمختګ وکړ او په تیره د اسلامي تعلیم خو په کښې قوي بنیاد او اساس کېښود شو چه میوې یې د مسلمانانو خوله خوږه کړه.

سلطان محمود غزنوي چه هندوستان ته په د اخلید لو د اسلامي عالمانو، بزرګانو، شاعرانو او پیانو او پوهانو د پاره کومه لار پرانستې وه دغه لار د غزني او هند تر منځه کلونه او پیړۍ هغه شان خلاصه پاتې شوه او د غزنوي طلائي دورې د علم او فضل ورانګو هندوستان رڼاو ساتلو.

لوی انسان سلطان محمود غزنوي په ۴۱۳هـ کال کښې لاهور فتح کړ او خپل نومیالي او میړني ځوی مسعود یې د خپلې خوا د هغه ځای والي وټاکلو. د مسعود شا وخو اهم د پوهانو او عالمانو د لی ولاړې وی (۱) او د دغه ستر افغان د علم پرورۍ په برکت تولو د آرام او راحت ژوند تیراوه.

د سلطان محمود غزنوي د فتوحاتو په لوبه کته خو داده چه دغه نومیالي سلطان په لاهور کښې اسلامي حکومت تاسیس کړ (۲) او هرنګه چه دي پارته د غزني څخه ګڼ پوهان او د علم خاوندان راغلي او میشته شوي وو ځکه خو د دوی د فیض له سرچینې څخه دغه ښار هم خړوب او د دوی په برکت د اسلامي علومو او اسلام دین د خپریدو یو مرکز وګرځید. (۳)

---

(۱) عهد اسلامي کا هندوستان د سید ریاست علی ندوي تالیف ۹۶ ۳مخ

(۲) آب کوثر د شیخ محمد اکرام تالیف د لاهور طبع کال ۱۹۵۸-۷۱ مخ

(۳) همدغه کتاب ۷۲ مخ

«دغزنوی طلائی دوری نه صرف کښی په دی ښار کښی داسلامی عا
لما نو او پوهانو سخته تعطی وه(۱) او دګو توپه شمار هم څوك نه مونږ دل
کیدل لیکن دمحمود او مسعود له راتلو نه وروسته دومره ډلوی تحول او
بدلون منځ راغی چه په عقل او تصور کښی هم نشو ځایدی .
دغزنی د ستر سلطان محمود کبیر له وفات نه پس چه کله دهغه زوی میالی
څوی مسعود د پلار په مسند کیناست نو دده په وخت کښی اود هغه سلطان
په توجه او پاملرنه لاهور دعلم او کمال یو مهم مرکز جوړ شو(۲)
«دلوی غزنوی سلطان مسعود په وخت کښی یو مشهور بزرګ شیخ
اسماعیل (متوفی ۴۴۸) لاهور ته تشریف راوړ اودلته پاتی شو.ده
داسلامی متداولو علومو، تفسیر، حدیث او فقې یوه ډیره لویه ذخیره ځان
سره له غزنی څخه راوړه اود هغه په برکت او همت په لاهور کښی اسلا
می علومو نور هم پیشرفت وکړ (۳)
«شیخ اسماعیل مشهور او لوی عالم چه له غزنی څخه د مسعود په
وخت کښی لاهور ته راغی دستر و مفسرینو او محدثینوله جملې څخه و
دی لومړی سړی دی چه دحدیث او تفسیر علم یې لاهور ته له ځانه سره
راوړ(۴)
«سلطان محمود غزنوی دلومړی ځل لپاره دپنجاب سیمه دغزنی
دسلطنت پوری وتړله او هغه دغزنی د سلطنت د یوه ولایت په

(۱) دآب کوثر کتاب ۶۷ مخ
(۲) ایضاً دهغه کتاب ۷۳ مخ
(۳) عهداسلامی کاهندوستان دسید ریاست علی ندوی ۶۲۹ مخ
(۴) تذکره علمای هند تالیف رحمان علی د الملکشو ر چاپ کال
نامعلوم

غوره کړه(۱) او مسعود چه خپل ورور سلطان محمد ته بې دماتي ورکولو نه پس په (۴۲۱-۴۳۲ هـ) کښې په هندوستان هم خپله سلطه ټینګه کړه اوده هندد پاره بې دعلم او پوهې ډیوی روښانه کړې .

دا فغانستان دغه نومیالي اوعام دوسته پاچا دخپل پلار پشان تل دا هڅه او کوښښ جاري وساتلو چه پخپل دربار کښې لوی لوی پوهانو شاعرانو ادیبانو مورخانو او نجومیانو ته ځای ورکړی اوده هندوستان په نیولو ښارونو کښې عالمان دخپل رحم او کرم ترسیوری لاندې وساتي .

سلطان مسعود غزنوي پـو لایق اوذهین انسان وده نـه یوازې په هند کښې داسلامـي علومو اوفنونو د پیشرفت او ترقۍ دپاره لارې آوارې کړې بلکې دیـو خاص سیاست له مخې چه دسلطنت په چارو کښې دده دزیاتي هوښیار تیا بهترین ثبوت ګڼل کیږي هندوانو ته هم دحکومت په اداره کښې برخه ورکړه او څوتنه وفادار او تکړه هندوان یې پخپل پوځ کښې بـرتـې کړل اولوړې رتبـې یې ورته ورکړې چه دهغوڅخه سپه سالار ناتاو سپه سالار تلك چه پوره نوم یې سوبند رائی ود ذکراو یادولوړ دی (۲)

سلطان مسعود غزنوي په پوره لیاقت او پوهې داسلامي او افغاني کلتور جرړې دهندوستان په خاوره کښې وغزولي ان تردې اندازې چه دده په وخت کښې ددری ژبې دښه پرمختك او تصمیم وسایل په هند کښې برابر شول اودعربي ژبې ماهران او محققان ددی هیو اد په درشل ښې کښېنو دی .

---

(۱) عهدا سلامی کا هندوستان دسید ریاست علی ندوی تاءلیف ۸۲ مخ

(۲) ایضا دغه کتاب ۹۰،۹۱ مخونه .

(په پنجاب باندې دغزنوي سلاطينو دپنځوس شپېتو کالو دحکمرانۍ په دوران کښې په هغه ځای کښې دري ژبې هندوستاني شاعرانهم ډېر پېدا شول لکه عوفيچه پخپله تذکره کښې د هغو دپاره يو ځانګړی باب راوړېدی او ابوالفرج بن مسعود متوفی٤٨٤ ر وشېنی اومسعود سعد بن سلمان او روز به بن عبدالله لاهوري په خاص طور ياد ولو وړدی (١)

مسعودسعد سلمان په ٤٢٦ هـ- کښې سلطان مسعودهندوستان ته واستو اودمستوفي الممالك رتبه يې ورته ورکړه اودی په هغه ځای (پنجاب) کښې يو سرو پستلی او ممتاز سړی پېژندل کېدو (٢)

دمسعود سعد بن سلمان دغه امتياز هم په برخه دی چه هغه لو سړی شاعردی چه سر پېره په عربي او دري يې په هندي ژبه هم شعر ويلی او په دی ژبه کښې يې خپل ځانګړی اومستقل ديوان ياد ګار پريښودی دی چه دغه ديوان دعبدالقادر بدايوني ترزمانې پورې هم موجود ؤ (٣)

محمداسماعيل محدث چه مختکش ورته مونږ کوچنی اشاره وکړه هغه ستر عالم او پوه وه چه دسلطان مسعود غزنوي دسلطنت په وخت يعنې په درېيمه پنځه نوي هجري کښې لاهورته راغی او هلته پاتې شو.

تذکره علمای هند ددغه لوی عالم په هکله ليکي.

دمحمداسماعيل محدث از سادات بود که عهد سلطان مسعودغزنوي به آواخر سال سه صدو نود و پنج هجري به لاهور آمده متوطن شد ما هر علوم

---

(١) عهداسلامي کاهندوستان کتاب ٩٨ مخ.

(٢) دعهداسلامي کا هندوستان کتاب ٩٨ مخ او صناديد عجم دمولوي مهدي حسين ناصري تاليف ٧٦ مخ داله آباد طبع کال ١٩٠٧

(٣) عهداسلامي کاهندوستان دسيدرياست علی ندوي تاليف ٩٨ مخ

فقه وحدیث وتفسیر وجامع ظاهر و باطن بو د وی اول واعظان اسلام است که در لاهور به تذکرو موعظت لب کشاده واز تاثیر وعظ وی هزار ها کفار مشرف با اسلام شدند وی در سال ۴۴۸ هجری وفات یافته وبیرون بلد لاهور جانب جنوب مدفون گشت (۱)

د محمد اسماعیل محدث پشان بل اوی عالم او نومیالی بزرگ چه حتی له اسماعیل محدث نه هم ستر بوه او فاضل پیژندل کیږی او د سلطان مسعود غزنوی د سلطنت په دوران کښی پری د هند خاوره روښانه شوه او د غزنی د پاکی او علم پروری مخکی څخه هند وستان ته لار غله حضرت داتا گنج بخش و چه اصلی نوم یی شیخ علی بن عثمان هجو یری و چه د خپل وخت د علم او فضل د آسمان رون ستوری گڼل کیدو (۲)

د حضرت داتا گنج بخش بن عثمان هجو یري غزنوی د علم او پوهی او روحانی قوت نه په هند کی د یرخلك د یرخی خاو ندان شول او د ده مبارك په لاس په لاهور کښی گنو کفارو د اسلام مقدس دین قبول کړ چه په هغو کښی (رائی جو) چه د سلطان مودود غزنوی بن سلطان مسعود غزنوی له خوا څخه لاهور ته راغلی و (۳)

(رائی جو) چه د حضرت داتا گنج بخش بن عثمان هجویری غزنوی په لاس مسلمان شو وروسته د هند په اسلامی تو لنه کښی د لوی شهرت او پوره محبوبیت څښتن و گرزید او د شیخ هندی په نوم یادشو (۴)

---

(۱) تذکره علمای هند ۷۱ مخ د رحمان علی تالیف د نول کشور چاپ
(۲) تذکره علمای هند په ۹۰ مخ کښی د ده لوی عالم او فاضل نوم مخدوم غزنوی ذکر کوی.
(۳) آب کوثر د شیخ محمد اکرام تالیف د لاهور چاپ کال ۱۹۵۷ م - ۸۶ مخ
(۴) آب کوثر د شیخ اکرام تالیف اردو ادیشن

«حضرت داتا گنج بخش غزنوی دافغانستان دغزنوی او ددوری لوی پوه او ستر فاضل دغو کتابونو مصنف دی چه په دوی کبنی کشف الاسرار- منهاج الدین - البیان الاهل العیان دیادولو وذکر دی. هجویری غزنوی ددری ژبی یو خوږ شاعر هم تیر شو یدی چی په کلام کښی یی پوره حلاوت او گیرائی لیدل کیږی.»

په لاندی کرښو کښی مونږ دنوموړی ددری شعر یوه کوچنی خو په زړه پوری نمونه وړاندی کوو.

اشتیاقت روز و شب دارم دلا — عشق تو دارم نهان و برملا
جان نخواهم داد اندر کوی تو — گر سرا ازار ا یـد یا بـلا
سوز تو دارم میان جان و دل — میدهم از عشق تو هرسو صدا
دلبرا از تو همی خواهم بقا — کن تو آری و مکن هرگز تولا (۱)

دحضرت داتا گنج بخش مشهور کتاب کشف المحجوب دپروفیسر نکلسن له خوا هغه په انگریزی ژباړل شو یدی او دا په دری ژبه دتصوف په باب لومړی کتاب گڼل کیږی.

وائی دغه کتاب دحضرت بن عثمان هجویری غزنوی دخپل دوست او ملگری (ابوسعید) هجویری په غوښتنه او تقاضا چه هغه هم له غزنی څخه هند (لاهور) ته راغلی لیکلی ؤ (۲).

داراشکوه د کشف المحجوب په هکله لیکی:

«کشف المحجوب مشهور و معروف است و هیچکس را بران سخن نیست و مرشدی است کامل در کتب تصوف به خوبی آن در زبان فارسی تصنیف نه شده» (۳)

---

(۱) آب کوثر دشیخ محمد اکرام تالیف ۸۷ مخ اردو دایشو
(۲) ایضاً دغه کتاب ۸۸ مخ
(۳) سفینة الاولیاص ۱۶۴ دآب کوثر په حواله

تذکره علمای هند د حضرت داتا گنج بخش بن عثمان هجویری غزنوی په باب کښې وائي :

« نام شریفش علی مخدوم غزنوی است شجره نسب او با امام حسن بن علی رض منتهی میشود از اولیای متقدمین جامع علوم ظاهر و باطن عابد زاهد متقی مظهر خوارق و کرامات حنفی المذهب بود . علاوه مرشد خود شیخ ابوالفضل بن حسن ختلی با دیگر مشایخ کبار همچو ابوالقاسم کورگانی و ابو سعید ابوالخیر ابوالقاسم قشیری محدث صحبت یافته فواید کثیره حاصل کرده و در آخر از غزنی به لاهور آمده هنگامه فضیلت و مشیخت گرم نمود (۱)

په هندوستان کښې د غزنوي سلاطینو د علم پروری او فضیلت دوستی په برکت متر پوهان او مجاهدان پیدا شول چه ټولو په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د غزني له دربار سره رابطه درلوده او دغو په حقیقت کښې د هندوستان د اسلامي ټولنې ماهیت او موجودیت تشکیلولو او د راتلونکي وخت د پاره یې په دې هیواد کښې د زیاتو نورو اسلامي پوهانو او عالمانو د منبع ته راتلو وسائل برابرول .

په هند کښې د غزنوي سلاطینو د پوهانو او عالمانو په لړ کښې یو بل ممتاز او لوی پوه او کره فاضل شیخ ابو منصور بن علی غزنوی دی چه د پوهې او فضیلت او روحاني قوت خاوند بلل کیږي دغه متر او مشهور عالم په ۴۲٦ ه کښې سلطان مسعود غزنوی هندوستان ته را

---

(۱) تذکره علمای هند ۹۵ مخ د رحمان علی تالیف د نولکشور طبع کال نامعلوم

لیږلو او په لاهور کښې ئې د دیوان الانشاد د مشر ماموراو افسر په توګه وټاکلو (۱)

مونږ په ورانـدې ګړبو کښې د دې خبرې یادونـه وکړه چـه دافغانستان د غزنوی سلاطینو دوره د هند د وګړود پاره د معنوی ایض اوثمرسرچینه وه اوددوی د علم پروری او لفضیلت دوستـی په برکت په هند کښې داسلامی علوموا و فنونو او اسلام د دین د پیشرفت او ترقی امکانات منځ تـه راغلل او په دغه پراخـه خاوره کښې نورزیات اسلامی عالمـان او پوهـان وزیږید ل چـه تـو ل یـه حـقیقت کښې دافغانستان د غزنوی دورې او کورنۍ احسان مند پیژندل کیږی .

د محمود غزنوی او سلطان مسعود غزنوی نه ور وسته سلطان ابراهیم غزنوی او د هغه لمړی سلطان علاء الدین مسعود د هند د پاره د پوهانو، عالمانو ، شاعرانو او ادیبانو لوی د لی و روزلـی اد په در بارونو کښې ئې د دوی لپاره هر دول اسانتیاوې برابرې کړې .

په هند کښې د غزنویانو د طلائی دورې یو بل عظیم انسان لوی مجاهد او نومیالی حضرت سالار مسعود غازی رح نو میږ ی چه په حقیقت کښې د غزنـی د لوی سلطان ، محمود کبیر له خپلوانو څخه شمیرل کیږی لکه چه ابوالفضل په (ائین اکبری) کښې راوړ یدی :
(حضرت سید سالار مسعود غازی رح خو یشاوند سلطان محمود غزنوی است (۲)

---

(۱) عهد اسلامی کاهندوستان د سید ریاست علی ندوی تـالیف ندوة المصنفین چاپ ۹۹ مخ

(۲) عهد اسلامی کاهندوستان د ابوالفضل په حواله ۱۰۲ مخ

PROPERTY OF ACKU 1667

دغه شان محمد قاسم هندوشاه په تاریخ فرشته کښې دا ذکر کوي چه «حضرت سالار مسعود غازي از اقارب سلطان محمود غزنوی بود که درعهد اولاد سلطان غزنوی درسنه ۵۷۷ ه بدست کفار مقتول گردید.(۱)

دحضرت سالار مسعود غازي مور دحضرت سلطان محمود غزنوي خورده پلار یې د کندهار په لار اجمیرته راغلی و (۲)

دحضرت سالار مسعود غازي پلار سالارشاهو نومید وچه په ۴۰۱ ه (۱۰۱۰ ع) کښې اجمیرته تللی او کله چه سلطان محمود غزنوي د سومنات ذما تولو په مقصد هندوستان راغی نو سالار شاهو هم ورسره ملګری او له هغه وروسته سلطان محمود خپل خوریي سالار مسعود له خانه سره غزني ته بوتلو او سالار شاهو یي په هند کښې له خپلې خوا څخه په خدمت وټاکلو(۳)

حضرت سالار مسعود غازي دهندوستان اواوسنی پاکستان) دخلکو په نزد یوستر روحاني او مجاهد شخصیت تیر شویدی ځکه چه هغه د سلطان محمود غزنوي له خوا د یو سپیڅلي اسلامي خدمت د پاره هند ته راغی او دخپل پلار سالار شاهو په څنګ کښې یې دغزني د سلطان په حکم او هدایت دهمت ملا وتړ له اوو روسته دخپلو ملګرو سره دهند په بیلو بیلو سیمو لکه شیوپور، ملتان اوچچه، اجودهن دیلی، میرټه، سنبل، کنور، دباني، دونده هګره، بدایون، قنوج، کوپامنو، کانور، مهوبه، بلګرام، ملانوال او کرامانك پور کښې دپاڅې کفار و اسره مقابله

---

(۱) عهد اسلامي کا هندوستان دتاریخ فرشته په حواله ۳۰ مخ

(۲) ایضاً دغه کتاب ۴۵ مخ

(۳) عهد اسلامي کا هندوستان دسید وبارست علي ندوي تالیف

بول کړه او بیا دېرو خاېونو کښې بې دښمنانو ماتې ورکړه او هند راجکانو د دغه ټومبالي او جنګيالي مجاهد لاسه په اکثرو سيمو کښې د تسليمۍ چندۍ پورته کړې ليکن د ۴۲۴ هجرۍ کال د رجب په ۱۴ د لوت الظهر دغه رسيد وا ود هغه د زياتو ملګرو د تلف کيدلو په وجه سالار مسعود غازي هم د شهادت جام نوش کړ (۱)

اوس مونږ د تاريخ مګد ها ياد هندوستان د بهارد ايالت د مکمل تاريخ په حواله د حضرت سالار مسعود غازي لوی مجاهد او ټومبالي مبارزه په هکله يوڅو ټکي ليکو:

د تاريخ سالار مسعود غازي مخه (۲) داسې معلوميږي چه د سلطان محمود غزنوي له وفات نه پودوه کاله مخکښې د نو موړي سلطان له خوا يو لښکر د هغه د خوريي سالار مسعود غازي تر مشر تابه لاندې هندوستان راغی سالار مسعود د (ستر که) په مقام تم شو او له هغه ځايه په ختيزو سيمو وروخوت او هغه يې قبضه کړې زياتو هند راجکانو د سالار مسعود سره د مقابلې لپاره لاس يو کړ ليکن بيا يې هم ماتې ورکړه (۳)

سالار مسعود سره له دې چه هند ورا جکانو ته په ډېره بهادرۍ او لوی توب ماتې ورکړه اما تقدير داسې غوښتل چه دغه ټومبالي انسان دې هم په جګړه کښې شهيد شي.

د هند تر بهار سه پورې د سالار مسعود د لښکر رسيدل په هکاره

---

(۲) عهد اسلامی کا هندوستان سيد رياست علي لدوی تاليف ۱۰۰ مخ کتاب ۹۵ مخ

(۲) داسې ښکاريږي چه د سالار مسعو غازي په نوم کوم مؤرخ يو تاريخ هم ليکلی دی.

(۳) تاريخ مګده د مولوی فصيح الدين بلخي عظيم آبادي تاليف ۹۵-۹۶ مخونه دانجمن ترقی اردو دبلي چاپ کال ۱۹۴۳ ع ار دو اد يشن

دول منل شو يدی او داسی سیمه پاتحای نه ؤ پا تی شوی چه سالار مسعود غازی په کښی نه وی جنګیدلی او په کومو تحایو نو کی چی دلو سیالی سالار مسعود ملګری پو تحیان و ژل شوی دی هغه د (ګنج شیهدان) په نوم شهرت لری (۱)

تاریخ بهار دتاریخ آئینه اوده ۵۰۳ مخ په حواله وراندی لیکی چه:

(په تاریخ آئینه اوده کښی راغلی دی چه خواچه عماد خلجی په جګره کښی په ډیره میرانه دسالار مسعود سره ملګری ؤاو په جنګ یی وکړ. ددغه سری اولادتر او سه په بهر ایچ کښی شته دی اودا هغه تحای دی چه حضرت سالار مسعود پکښی ښخ شویدی (۲)

اوس په د حضرت سالار مسعود نومیالی افغان په باب دآب کوثر لیکنه وراندی کړو:

(په هندوستان کښی یومشهور زیارت دی چه د بهرایچ په ښار کښی واقع شویدی دغه د حضرت مسعود غازی مزاردی چه د میان غازی سالار یا بالا پیر په نوم هم شهرت لری.

---

(۱) تاریخ مګده د مولوی فصیح الدین بلخی عظیم آبادی تالیف دانجمن ترقی اردو دیلی چاپ کال ۱۹۴۴ع ۱۶ مخ. دتاریخ مګده ددغه تذکار هغه داسی څرګند یږی چه دغه پر څه لیکنه له تاریخ سالار مسعود غازی څخه اخیستی شوی وی ځکه چه خپله په پاورقی کښی داسی لیکی:

(خلاصه تاریخ سالار مسعو غازی ۵مخ تر ۱۲ پوری اود زیات معلومات دلاس ته ر اوړ لولپا ره باید مرآت مسعودی او تاریخ ملا محمد غزنوی ته رجوع وشی)

(۲) تاریخ مګدهیا بهار دمولوی فصیح الدین عظیم آبادي تالیف ۹۷ مخ اردو اډیشن

حضرت سالار مسعود غازی د سلطان الشهدا لقب گټلی دی او
هنگه چه هغه د هندوستان په لومړي شهیدانو کښې حسابیږی نو لوی
او خاص امتیاز هم د نورو شهیدانو په منځ کښې لری) (۱)
حضرت سالار مسعود غازی د سلطان محمود غزنوی خوریی ؤ او د کفارو
سره د زیاتو جگړو نه ورسته چه پلار یې هم په دغو جگړو کښې گډون درلود
د بهرایچ په سیمه کښې د خپلو ملگرو سره په ۴۳۰ م کښې شهید شو او سلطان
محمد تغلق د عقیدت له مخې د هغوی مزار په پوره شان او شوکت آباد
کړ خلك د حضرت سالار مسعود غازی مزار ته ډیر کرامتونه منسوبوی
او هر کال یې په مزار عرس کیږی (۲)
اوس مونږ د تاریخ جونپور په حواله د حضرت سید سالار مسعود
غازی په هکله څه مطالب وړاندی کوو:
« سید سالار مسعود غازی د سلطان محمود غزنوی په امر او
هدایت د اسلام د تبلیغ او جهاد لپاره له غزنی څخه هندوستان ته راغی
او اجمیر ته په وسیدلو یې لومړی د خپل پلار سالار شاهو سره ملاقات
وکړ او بیا یې د خپلو ملگرو سره په ښارونو ، ملتان ، اوچه ، جودهن ،
دهلی ، میرټ ، سنبهل ، قنوج ، کړه مانك پور ، بلگرام او ستر ك کښې
خپل تبلیغ او جهاد وپل کړ کوم ځای ته چه به دی په خپله نشو
رسیدلی ، هلته به یې خپل سپرنی ملگری د خپلو نمایندگانو په توگه
استول) (۳)

---

(۱) آب کوثر د شیخ محمد اکرام تالیف ۸۳ مخ د لاهور چاپ کال
۱۹۵۷ ع ۰
(۲) آب کوثر د شیخ محمد اکرام تالیف ۸۵ مخ د لاهور طبع کال
۱۹۵۷ ع .
(۳) تاریخ جونپور د حاجی سید اقبال احمد تالیف ۲۱۴ او ۳۰۹
مخونه ـ د جونپور چاپ کال ۱۹۶۳ م

(سید سالار شاهو د سلطان محمو د غزنوی دخور سره واده کړی و
په غزنی کښې بی په خوشګرو کښې هم دسلطا ن محمود سره ګډون
کړی و سید مسعود غازی رح په هغه وخت کښې چه دغزنی سلطان په
سومنات باندی برغل وکړ نودی هلته موجود واو بیاد غځل لوېمالی
ماما محمود غزنوی سره غزنی ته بیر ته لاړ اوچه کله شل کلن شو نو
هندوستا ن ته دجهادد پاره راغی ساك افضل چه دسالار مسعودغازی
یو ملګری او دمجاهد ینو یو تکړه مشرو دسید سا لار مسعود په هدایت
ظفر آباد ته راغی او دغه ځا ی دنیو لو څخه پس حضرت سید سالار
پخپله هم ظفر آ باد ته تشریف را وړ (۱)
«دغه شان سید سالار مسعود غازی دغزنی د پاچا سلطان محمودغزنوی
په امر په ۱۰۲۹ عیسوی کښې بنارس ته راور سید او د ملګرو په
مرسته یی داسلام تبلیغ اوجهاد شروع کړ چنانچه په مرآت مسعودی
کښې چی مؤلف یی عبد الرحمن چشتی دی حضرت سید سالار مشر مجاهد
دې وندانه د حالاتو په باب پکښې ډیر څه لیکل شو یدی او په دی
برخه کښې یوستند کتاب ګڼل کیږی (۲) تاریخ جو نپورد ګنج
راشدی څخه دملك ا فضل په باره کښې داعبارت اقتباس کوی :
(حضرت سیدسالار مسعود ملك افضل علوی را بطرف بنارس و
نواحی آن رخصت نمودند آنجا همه بدرجه شهادت رسیدندمقابر درآنجا
مشهورند» (۳)

---

(۱) تاریخ جونپورد سیداقبال تالیف ۹۱۲ او ۹۱۳ مخونه
(۲) تاریخ جونپور ۹۱۲ او ۹۱۳ مخونه
(۳) تاریخ جونپورد ګنج راشدی په حواله

تاریخ جونپور وړاندې لیکي .

(سید سالار مسعود ته مسلمانانو او هندوانو دواړه زیات احترام کوي مورخان ددغه نومیالي شخصیت او دهغه د روحاني قوت په باره کښې داذکر کوي چه :

سلطان محمد تغلق، دقنوج په پیدیا کښې دعین الملك له گرفتارۍ نه وروسته دنوموړي گناه معافکړه او له هغه ځایه بهرایچ ته لاړ مسعود غازي رح چه د سلطان محمود غزنوي دخورځوې او ستر مجاهد ؤ او په ٤٠٧ هجري کښې شهید شوی و دزیارت ودانۍ جوړه کړه او د مزار منجاور ا نو ته یې پوره زر او پیسې ورکړې)(١)

دویم روایت مؤرخان داسې ذکر کوي.

(په ٦٩٥ هجري کښې سلطان علاءالدین خلجي عزیزالدین دبنارس دحاکم په توگه وټاکلو ددغه حاکم په دوران کښې دیلنگ پیرهی دود جاري وچه هر کال به خلك د سید سالار مسعود دزیارت په مقصد بهرایچ ته تلل درود هولي دکلي چه په باره با نکي ضلع کښې پروت دی دسید جمال الدین نومی یوسړی لوڅه زهره نومیدله ژنده وه کله چه حضرت سید سالار (رح) یوه ورځ له هغه ځایه تیر یدلونو هلاریی خپله ژنده لوروزهره سید سالار مسعود ته راوستله د هغه سوپنځیالی مسلمان مجاهد په ډیرې عاجزۍ دخدای په دربار کښې د د عالامی پورته کړ او هغه پیغله پرور دگار بینا کړه پیغلۍ په دی وخت کښې وویل چه که چیرته ځما ستر گی بینا شوی نود هرچا شکل چه مې اول وکوت د هغه سره به واده کوم حضرت سید سالار دهغی پیغلی زارۍ او عذر قبول کړ لیکن وی وویل چه زه اوس د بهرایچ دجهاد په مقصد روان یم که چیرته ژوندی راوگرزیدم

---

(١) تاریخ جونپور ١٤ مخ د تاریخ فرشته په حواله ص ٢١٤

لوله تاسره په واده کړم خو سيد سالار بهرایچ ته د رسيدو سره سم د شهادت جام وڅښلو هغه پيغله چه زهره نوميده له ددی خبر دا وريدلو سره بهرایچ ته را ورسيدله او دسيد سالار روضه يی ودانه کړه او بيا په خپله هم هغه موده پس په هغه ځای کښی مړ ه شوه (۱)

په هندوستان کښی دغزنوی سلاطينو د پرنيضه دوری دستيرو افغانی النسل لوړ و شخصيتونو له جملی څخه يو هم ستر روحانی او علمی شخصيت شاه يوسف ګرديزی دی چی وروسته بيا دملتانی په نوم سره ياد شو. دغه عظيم انسان هم هند ته دافغانستان دپاکی خاوری قيمت بها تحفه ده چه د بهرام شاه غزنوی د حکومت په وخت کښی له ګرديز څخه چه د افغانستان يوه مشهوره سيمه ده ملتان ته لاړ او دکلونو کلونو روحانی خدمت نه وروسته وفات شو چه مزاريی هم په هغه ځای کښی دعاموخلکو مشهور زيارت دی (۲)

(شيخ عبدالحق محدث شاه يوسف ګرديزی د شيخ بهاالدين ذکريا معاصر ښودلی خو دخلکو درواياتو سره سم ددغه نوميالی شخصيت دزيږيدو نيټه ۲۶۳ هجری او دوفات تاريخ يی ۵٤۷ هجری ښايی دغه حضرت په ګرديز کښی زيږيدلی دی)(۳) او له هغه ځايه يی داسلامی خدمت دپاره ملتان ته تشريف راوړيدی .

داخبره دياد ولو وړ ده چه حضرت شاه يوسف ګرد يزی په ملتان کښی په اسلامی علومو کښی ډير شاګردان وروزل او دهغه په نومی

(۱) تاريخ جونپور ۹۱۵ مخ

(۲) آب کوثر دشيخ محمداکرام تاليف ۸۳ مخ دلاهور طبع دچاپ کال ۱۹۵۷ مخ

(۳) دغه کتاب ۸۳ مخ دلاهور طبع دچاپ کال ۱۹۵۷

وچی کښی بی د اسلام دسپیڅلی دین په ژبا تغیر و لوو کما رل او ددی کار نتیجه هم دیره څوره لاش ته راغله .

په هندوستان باندی دغزنوی سلاطینو دحکومت دوره نه یوازی دعلم او ادب او پوهی نظر څخه یوه دیره مهمه او له فیض نه دکه دوره حسابیږی بلکه دغه تسلط دهند په خاوره کښی دیو نوی کداو شریک کلتور د پنست د یره هم کیښنو دله .

ددغه نوی شریک کلتور او دا فغانستان څخه هند ته د اسلامی پوهونو دبهیر ورننو تلودغه نتیجه ورکړه چه دهندوانو تولنه دنو یو ذهنیتونو اوعقاید و په سیوری کښی د (بتا نوعبا دت) ته نوی نظر و کړی اوترزیات حده دغه اهمیت له نظره وغورځوی (۱) او د انسانی مساواتو عقیده قبوله کړی (۲)

برسیره په دی هغه هندوا ن چه هیڅکله ېې دمذهب په باب دچا نظر په له منله داسلام په رانلوبی د توحید دعقیدی مطالعه وکړه او زیاتو پوهو هندوانو هغی ته غاړه هم کیښوده او بی له کوم زوراو فشار څخه ېې هغه ومنله .

هغه هندوان چه تلا سه البیرونی دمتعصبو اوخود پسند و په نوم یاد کړیدی او دهغوی په نزدگویا ددوی د مقدس کتاب ویدڅخه غیر بل

(۱) عهداسلامی کا با هندوستان دسیدریاست علی ندوی تالیف ۱۸۳ مخ دلدوة المصنفین چاپ اردو اډیشن

(۲) تردی وخته پوری اوحتی له دی وروسته هندوان، منونومی عالم په څلورو طبقوویشلی او دذات له مخی ېې تقسیم کړی وو چه ویش شود ر کشتری او برهمن نومیدل .

آسمانی او الهامی کتاب ندوا و په خپلو پوهنو، علو یو، کلتور او روا یا تو باندی دومره نا زیدل چه له خان څخه سیوا یې نور عالم (نا وړه) تصور کوو او س د اسلام دین په اهمیت مطالعه کاوه. او هر مصنف به خپل لیك په بسم الله الرحمن الرحیم شروع کاوه (۱)

په هندوستان کښی دستر و اسلامی فتوحا تو سلسله په حقیقت کښی د محمود د غزنوی د یرغلو نو سره پیل شوه تر دی وخته پوری په هندوانو کښی د فارسی تعلیم رواج نه و لیکن په غزنوی دوره او عهد کښی په شمالی هندوستان کښی د هندوانو او مسلمانانو اختلاط په برکت فارسی ژبی په رواج و موند او په دی زمانه کښی پیاد لته د فارسی ژبی چه شاعران پیدا شول (۲) (ددی خبری له حقیقت څخه انکار نشی کیدی چه د افغان حاکم قوم د دغی علمی ژبی په عوامو باندی ضرور پر بوت او په همدی زمانی کښی یوه دامی نوی ژبه پیدا شوه چه وروسته د هند د مسلمانا نو او هندوا نو گډه ژبه جوړه شوه چه دغه ژبه هندوستانی یا اودوز په وه او ددی د سرپرستی او د پرمختک وظیفه او مسئولیت په شریکه د هند وانو او مسلمانانو په غاړه پروت و او په مسلمانانو کښی د هندی ژبی لومړی شاعر مسعود سعد سلمان حسا پیږی چه په غزنوی دوره کښی تیر شویدی او ده په هندی فارسی او عربی ژبو کښی دیوانونه درلودل. (۳)

---

(۱) ادبیات فارسی میں هندوون کا حصه د ډاکټر سید عبدالله تالیف ۳مخ د انجمن ترقی اردود پلی طبع گا ل ۲ ۱۹۴م

(۲) ایضا همدغه کتاب ۶ مخ

(۳) ایضا دغه کتاب ۶ مخ

دمحمودغزنوی اوغزنوی سیلاطینو دلښکر یانو په واسطه هندوستان ته دری ژبه هم ورغله (۱) او په دی دول په هغه هیواد کښی دیوی بلی نوی ژبی دایجاد او منځ ته راتلو اساس کښودی شو چه دغه نوی ژبه داردو ژبه وه چی وروسته پیاد هند د مسلمانانو د اکثریت ژبه وګرزیده.

واکمنواو حاکمو مسلمانانو د هندوانو سره په ګډه او شریك ژوندنوی کلتورد زیږیدو زمینه برابره کړه او دغزنوی افغانانو په ورتلو د دری ژبی زیات سوچه لغات او الفاظ په اردو او هندی، پنجابی، سندهی ژبو کښی ورګډ شول او په نتیجه کښی د افغانی سلاطینو له تسلط او قبضی نه پس د هند په خاوره کښی سوونه دری ژبی شاعران راپیدا شول چه د هغو له جملی نه به دافغانی النسل دری شاعرانو یوه برخه دامکان ترحده پوری په دی کتاب کښی پخپل ځای معرفی شی. په سندهی ژبه کښی د دری ژبی دلغاتو دموجردیت تصدیق د هند نامتو محقق او دارد وژبی ماهر د اکثر مسعود حسین په خپل مشهور کتاب (مقدمه تاریخ زبان اردو) کښی داسی کوی:

(سندهی د سند د سومرو او سیدو نکو ژبه ده د دغه ژبی ویونکی اکثره مسلمانان دی او په دی کښی د فارسی او عربی ژبی الفاظ په کثرت سره استعمالیږی (۲)

---

(۱) سرزمین هند د علی اصغر حکمت د کتاب پانلس برد د یلی پوهنتون د دری ادبیاتو د نصاب په کتاب کښی. خپرونکی محمد احمد خان - دجید پرس دهلی طبع کال ۱۹۲۸ ع.

(۲) مقدمه تاریخ زبان اردو د ډاکټر مسعود حسین تالیف ۲۲ مخ دعلی ګړ د سرسید بك د پو چاپ د طبع کال ۱۹۵۸ ع.

دغه شان په (هندیه) ژبه کښې چه په حقیقت کښې د اردو ژبې بنیادی او ابتدائی شکل دې د دری ژبې مخصوص تر کیبونه پخپلې اصلي بڼې داخل او یې له کوم بدلون او تغیر څخه و منل شول (۱)

دغزنوی سلاطینو د تسلط په وخت کښې په اجتماعی بهبود او ښیګڼې سر بیره د هند خلکو په تجارتي کارو بار کښې هم پوره پیشرفت کړی وه او د دغې بهبود په منظور د غزنی لوی سلطان محمود کبیر د زیاتی رواداری له مخې پخپلو کښې خپله سکه په هندی ژبه جاری کړه (۲) چه د دې په برکت د هند او غزنی تر مینځه سوداګری یو بنه رونق ومونده او د هند یانو د سوداګرانو او زیاتي آرامي سبب و ګرزیده.

غزنوی پادشاهانو په هند کښې د اسلام د تعلیم او زده کړې طریقه او سیستم بلکل بدل کړ او زیاتي مدرسې یې پخپله نظریه اواراده جوړې کړې او هم یې د پوهانو ادیبانو او شاعرانو ټولنې تاسیس کړې او په دې کښې یې د غزنی او هندوستان نوسیالي او پیاوړی کسان په کار او خدمت وګمارل.

دا یو ځلانده حقیقت دې چه د سلطان محمود غزنوی د یرغلونو په وجه نه یوازې د مسلمانانو په مخ د هندوستان دروازې په پوره ډول پرانستل شوې بلکه په اقتصادی، اجتماعی، پوهنې، سیاسي او مذهبي ډګرونو کښې

---

(۱) صنا دید عجم د مولوی مهدی حسین ناصری تالیف دالهآباد طبع د چاپ کال ۱۹۵۷ ع او ادبیات فارسی مین هندوون کا حصه ۳ مخ.

(۲) عهد اسلامی کا هندوستان د سید ریاست علی ندوی تالیف ۸۹ مخ اردو او پښتو د ۱۹۵۰ ع چاپ

هم زیات بدلون منځ ته راغی اوپو نوی او تازه ماحول د زوړ او لرغونی ماحول ځای ونیو (۱)

له دی خبری ځخه هیڅوک انکار نشی کولی چه د اسلام له راتلو نه پس د مسلمانانو او هندوانو ترمینځ په اجتماعی او مذهبی د ګرونو کښی تر زیاتی اندازی پوری اختلاط را پیدا شو او هندوانو په منظم او با قاعده ډول د اسلامی پاچانو په دربار کښی د ماموریتونو په توګه خدمت پیل وکړ (۲).

(دغزنوی پاچاهانو علم دوستی او عالم پروری او د دوی په وخت کښی د مدرسو او تصنیفاتو دمو جودیت ددی ستر حقیقت ثبوت دی چه د غزنویانو د تسلط په وخت کښی پنجاب کښی کتابخانی درلودی او له دی پلوه پنجاب د پیر غنی شوی ؤ) (۳)

(د تاریخ فرشته موءلف لیکلی دی چه سلطان مسعود غزنوی په هندوستان کښی په قبضه کړی ښارونو کښی دوسره پوهنځی او مسجد ونه آباد کړی او چه د هغو شمیر له بیان ځخه وتلی وه) (۴)

د دغی اسنادو په رڼا کښی د اروښانه او ځلانده حقیقت په ځرګند ډول لیدل کیږی چه غزنوی افغانانو د هند وستان په مدنیت کښی څومره

---

(۱) اسلام کا هندوستانی تهذیب پر اثر د د کتور تاراچند تاءلیف ۷۱ مخ د ډیلی دازاد کتاب ګهر طبع کال ۱۹۶۶ ع

(۲) ادبیات فارسی مین هندوون کا حصه د ډاکتر سید عبدالله تألیف ۱۳ مخ د انجمن ترقی اردو د ډیلی طبع ۱۹۴۲ ع

(۳) اسلامی کتب خانی د الحاج محمد زبیر تاءلیف ۱۸۰ مخ د ډیلی د مکتبه برهان طبع کال ۱۹۶۱ ع اردو اډیشن

(٤) ایضاء دغه کتاب اودغه مخ.

لویه برخه درلودی ده او دهندی ولس دپوهی او تعلیم اقتصاد او سیاست دبهبود او دخلکو دهوسایی دپاره یې څو مره کوښښونه کړی او کړ اوونه یې گاللی دی .

په تیر وکړ ښو کښې مونږ ولیدل چه څرنگه دغز نوی پاچاهانو په زمانه کې افغانانو دیو حاکم او مقتدر قوم په توگه دهندوستان په تاریخ کښې تر کومه حده پوری دخپلو مهمو او سپیڅلو خدمتونو له لاری برخه واخیستله او په هغه هیر اد کښې یې دیو ترقي خوښونکی اسلامی افغانی کلتور بنسټ کیښود او په را تلو نکو کلو نو او پیړ یو کښې نورو پیاوړ و او نومیا لو افغانانو په دغه تهداب بانوی داسی اوچتې او دنگې ما نۍ جوړې کړې چه نه یوازی دافغا نستا ن درا تلو نکی نسل دپاره دویاړ نې او افتخار یادگارونه وی بلکه هند یان هم دا حق ولری چه په هغو ونازیږی .

اوس مونږ دغز نویانو دطلائی دوری څخه پښته اړ وو او دنورو هغو مشهورو افغا نی کور نیو ذکر کړو چه دهندپه تاریخ او مدنیت کې یې ستره برخه درلو دې او لوی نوم یې گټلی دی .

دوم څپرکی

هندوستان دغوری افغانانو په وخت کښې

دافغانستان دغزنویانو دطلائی دوری څخه وروسته دهند په ارته او پراخه خاوره باندیوی بلی پیاوړی اونومیالی افغانی کورنی حکومت شروع کړ چه دنړی په تاریخ کښې دغوری افغانانو دستر نوم په نوم سره یاده شویده .

غوری کورنی په حقیقت کښې دویمه افغانی کورنی ده چی په هندوستان کښې یی دچارو واګی په لاس کښې واخستل لیکن دغوریانو او غزنویانو په منځ کښې یولوی اومهم تو پیر لیدل کیږی په دی معنی چه په هندوستان کښې په مستقل اوخپلواك ډول غوریانو داسلامی سلطنت اساس کیښود اوسلطان شهاب الدین غوری دهندوستان داسلامی سلطنت بانی اومؤسس ګڼل کیږی (۱)

---

(۱) آب کوثر دطبقات ناصری دانګلیسی ترجمی په حواله چه میجر راورتی کړیده لیکی چه ددغه سلطان اصلی نوم محمد ؤ او په تخت باندی دکیناستلو نه وروسته یی د معزالدین لقب اختیار کړ ځکه چی دسلطان شهاب الدین صحیح نوم باید سلطان معزالدین محمدغوری اوسی لیکن څنګه چه دشهزادګی په وخت کښې هغه دشهاب الدین په نوم یادیدلو اوده دهند داکثروسیمو فتوحات په همدغه زمانه کښې کړیدی چه دی لاشهزاده اودخپل مشرورو سلطان غیاث الدین غوری نائب ؤ په دی وجه خوپه ځینو تاریخونو کښې دی دشهاب الدین غوری په نوم یادیږی .

په زنومیالی او بیا وری افغان غوری سلطان معز الدین محمد غوری ۱۱۷۵ عیسوی کښې د هند په خاوره کښې (اوچه) او ملتان فتح کړل او وروسته یې په لاهور هم قبضه وکړه او بیا یې بټنډه و نیوله چه دیوی مضبوطې کلا حیثیت یې درلود او په دی سیمه کښې یې له خپلې خوا حاکم مقرر کړو (۱)

سلطان معزالدین محمد غوری د هند په خاوره کښې خپلو فتو حاتو ته په دی ډول دوام ورکړ چه د قنوج او بنارس له نیولو نه وروسته یې ډیلی، اجمیر، بهار، بیانه او بنګاله هم قبضه کړل د بنګال راجا لکشمن سین تو میدو چه د محمد غوری سره له مقابلې څخه ډیر و تښتید او ند یا یا هم د افغانی سلطان لاس ته ورغله او بیا یې ګوریا لکهنوتی خپل پایتخت وټاکلو او خطبه د محمد غوری په نوم ولوستل شوه (۲)

د شمالی هندوستان د جګړو په لړ کښې چه د هندو انود مشهور راجا پرتهوی راج سره وشوی سره له دی چه د پرتهوی راج سره راجپوت راجګانو او قومی مشرانو هم ملا تړلی وه لیکن سره د دی هم د غوری سلطان په میړانه هغه تر لوته ماتی ورکړی شوه او کامله فتح د افغانی سلطان په برخه شوه (۳)

د هندوستان په خاوره کښې د شاندارو کامیابیو او بریا لیتوبونو

---

(۱) تاریخ هند د مولوی ذکا الله تالیف څلورم توک د نولکشور طبع د ۱۹۴۳ طبع

(۲) هستری اف انډیا دد ته او سرکار تالیف داګری طبع ۱۸٤ مخ دچاپ کال ۱۹۹٦ ع

(۳) آب کوثر د شیخ محمد اکرام تالیف ۱۰۳ مخ د لاهور طبع د چاپ کال ۱۹۵۸ م اردو ادیشن

او په دی هیواد کښی د اسلامی سلطنت د تهری ایښوذ او نه وروسته په ۱۱۹۳ عیسوی کښی سلطان شهاب الدین غوری بیرته د غزنی خواته حرکت وکړ او په هند کښی یی خپل یو بومحی افسر قطب الدین ایبك د نائب په توګه وټاکلو او دغه افسر د خپل پاچا شهاب الدین محمد غوری د فتوحاتو سلسله جاری وساتله او په نیواوسیدمو کښی یی پوره انتظام په ځای کړ (۱)

په ۱۲۰۶ عیسوی کښی د کوکهرون قبیلی د بغاوت آواز پورته او په مسلمانانو یی ظلم شروع کړ . سلطان شهاب الدین غوری د دی بغاوت دغلی کولود پاره هندوستان ته راغی او دغی یاغی قبیلی ته یی له ماتی ورکولو نه پس بیرته د غزنی په لور حرکت وکړ لیکن د جهلم په غاړه دیو سړی له خوا یی رحمانه شهید کړی شو (۲)

د طبقات ناصری مولف په دی باره کښی لیکی .

(شهادت آن پادشاه در تاریخ شش‌صدودو بود . همدرین سال اول قیامت علامت ظاهر شد و آن خروج چنگیزخان مغل بود و خروج ترك پس معلوم شد که آن پادشاه در دنیا در بند محکم اسلام بود چون او شهادت یافت در قیامت باز شد (۳)

(سلطان شهاب الدین غوری افغانی د هندوستان د اسلامی سلطنت په تاریخ کښی دیو فوق العاده ارزښت او اهمیت څښتن دی . دغه

---

(۱) آب کوثر د شیخ محمد اکرام دا گری چاپ کال ۱۹۶۰ ، ۱۰۴ مخ
(۲) ایضاد غه کتاب ۱۰۵ مخ
(۳) آب کوثر د طبقات ناصری په حواله .

نومیالی افغان په هندوستان کښې د پراخه اسلامي سلطنت مؤسس اوباني دی (۱)

سلطان شهاب الدین محمد غوري په کال ۵۴۲ هجري کښې د افغانستان په غور کښې زیږیدلی او په ژوند کښې یې لوی نوم ګټلی دی. د هندوستان خاوره کښې دده داسلامي سلطنت حدود له پیښور څخه تر بنګال پورې رسیدلي وو (۲)

د دغه نومیالي سړه وفات په دامی و خت کښې پیښ شوچه په هندوستان کښې د اسلامي سلطنت دلازیاتي پراختیا دپاره دده وجود ته ډیر ضرورت احساس کیده او د سلطان شهاب الدین غوري شهادت د ده اسلامي سلطنت ته ستره صدمه ورسوله. د دغه افغان په هکله د ځینو پوهانو نظریات په لاندې ډول دي :

(سلطان شهاب الدین غوري د هند په تاریخ کښې یو عظیم شخصیت دی. دی پولایق مدیر زیرك او بها درسلطان ؤ چه په ژوند کښې یې لوی کارونه سرته رسولي دي د دي جملې نه دهندوستان داسلامي سلطنت تاسیس دی (۳)

(سلطان شهاب الدین محمد غوري یوعلم دوسته، هوښیار او لایق پاچاؤ دده دسلطنت انتظام ډیر اوچت اودلوړ وخیالاتو خاوند انسان ؤ دهندوستان له فتحې څخه دهغه مقصد ددولت ټولول نه وو بلکه دده

---

(۱) عهد اسلامي کا هندوستان دسید ریاست علي ندوي تألیف ۱۰۷ مخ دېټنې دادارة المصنفین چاپ کال ۱۹۵۰ ع

(۲) عهداسلامي کا هندوستان دسیدریاست علي ندوي ۱۰۹ مخ

(۳) هستري اف انډیا لومړی توك ۱۸۶ مخ د پروفیسر مکرجي تاءلیف دکلکتې طبع کال ۱۹۵۲ م

اصلی او مهم مقصد دیو قوی او مضبوط پراخه اسلامی سلطنت منځ ته راوړل وو اودی پخپل دغه ستر مقصد کښی بریالی هم شو) (۱)

(سلطان شهاب الدین غوری دمحمود کبیرپښان یو عظیم انسان ؤ چه د ښو صفتونه یی د زړلو دل هنه د پوهانو قدر کونکی، فیاض، نیاومن اوعادل او له خدای نه بیریدونکی سلطان پیژندل شوی دی.

دی دسلطان محمود غزنوی غوندی یوقوی پوځی سپه سالار نه ؤ لیکن سره له دی یی فتوحات له هغوی نه زیات اومنظم اوتر زیات وخته پوری ثابت پاتی وو او په دی برخه کښی یی زیاته کامیابی لاس ته راوړی وه (۲)

(سلطان محمدغوری په هندوستان کښی دخپلواک اسلامی سلطنت بنسټ ایښود و نکی دی. دی د هند د تاریخ یو نومیالی او پیاوړی شخصیت گڼل کیږی چه دمسلمانانو د پاره د لویو فتحو او کامیابیو حاصلؤ یومهربان اویو معتدل انسان ؤ (۳)

(دسلطان شهاب الدین غوری په یادگار ونو کښی یو مهم یادگار چه دده لوړ اخلاق اواوچت کردار معرفی کوی دده سکه ده چه په هندی ژبه پری عبارت لیکل شوی او په څینو سکو خوددغه ستر سطان دنوم

---

(۱) گلیمپسس فرام انډین هستری دریم چاپ دډاکتر بی ام شرما تاءلیف دلکهنو طبع کال ۱۹۴۷ ع اردوایډیشن

(۲) اهل هندکی مختصر تاریخ دډاکتر تاراچند تاءلیف ۱۸۲ - ۱۸۳ مخونه دډیلی داردو اکادیمی چاپ کال ۱۹۶۸ ع

(۳) هستری اف انډیا دپهاتیه تاءلیف ۲۰۸ مخ دجلندرچاپ کال ۱۹۵۹

سره دپر تهوی راج نوم هم ایکل شویدی په داسی حال کښی چی پرتهوی راج دده سخت دښمن تیر شویدی (۱)

دده نومیالی سلطان لوی صفت اودستاینی و ر امتیاز دادی چه په هندوستان کښی دده فتوحات په هغه زمانه کښی پیل شول کله چه دافغانستان په تخت باندی دنوموړی وروړ سلطان غیاث الدین غوری ناست ؤ اومحمد غوری دهغه نائب اوسپه سالار ؤ که چیر ته محمد غوری دخود مختاری هوس در اودی نو په غصه شوی وای نودده لپاره دپاچاهی دبیرغ اوچتول څه گران کار نه ؤ لیکن محمد غوری هیڅکله دغه کار ونکړ اودیو اصیل افغان او وفادار جرنیل او گران وروړ په توگه بی خپله دنده سرته ورسوله او تل یی دخپل وروړ دمرتبی او مقام احترام وکړ (۲)

(دسلطان شهاب الدین غوری لوی شرافت داؤ چه سره له دی چه دده مشر وروړ سلطان غیاث الدین غوری هیڅکله هندوستان ته سفر ونکړ لیکن محمد غوری په ملکی او نظامی کارونو کښی دخپل پاچا وروړ غیاث الدین غوری خیال و ساتلو او دهغه دحکم اوامر سره سم یی خدمت وکړ حتی په جگړ و کښی یی څینی قیمت بها تحفو لکه د قنوج دواکمن بنکلی آس هم خپل وروړ ته پیشکش کړی او په قطب مینار باندی چه دهندا ودیلی دپاچاهانو کوم فهرست کیندل شوی دی په دی کښی تر ټولو لوی نوم دسلطان غیاث الدین غوری دی چه د

(۱) آب کوثر دشیخ محمد اکرام تالیف ۱۰۸ - ۱۰۹ مخو نه د لاهور طبع کال ۱۹۵۸ ع

(۲) ایضا دغه کتاب ۱۰۹ مخ

سلطان شهاب الدین غوری ستر اوشریف انسان په دواسطه کیندل شویدی (۱)

(سلطان شهاب الدین غوری یوایماندار، متقی، دیندار، بهادر، انصاف خوښونکی او زړور عدل پرور پاچاؤ درعیت سره یی ډیرنیک سلوک کاوه اودوی سره هره معامله به یی په ډیر انصاف حل کوله.

دغزنی قاضی به په هره هفته کښی دشنبه څخه ترسه شنبه پوری څلور ورځی ددغه سره ناست او په کله به یی دخلکو په شکا یتونو غور کوو اوکه چا په دسی لاری نه چارو تلل غوښتل نو په خپله به یی هغه معامله محاکمه ته راغوښتله اود شرعی احکامو سره سم به یی حکم جاری کولو ځکه چه هغه خپله دعلم او پوهی خاوند ؤ پوهان اود فقه شریفی عالمان به په باقاعده ډول دهغه په غونډی کښی حاضر وو او به تولوغونډو کی یی گډون کاوه (۲)

(سلطان شهاب الدین غوری شافعی مذهب درلود، دتفسیر کبیر صاحب، امام فخرالدین رازی ددغه سپیڅلی مسلمان پاچاډیر نژدی دوست واوده په پوره او کامله عقیده دهغه سره پیش آمد کاوه په هغه کښی یوه ورځ ددغه افغان پاچا په شاهی غونډه کښی به وعظ اوریدل کیدوا وحتی کله کله به په دغه روف اومهربانه سلطان

---

(۱) آب کوثر ۹۰ مخ.

(۲) عهد اسلامی کاهندوستان دسید ریاست علی ندوی تالیف ۱۱۱ مخ دندوة المصنفین چاپ کال ۱۹۵۰ ع

با ندې دامام فخر رازي بيان دومره تاثيرا چولوچه بې اختياره به هغه په ژړا شواو زړې سلګی به بې شروع کړې (۱)

(محمد غوری يونوميالی او پياوړی پاچاوچه يوازينی هدف بې په هندوستان کښې دمسلمانانو دپوره سلطې ټينګول وځکه خودی په اصل کښې داسلامی سلطنت موسس او بانی ګڼل کيږی. ده دخپل دغه هدف دلاس ته راوړ لواود مسلمانانود قوت زيا تولود پاره ډير ستر خدمتونه سرته ورسول او خپل ټول قوت او طاقت يې پدې لار کښې په کار واچوو محمد غوری داوړ وصفاتو لوو نکی وڅه و فاداری دهغوله جملی څخه وه) (۲)

(د افغانستان دغوری کورنی دغه پياوړی اومشهور پاچا چه په ډيلی کښې ورته داوسيد ولړه موقع په لاس ور غله خوسره ددی هم داخبره څر ګنده ده چی دده دخلکو د تعليم اوهوسايني فکرد ځانه سره در لود او تر کالی اندازی پوری يې عدل او انصاف په ځای ساتلی او په يوزلو باندی بې دظلم دروا زی تړلی وی (۳).

(دهندوستان مسلمانان به د تل د پاره دغوری د کورنی دنوميالی ميره شهاب الدين محمد غوری احسان په سر کښې لری چه ددوی د پاره يې ديو قوی او ستر اسلامی سلطنت بنياد کيښود (٤)

---

(۱) عهد اسلامی کا هندوستان دسيدر ياست علی ندوی تاليف ۱۱۱ مخ دپټنی طبع کال ۱۹۵۰ ع

(۲) ګوالين هستری اف انډ ياد ويشوا نات او جګن نات اليف ۱۳۷ مخ دجلندر چاپ کال ۱۹۶۱ ع

(۳) مسلم رول آن انډياد ايشوری پرساد تاليف ۱۸۳ مخ دکلکتي چاپ کال ۱۹۵٤ ع

(٤) سمپل هستری اف انډ يادسی ای پر کهورست تاليف دسيکه ميلان طبع کال ۱۹٦٤ ع

(د سلطان معزالدین محمد غوری دوفات له کبله چه اسلامی هندوستان ته کوم نقصان ورسید هغه دبیان څخه وتلی دی لکن ددغه نومیالی له برکته ددی هیواد په شمالی برخه داسلام جنډه پورته شوه او هم وروسته ددغه شاه اورا تلونکی کاردده پیاوړو پوځی افسرانو لکه قطب الدین ایبك ومحمدبن بختیار خلجی والتمش، ناصرالدین قباچه او نوروته چه دغه سلطان پخپله تاکلی او منتخب کړی وو پاتی شو(۱)

دافغانستان دغوری دکورنی داوی سلطان شهاب الدین غوری دوفات تاریخ مولوی شیرالدین خان کسارد هلوی پخپل مهم اثر (واقعات دارالحکومت دهلی) کښی داسی قید کړیدی:

شهادت ملك بحروبر معزالدین
کز ابتدایی جهان مثل او نیا مدیك
سوم زغرهٔ شعبان بسال شش صدو دو
فتاده در ره غزنی به منزل دمیك

دمیك هغه ځای دی چه دغه افغانی ستر شخصیت هلته وژل شویدی (۲)

---

(۱) آب کوثرد شیخ محمد اکرام تالیف ۱۰۶ مخ دلاهورچاپ کال ۱۸۵۸ ع اردواړیشن

(۲) ددمیك په باب کښی هم نظریات یوشان ندی . تاریخ فرشته دغه نوم برمهیك لیکلی اووائی چه داځای دنیلاب دسیند په غاړه پروت ؤ او نیلاب په دی کښی د سیند هم د سیند مشهور نوم دی خو ابن اثیر او ځینی نور تاریخونه دسیندنوم جحون لیکی چه داد لاهور او سیند هم په منځ کښی ندی واقع بلکی د افغانستان د شما لی سرحد په څنګ کښی پروت دی اومولوی سیدها شمی فرید آبادی په تاریخ هند لومړی توك کښی ذکر راوړی چه په دی وخت کښی غوری سلطان له جهلم څخه تیریدو. ځینو دغه نوم دد همك په بڼه هم لیکلی دی (عهد اسلامی کا هندوستان ۱۲۲ - ۱۲۳ مخونه)

دسلطان شهاب الدین غوری د قتل په هکله نظریات ډیر مختلف دی لیکن غزنی ته دهغه د جنازی وړلو په برخه کښی دنظر او قول یووالی لیدل کیږی (۱)

په دی ډول دافغانستان نومیالی خوی دزیاتو کامیابیو او په هندوستان کښی دلومړی اسلامی سلطنت له تاسیس نه پس خپل مړی خپل گران هیواد ته ورسوو او په دی ځای کښی خاور وته وسپارل شو. لکه څنگه چه په لومړی څپرکی کښی و لیدل شول چه د افغانی غزنویانو راتگ هندوستان ته او په هغه هیواد کښی دهغوی د حکومت او اقتدار دوره دهندی ولس دپاره د اسلام په رڼا کښی زیاتی علمی، اجتماعی او سیاسی کامیابی ارمغان کړی او په هره خوا کښی دعلومو او فنونو بنیادونه کیښودل شول . د غه شان د افغانستان د غوری کورنی نومیالو افغانانو هم د هند په خاوری کښی سر بیره په اسلامی سلطنت دعلومو او فنونو د ترقی او پرمختگ په لاره کښی ستر خدمتونه سرته

(۱) په فتوحات فیروز شاهی کښی راغلی چه دشهادت نه وروسته دسلطان سلگرو دهغه مړی منزل مقصود یعنی غزنی ته ورسوو او(دری فتحی) ۳۱ مخ دایلیټ ژباړه هم داخبره تصدیق کوی. تاریخ فرشته په دی هکله لیکی .

القصه بتاریخ بیست ودوم شهرشعبان محفه سلطان شهاب الدین را به غزنین رسانیده در حضیره که برای دختر خود ساخته بود دفن کردند تاریخ فرشته ۶۰ مخ .

مولوی بشیرالدین دهلوی په واقعات دارالحکومت ډهلی ۳۴ مخ کښی لیکی چه دشعبان په ۲۲ نیټه دسلطان جنازه غزنی ته انتقال شو.

واقعات دارالحکومت دهلی داگری طبع د چاپ کال ۱۹۱۹ ع

ورسول او زيات پوهان او د فضيلت خاوندان يې د خان سره له افغانستان نه هندته بوتلل .

دادی اوس مونږ دسلطان شهاب الدين غوری د سلطنت په دوره کښې هندته د دغه نوميالی پاچا سره د تللو عالمانو او پوهانو نولنه ذکر راوړو و غوښو د دې باره کښې دمدعا د ثبوت دپاره کافی دلايل موجود او سی او دا ښکاره کړو چه دغه سلطان دعلمی مرکزو نو د جوړولو دپاره ترکومی اندازی پوری خدمت کړيدی .

(دغزنی په دربار کښې گڼ پوهان اديبان ، شاعران او محققان موجود وو چه د هغو له جملی څخه څينې دعلم او فضيلت خاوندان دافغانستان دلوی سلطان شهاب الدين محمد غوری سره هندوستان ته تشريف راوړ او دعلم او عرفان دخدمت لپاره په دې هيواد کښې پاتې شول) (١)

له دغو پوهانو او عالمانو څخه يو هم نوميالی او مشهور عالم سيد کمال الدين عثمان ترمذی وُ چه سلطان شهاب الدين غوری د خان سره هندوستان ته راوست دغه عالم په کتهيل کښې هستوگنه غوره کړه او دسلطان په هدايت يې دعلم او پوهې خدمت ته ملا وتړله او وروسته په کال ٦٠٠ کښې وفات شو چه د فيضی له سرچينې څخه يې ډير کسان او ډيری سيمی خړوبې شوی)(٢)

---

(١) عهد اسلامی کا هندوستان دسيد رياست علی ندوی تألف ١١١ او ١١٢ مخونه د پټنې طبع کال ١٩٥٠ ع

(٢) ايضا دغه کتاب او دغه مخونه

پەدی لړ کښی د سلطان شهاب الدین غوری سره هند ته راغلی بل لوی عالم او کره یوه شیخ سراج الدین محمد بن عثمان جوزجانی دی چه د فقه اصول او دینی علومو لوی استاد ؤ او خلکو ته یه یی زده کړه کوله.

دده نومیالی تەپه کال ۵۸۳ کښی د سلطان شهاب الدین له خوا یوه عسکری وظیفه ورکړی شوه. منهاج سراج د طبقات ناصری مؤلف د دغه لوی عالم ځوی دی. په طبقات ناصری او لباب الالباب کښی راغلی دی چه هغه د سلطان شهاب الدین غوری افغانی د سفیر په توگه د خلیفه ناصرالدین الله خدمت ته هم استول شوی ؤ او د دیر ته راتگ په لاره ۵۹۰ کښی په مکران کښی وفات شو) (۱)

په دی دول بل مشهور عالم چه د شهاب الدین غوری په وخت کښی په خدمت و گمارل شو هغه شیخ خطیر الدین محمد بن عبدالملک جرجانی ؤ چه د عوفی د بیان له مخی دده په وخت کښی په علم، پوهی، زهد او تقوی کښی بی مثال او ساری بی نه ؤ) (۲)

(شیخ نورالدین مبارك بن عبدالله حسینی غزنوی هم هغه ستر او مشهور عالم ؤ چه د سلطان شهاب الدین په وخت کښی د قدر و ر انسان پیژندل کیدو. دی په غزنی کښی زیږیدلی او د خپل سالار شیخ عبدالواحد بن شهاب احمد غزنوی څخه زده کړه کړی وه چه سلطان شهاب الدین غوری په د جگړ و په وخت کښی له هغه څخه د دعا اخیستله.

نومیالی افغان پاچا سلطان معزالدین محمد غوری د غه ستر عالم ته د شیخ الاسلامی منصب ورکړ او بیا هندوستان ته راغی او

---

(۱) عهد اسلامی کا هندوستان

(۲) ایضا دغه کتاب

دشمس الدین التتمش تر حکومت پورې هلته پاتې شو. دی په ۳۲ - هجري کښې وفات او په ډیلي کښې خاورو ته وسپارل شو)(۱)

(دحضرت قاضي حمید الدین محمد بن عطا ناګوري پلار حضرت عطاء هم دهغو مشایخو او پوهانو په ډله کښې حسابیږي چه دسلطان شهاب الدین غوري سره یې هندوستان ته تشریف راوړی او دهغوی خدمتونه یې سرته و رسول) (۲)

په دې ډول که موږ دافغانستان ددغه پاچا ورې وعلم دوست پاچا سلطان شهاب الدین غوري په دوره کښې هند ته د ټولو افغاني الاصل پوهانو، مشایخو او عالمانو لیږه وکړ و نو بې له شکه ګڼو او بشمارو او کسانو ته به ددوی شمیر ورسیږي.

(دهندوستاني تمدن په ارتقا کښې دمسلم پاچاهانو فتوحاتو رول ډیر مهم ګڼل کیږي دمسلمانانو په راتګ او د اسلامي سلطنت د تاسیس په برکت په دې خاوره کښې یو نوی تهذیب وزیږیدا او نوی ژوند شروع شو دې په اثر نه یوازې په هندو مذهب هندو آرټ، هندوادبیاتو او هندوسائنس کښې تبدیلي راغله، بلکه هند و ذهن او هند و روح او تمدن کښې هم ژوره تبدیلي راغله.

دهندوستان د تعمیر په فن کښې اسلامي رنګ او ښې ځانګړنه کړاو په مصوري کښې و رسره یو ځای یو نوی او حرکت راپیداشو.

---

(۱) عهد اسلامي کا هندوستان د سید ریاست علي ندوي تالیف ۱۴۵ مخ

(۲) ایضاً دغه کتاب ۱۴۶ مخ

دهند پاچاهانو دژوندانه په هر اړخ او هره څانګه باندې د مسلمانانو دومره اثر پرېوت چه بیان یې مشکل ښکاري) (۱)

څنګه چه تاسو ته د وړاندې ورته دا خبره ثابته کړه چه په هندوستان کښې د اسلامي سلطنت د تاسیس افتخار افغانانو ته په تېره بیا دافغانستان دغوري پاچا سلطان شهاب الدین ته په برخه دی او هم د اسلامي تاریخ اساسي شروع د غزنویانو له وخت څخه شویده ځکه خو د هند په خاوره کښې د مدنیت او تهذیب انقلاب افغانانو راوستی دی نه بل هیواد او بل قوم .

دهند تاریخ ته په یو سرسري نظر دا خبره ثابتیدی شي چه دهند په خاوره کښې افغاني پاچاهانو د سوونو کالو د اقتدار او حکومت په وخت کښې دهند یانو د پاره دژوند په بیلو بیلو اړخونو او د علم او پوهې په ډګر کښې د قدرو ړ او مهم خدمتونه کړیدي او په هغه ځای کښې یې دافغاني اسلامي او هندي ګډ کلتور جوړولو ته ټینګې کړیدي ځکه خو دغه ګډ کلتور په ګډ تاریخ ورګډیږي او د هند تاریخ د افغانانو له ذکر څخه غیر هیڅکله موجودیت نشي پیدا کولی. څومره چه په هند کښې د افغاني مسلمانو پاچاهانو فتوحات تر وړاندې تګ وکړ هومره یې د مدرسو علوماو کتابخانو انتظام ته پراختیا ورکړه او هغه یې جامع کړل .

(سلطان معزالدین محمد غوري په هندوستان کښې ډیره موده مستو ګنه ونکړه خو سره د دې یې هم په اجمیر کښې ګڼې مدرسې او ښوونځې

---

(۱) اسلام کا هندوستانی تهذیب پر اثر د پروفیسر تاراچند تالیف چه اکر یزي نوم یې انفلو ینس اف اسلام ان انډ ین کلچر دی.

۱۷۱ -۱۷۱ -۱۷۳ او ۱۷۸ مخونه د ډیلي د آزاد کتاب ګهر طبع کال ۱۹۶۶ ع

تأسیس او کتابخانی یی منځ ته راوړی او دهغوی زویات پرمخ‌وا لګتلی ږ لاری ګودری خلاصی پریښودی (۱)

(دغه نو میالی افغان سلطان، د تعلیم او زده کړی په معامله کښی ډیر زیات پراخه نظر در اودحتی چی ده خپلوغلامانو ته دومره ډیر تعلیم ورکړچه هغوی پیاد پر واو چټوسقامانو ته ور سیدل ددغه ستر سلطان په غلامانو کښی قطب الدین ایبک، ناصرالدین قباچه او بختیار خلجی دکتابخانو او مدرسوپه تاسیس او جوړولو کښی مهم کومکونه وکړل.

دقطب الدین ایبک په زمانه کښی په ډیلی او نورو ښاوانو کښی کتابخانی او مدرسی منځ ته راوړلی شوی دناصرالدین قباچه په تحریک او فعالیت په سندهکښی علمی موسسواو کتابخانو او بختیار خلجی د فتحی نه وروسته په بنګال او بهار کښی مدرسواو کتابخانو ته پوره ترقی ورکړه او دزیات پرمخکښ د پاره یی دروازی پرانستلی (۲)

سر بیره په دی د اسی اسناداو شواهدهم موندل کیږی چه څرګندوی چی دشعراو شاعری سلسله هم دغوریانو دسلطنت او دهغوی په زمانه کښی شروع شویده او په نثر کښی مشهورمنهاج سراج خپل نامتو اثر طبقات ناصری هم په دی دوران کښی تالیف او تخلیق کړ (۳)

---

(۱) آسلامی کتب خانی دالحاج محمد زبیر تالیف ۱۸۲ مخ دډیلی مکتبه برهان طبع کال ۱۹۶۱ م

(۲) ایضادغه کتاب او دغه مخ

(۳) صنادید عجم دمولوی مهدی حسین ناصری تالیف ۲۷۷ مخ داله آباد طبع کال ۱۹۵۷ ع

د افغانی اسلامی پاچاهانو په وخت کښې حتی هغوی دا کوښښ هم وکړ چه نه یوازې له افغانستان څخه بلکه له نورو اسلامی هیوادونو څخه هم مهم، سود مند او گټور کتابونه هندته راوړی اود عالمانو او فاضلانو په اختیار کښې ئی کیږدی او په دې ډول د هندوستان علمی خزانی مالامال کړی لکه چه د شمس الدین التمش په زمانه کښې هم ده په حکم د (آداب السلاطین) او (مآثر السلاطین) قیمتی او مهم کتابونه له بغداد څخه هندته راوړل شول او ځینی کتابونه د هرات له کتابخانو څخه راغلل) (۱)

د بهرنی هیوادونو څخه د کتابونو راوړلو سره په اسلامی دغه دوره کښې پخپله د هندی مؤلفینو او مصنفینو یوه تولنه هم جوړه شوه او د تالیف او لیکلو وظیفه ورته ور په غاړه شوه (۲) مشهور مورخ سر جادوناتهسرکار لیکی :

«مونږ د کتابونو د لیکلو، نقلولو او د هغو د خپرولو او د غه شان د علم د عمومی رواجولو په برخه کښې د اسلامی اثراتو احسان مند یو که نه نو بخوانی هند وان مصنفین خپلو لیکلو کتابونو ته هو نو د پټولو ډیر زیات شوقمن وو لیکن دا باید ووایو چه د مسلمانانو د را تگ اثرات نه یوازې د کتابونو لیکلو او خپرولو پورې محدود وو بلکه هغوی د هندی تهذیب او تمدن هر گوټ روښانه کړ» (۳)

له افغانستان څخه د راغلو مسلمانانو بهیر لوی اثر په هندی

---

(۱) اسلامی کتب خانی د محمد زبیر تالیف ۱۶۰ مخ د ندوة المصنفین دیلی طبع کال ۱۹۶۱

(۲) ایضاء دغه کتاب ۱۶۳ مخ

(۳) ایضاء دغه کتاب ۱۴۸ مخ

ژبه هم یې بوت بوغلې ژبې د زبیدلو موجب شول (هندته د دغو مسلمانانو د راتګ نه مخکښې په دې هېواد کښې په سوونو ژبو تکلم کېدو لیکن د هند وانو او مسلمانانو ګډې معاشرې او نوی شریك ژوند په نتیجه کښې یوه لوی ژبه را پیدا شوه چه د بېلو بېلو دورو له طې کولو څخه وروسته د اردو په نوم یاده شوه او د ژبې دغې انقلاب د هند وانو مذهبي شعور هم سخت ترتاثیر لاندې راوست) (۱)

د دغه کار په نتیجه کښې په هندې ژبې د الفاظو او کلماتو په وجه اسلامي او افغاني افکار او څومره هم د هند په خلکو کښې پر مخنګ وکړ او په پای کښې د افغاني کلتور ژورې ریښې او جرړې د هند په خاوره کښې ټینګې شوې .

د افغانستان د نومیالي او پیاوړي غوري لوی پاچا سلطان شهاب الدین غوری له ناڅاپي وفات نه وروسته د دغه ننګیالي سلطان یو تکړه پوځي مشر چه په حقیقت کښې ده خپل نائب تاکلی و او قطب الدین ایبك نومېده د چارو واګې په لاس کښې واخستې او د دې وجه هم داوه چه محمد غوري اولاد نه درلود .

قطب الدین ایبك د خپل مهربان او پیاوړي پاچا سلطان شهاب الدین غوري ډېر زيات احترام او درناوی کاوه او دغه په ژوند کښې یې داسې کوم حرکت ونکړ چه دغه د سلطان په مقابل کښې د ده د بې احترامي او سپکاوي دلیل او ثبوت وي .

قطب الدین ایبك چه کله د چارو واګې په لاس کښې واخستل نو هندوستان درې برخې درلودې او دغه پنجاب ، شمالي هند ، او سندهو وچه په مستقیم ډول د غزني د دربار له خوا اداره کېدل .

---

(۱) اسلامي کتبخانې ۱۳۹ مخ

قطب الدین ایبک دلوی سلطان شهاب الدین غوری تر لاس لاندی تربیه شوی ؤ او دېر ذهین او لایق پوځی په تو گه یې دی پوهېدو چه نوموړی سلطان شهاب الدین غوری د هند خاوره په ښه ډول اداره کوله او دغه ستری کامیابی له کومې لاری لاس ته راغلی وه؟ ځکه خو کله چه د سلطان په ځای کښیناست نو ډیر ژر په هندوستان کښی د زیاتو گرانتیاو او مشکلاتو سره آشنا او مسائل ورته ښه واضح وو.

قطب الدین د خپل هیواد افغانستان په خاوره کښی د ژوند تاوده او ساړه ډیر کتلی او د سپېڅلی ننگیالی مسلمان افغان پاچا سلطان شهاب الدین غوری په دربار کښی د سلطنتی او حکومتی چارو سره ښه بلد شوی ؤ او هم یې د جگړو په ډگرونو کښی دیو نکره او جنگیالی افغان په تو گه خپله توره او مېړانه ښکاره کړی وه.

دغه هوښیار پوځی افسر په خپله دوره کښی د اهغه او کوښښ و کړ چه خپل چال چلند، اجراآت او د خلکو سره سلوک په هم هغه چوکاټ کښی وساتی په کوم کښی چه لوی سلطان او ده ولی نعمت شهاب الدین غوری هغه جوړ کړی او منځ ته راوړی ؤ.

د قطب الدین ایبک په هکله تاریخ په مجموعی ډول د دی حقیقت څرگندونه کوی چه.

(قطب الدین ډیر لایق او د نظم او اداری خاوند واکمن ؤ. ټول بی په هیواد کښی د امنیت او سولی ټینگولو د پاره های ځلی او کښښونه کول دی په زیاو او انصاف مین ؤ د هندوانو سره یې ډیر نیک او د مهربانی سلوک کاوه قطب الدین ایبک یو فیاض انسان ؤ او خلکو ور باندی د لك بخښونکی نوم ایښی ؤ (۱)

---

(۱) تاریخ هند د مولوی ذکاءالله تألیف دریم توك د نول کشور طبع کال ۱۹۳۲ ع

پروفیسر مکرجی په تاریخ هند کښې د قطب الدین ایبك په هکله عقیده ښکاره کوی :

(د سلطان شهاب الدین غوری له وفات نه ورسته حقیقتاً یل داسې څوك نه ؤ چه هغه په پوره لیاقت په هندوستان کښې د دغه پاچاه سلطنت چاری اداره کړی وی او د قطب الدین ایبك سړی ته راتلل یومنطقی کار ؤ ځکه چه ده د خپل سلطان په خدمت کښې کافی لیاقت او تجربه لاس ته راوړی وه) (۱)

(په هند کښې دافغانستان دسترسلطان شهاب الدین غوری دسلطنت اداره د قطب الدین ایبك چه دده یو غلام او پوځی افسرؤ په ډیره ښوره او کامیابه طریقه سره وکړه اوده هم د خپل پاچاه شان د هند په خاوره کښې لوی او له ارزښت نه ډك یادگارونه پریښودل چه د قطب مینار آباد ول، د تعلیم او ښوونې زیات‌رواجول، د مدرسو جوړول او نور له دی جملې څخه دی) (۲)

دا کنربی ام شرما لیکی چه .

(قطب الدین ایبك هوښیار او زیرك پاچا ؤ چه د خپل رعیت، هندوانو او مسلمانانو ، هر ډول مشکلات یې په ډیره مهربانی او غوره طریقه حل کول او خلکو ده ته په ډیر درنښت کتل او یې پیاور کتنه) (۳) .

سید ریاست علی ندوی په عهد اسلامی کا هندوستان کښې عقیده ښکاره کوی :

---

(۱) هستری اف انډیا د پروفیسر مکرجی تالیف لومړی ټوك د کلتی طبع کال ۱۹۶۷ ع

(۲) هستری اف انډیا د بهاتیه تالیف ۱۴۸ مخ د جلندر چاپ کال ۱۹۶۰ ع

(۳) گلیمپسس فرام اندین هستری ۹۸ مخ د لکنهو طبع کال ۱۹۳۸ م

قطب الدین ایبک فطرتاً یو نیك، سخی، عادل او ولس دوست پاچاؤ چه په هند کښی یې یو خپلواك حکومت جوړ کړ. ده دخپل حکومت په ورستیو کالونو کښی دا کوښښ وکړ چه ځانله په هند کښی حکومت وکړی او پایتخت یې هم دهلی ته انتقال کړ ملوك الطوایفی دده په لاس ختمه شوه) (۳)

دهند تاریخ په غور کښد دول ددی حقیقت تصدیق کوی چه دقطب الدین ایبك دسلطنت دوره هم په هندوستان کښی دعلم او فضیلت دوره وه او دغه پاچا هم دنورو افغانی پاچاهانو په څیر پخپل دربار کښی زیات عالمان او پوهان، ادیبان او شاعران راغونډ کړی وو او تل به یې دخپلی سرپرستی لاندی علمی غونډی جوړولی. دلته مونږ په لنډ ډول دقطب الدین ایبك دعصر دځینو پوهانو او عالمانو ذکر کوو څو دا خبره ثابته شی چه دغه دوره هم په هند کښی دعلومو دپرمختګ او ترقی دوره وه.

دقطبی عهد دمشرو او نومیالو پوهانو او مصنفینو له جملی څخه یو دذکر او یاد وړ پوه فخر الدین مبارکشاه المعروف په فخر مدبر غزنوی دی چه زیات عمر یې په هندوستان کښی تیر شویدی.

ددغه پیاوړی عالم دغه هم کتاب سلسلة الانساب دسلطان قطب الدین په نوم معنون شویدی دغه کتاب په شروع کښی دقطبی عهد لنډ تاریخ دی چه دتاریخ فخرالدین مبارکشاه په نوم چاپ شویدی. دفخر مدبر بل دارزښت وړ کتاب آداب الحرب دی چه په دری ژبه دجنګ دفنونو په باب کښی دیر ښه کتاب ګڼل کیږی دغه مؤلف دسلطان

---

(۳) عهد اسلامی سکا هندوستان ۱۳۲ مخ دسید ریاست علی ندوی تالیف

التمش په نوم ليکلی دی) (۱)

مشهور و اديبانو وشاعرانو بهاءالدين محمد دارشی او جمال الدين محمد نصير پخپلو قصيدو کښی دقطب الدين ايبك دسخاوت او مېړانی ،فياضی ،او نياو پر وری ستاينه په ډېرو اوچتو الفاظو کړيده .

دغه شان ددغه وخت يو بل عالم محمد بن حسن نظامی نشاپوری خپل مشهور کتاب تاج الماثر چه د ډيلی دپاچاهانو په باب تر ټولو لومړی کتاب دی چه دقطب الدين ايبك په عهد ايت ئی په ۶۰۲ هجری کښی شروع کړ چه د ۵۸۷ څخه تر ۶۱۴ هاو ۶۱٦ هجری پوری پېښی پکښی ليکلی شويدی (۲)

هغه نور لوی عالمان او مصنفين چه دقطب الدين ايبك په زمانه کښی د دغه سلطان په حکم علمی خدمتونو او دخلکو پيداری ته ملاتړ لی وه شيخ احمد بن علی ترمذی ،قاضی حميدالدين علی بن عمر محمودی او وجيه الدين او نورو وچه ټولو دسلطان سره په جګړو کښی هم برخه اخستی وه (۳)

په عمومی توګه دقطب الدين ايبك اوشمس الدين التمش دسلطنت په دوره کښی دهند په خاوره کښی د برو ستر او نوميالو پوهانو او

---

(۱) آب کوثر دشيخ محمد اکرام تاليف ۱۳۲ مخ د لاهور چاپ کال ۱۹۵۸ ع

(۲) عهد اسلامی کاهندوستان دسيد رياست علی ندوی تاليف ۱۳۳ مخ

(۳) ايضاء دغه کتاب او دغه

عالمانو ظهور وکړ او په خپلو عظیمو اودا رزښت ورخدمتونو په برکت یی د هند خاوره د معنوی فیض څخه برخوره داره کړه چه د طبقات ناصری مؤلف قاضی منهاج سراج یی په سر کښی ولاړ دی .

په هند کښی د سلطان التمش د پاچاهی په وخت کښی هم لوی پوهان اوډ فضیلت خاوندان لکه جرجاني منځ ته راغلل اود پاچا په نوم یی د حجة الاسلام امام غزالی رح مشهور کتاب احیا العلوم په دری ژبه ترجمه کړ (۱)

تاج الدین سنګریزه دا لتمش د وخت یولوی شاعراوادیب وه بهاء الدولدعلی بن احمد جاجمی مشهور شاعر ته دالتمش په زمانه کښی لوړ مقام ورکړی شوی وه (۲)

(التمش په سلطنت کښی ځینی لوي پوهان لکه نظام الملک قوام الدین بن ابوسعد جنیدی ته دوزارت چوکی ورکړی شوی وه ددغه دوری دستر و پوهانو په جمله کښی قاضی سعدالدین کروری حمید الدین نا ګوری قاضی نصیرالدین معروف په کاسه لیس قاضی جلال الدین قاضی کبیر الدین او قاضی قطب الدین د ذکرور دی) (۳)

نور د علم او فضیلت خاوندان چه دالتمش په وخت کښی یی لوی نوم درلود، مولانا شرف الدین ابو قوامه حنفي د هلی، شیخ شرف الدین احمد بن یحیی میزی، شیخ علی بن حامد کوفی شیخ فخر الدین عمید تونکی چه دالتمش په ستاینه کښی یی دیر اشعار ویلی دی او ملا جلال الدین دی.

---

(۱) آب کوثر شیخ محمد اکرام تالیف ۱۳۷ مخ

(۲) آب کوثر شیخ محمد اکرام تالیف ۱۳۷ مخ

(۳) عهد اسلامی کا هندوستان د سید ریاست علی ندوی تالیف ۱۴۲ مخ

دغه شان د دغه وخت ممتاز پوه او د قلم او ند محمد عوفي دی چه پوره شهرت لري او خپل مشهور کتاب لباب الالباب ئې د ناصر الدین قباچه په وخت کښې د وزیر عین الملك د پاره ولیکلو (۱)

د التمش د عهد یو بل مشهور شاعر امیر روحاني نومیږي چه اصلي وطن ئې بخارا دی او له هغه ځایه هند ته تللی دی (د شمس الدین التمش د سلطنت په وخت کښې ډیر پوهان او عالمان له افغانستان او ایران نه هند ته لاړل او ددې کار یو علت د چنګیز یرغل هم وه (۲)

هندوستان ته د افغانانو د تګ نه وروسته له یوې خوا د هغه هیواد په مدنیت باندې د غو فتوحاتو ژور تاثیر واچوا او له بلې خوا افغانانو د هند په خاوره کښې د اسلامي دورې د طلائي تاریخ مهم پاڼې په خپل لاس ولیکل.

د تاریخ په رڼا کښې دا حقیقت هر څوك لیدلی شي چه د هند په خاوره کښې د لومړیو افغانانو د اقتدار دوره په دې هیواد کښې د علومو او فنونو، ادب او شعر مذهبي تعلیم او ښوونې یوه شاندا ره دوره او په ټول هند کښې د دغو فاتحانو له خوا د خلکو د بیدارۍ او هوسایني وسایل برابر شول او هندیان د خپل وچ روحاني او ځانګړي حالت نه یو مترقي اجتماعي حالت ته راوا وښتل د علومو او فنونو په هر اړخ کښې ښکاره جنبش او حرکت منځ ته راغی او د ژیو نوې تازه تهذیب او کلتور بنسټ کیښودل شو.

(د اجتماعي ژوند په متعلق اسلامي روش یو جمهوري او ملي روش بلل کیدو او په دې کښې د نسل، ذات یا کورنۍ هیڅ ډول توپیر او امتیاز نه منل کیدو په دا سې حال کښې چه مخکښې له دې هندوانو

---

(۱) ایضاً د هغه کتاب او دغه مخ

(۲) آب کوثر شیخ محمد اکرام تالیف ۱۳۸ مخ

په اجتماعي ژوند کښې اجتماعي مساوات او ورا بري ند ه يژ ندله بلکه په طبقو کښې يې خاص امتيازات او توپيرونه ليدل کيدل) (۱) مثلاً يو کشتري پاويش هيڅکله هم ن ديو شودرسره يو برابر او مساوي نه گڼلو او شود ر يو ذ ليل او د پستي طبقې انسان بلل کېدو ليکن کله چه په هند کښې اسلامي دور پيل او اسلامي حکومتونه منځ ته را غلل نو دغه امتياز ونه او ظالمانه توپيرونه له هندي ټولنې او جامعې څخه و يستل شول او دا د هندستان په تهذيب او ژوند باندې د مسلمانانو تر ټولو مهمه اغيزه وه چه يو بنيادي تاثير يې در لود .

افغاني فاتحو باد شاهانو په هند کښې خپل ټول پام دې خبرې ته کړ څولي او دا تلاش يې کاوه چه د محکومو خلکو د پاره د ښې خدمت وکړي چه د دغان په نسبت د دغوی ذهنيتو نه بدل کړي شي .

(د اسلام اساس او بنسټ په جمهوريت ولاړ دى او چه کله په هند کښې اسلامي نظام قايم شو نو ددې سره د هنديانو د ژوند په هر اړخ کښې جمهوري طريقې هم په کار ولويدې او ددې لوی او بهترين مثال هماغه مساوات او ورا بري ده چه په اسلام کښې ايدل کيږي) (۲)

په دغه دليل خو څوری افغانان چه په هند کښې د لويې اسلامي سلطنت تاسيس د دوی له خوا شويدی گويا په حقيقت کښې په هغه ځای کښې د جمهوريت نظام منځ ته راوړونکی هم گڼل کيدی شي.

دادی د افغانستان دغوري گورنی دسترو کار نامو په پای کښې مونږ ديوی بلې افغاني نوميالي کورنی برخه د هند په تاريخ او مدنيت کښې مطالعه کوو . دغه کورنی دخلجي افغانانو کورنی ده چې پياوړي او مشهور خلک پکښې تير شويدي .

---

(۱) اسلام کا هندوستاني تهذيب پر اثر د داکټر تا را چند تاليف ۱۷۸ د ډيلی د آزاد کتاب گهر طبع کال ۱۹۶۶ ع

(۲) ايضاً دغه کتاب او دغه مخ

دریم څپرکی

په هند کښې د خلجي افغانانو ستر خدمتونه

په هندوستان کښې د افغانانو د هغو لوی او مشهورې کورنۍ له خلاند پر مخ تللې دورې څخه ورسته چه کومه بله افغانی کورنۍ زمونږ د بحث او څیړنې لاندې راځي هغه د خلجیانو مترقي دوره ده چه د هند په تاریخ کښې د علمي او اجتماعي پیشرفتونو له پلوه یو خاص مقام لري.

په هندوستان کښې د افغاني کورنیو د اقتدار او سلطنت د اوږدې دورې په سلسله کښې د خلجیانو افغانی کورنۍ په ۶۹۰ هجري کښې تولواکي پیل کوي او جلال الدین فیروز خلجي لومړی سړی دی چه په دې کالو کښې د خلجي کورنۍ د اقتدار د ماڼۍ د بنسټ ډبره ږدي (۱) سره له دې چه د هند په تاریخ کښې جلال الدین خلجي د لومړي سړي په حیث معرفي شوی دی چه د خلجي کورنۍ د تولواک په توګه د ډیلي په

(۱) تاریخ هند ذکاء الله ۱۹۷ مخ اردو او پښتنو دی سلطنت اف دیلي د سري واستان تالیف ۱۸ مخ داګرې طبع کال ۱۹۶۴ ع - کمپس فرام اندبن هشتري ډاکټر پي ام شرما تالیف ۹۰ مخ د لکهنو طبع - هشتري اف انډیا تهاو تر کار تالیف ۱۳۱ مخ د جالندر طبع کال ۱۹۶۱ م - او نور.

تخت ناست دی لیکن حقیقت دا دی چی دجلال الدین فیروز خلجی له جلوس او حتی مخ ته را تللو نه پخوا د افغانانو دغی کورنی د هندخاوری په ځینو سیمو کښی خپل اقتدار ټینګ او حکومت یی تاسیس کړی وچه دلته مونږ په دی باره کښی ځینی اهم او د ارزښت ور مطالب د اسنادو په رڼا کښی وړاندی کوو .

- (هغه لومړی مسلمان واکمن چه په بهار او بنګال کښی یی اسلامی حکومت تاسیس کړ (۱۱۹۲ م ـ) هغه اختیار الدین محمد بن بختیار خلجی ؤ

محمد بن بختیار د افغانستان دخلج او غور دسیمی یوسپین روبی مشرؤ چه د نوکری په هڅه لومړی دسلطان معزالدین سام (سلطان شهاب ـ الدین محمد غوری) دربارته په غزنی کښی ورغی بیا له هغه ځایه دیلی ته راغی لیکن دلته هم ورته کومه مناسبه وظیفه په لاس ورنغله .

محمد بن بختیار له دیلی نه بدایون ته لاړ چه هلته دسپه سالار هزبرالدین حسن ارنب په خدمت کښی شامل شی او بیا له بدایون څخه څه موده پس اوده ته لاړ او هلته د ملک حسام الدین اغلبك سره نوکر شو . په دی وخت کښی محمد بن بختیار ، آسونه او وسلی را پیدا کړی او دسلطان معزالدین سام په فتح کړو سیمو کښی د سهلت او سهلی (موجوده مرزا پور ته نژدی) یی څه ملکه او جاګیرداد هم واخستل او له هغه ځای څخه بی په منیر او بهار یرغل وکړ او ډیر مال یی په غنیمت ونیو) (۱)

---

(۱) تاریخ مکده د مولوی فصیح الدین بلخی عظیم آبادی تالیف ۹۹ مخ اردو او پښتو د ۱۹۵۳ ع طبع د طبقات ناصری ۱۴۷ مخ ته خواله .

(دا هغه وخت وه چه دغور، خراسان اوغزنی (موجوده افغانستان) څخه یوه ډله خلك هندوستان ته راغلی او په دی هیواد کښی میشته شوی وو. دوی د محمد بن بختیار خلجی دلوی نوم او شهرت څخه واورید او تول هغه حضور ته ورغلل او محمد بن بختیار خلجی دهغوی په را تلو نور هم تقویت وموند) (۱)

دمحمد بن بختیار خلجی دنوم او شهرت آوازه دسلطان قطب الدین ایبك غوږ ته ورسیده او سلطان محمد بن بختیار خلجی ځان ته راوغوښت او دهغه ډیر قدر او عزت یی وکړ. په دی وخت دبهار او بنګال دخلکو په زړونو کښی دافغان محمد بن بختیار توری او میړانی او زور قوت سخته ویره را پیدا کړی وه. په کال دوو کښی محمد بن بختیار میزاو بهار نیوو او دهغه ځای راجا ندربن دیوپال لهویری و تښتید او ځان یی بچ کړ (۲) طبقات ناصری لیکی چه په دی وخت دبهار اکثره اوسید ونکی (سرمنډه برهمن یعنی دبودائی مذهب را هبان وو. چه په دی جګړه کښی ورته ډیر زیات تاوان ورور سید او مسلمانانو د محمد بن بختیار تر مشر تابه لاندی ډیر کتابونه لاس ته راوړل چه دغو کتابونو د تحقیق لپاره یی ځینی خلك راوغوښتل لیکن څرنګه چه په دی وخت کښی ډیر راهبان وژل شوی وو ځکه نو د کتابونو په هکله چاهم معلومات ورنکړ (۳)

څه موده پس محمد بن بختیار په بنګال باندی کې (په ندیا) ښار

---

(۱) تاریخ بنګاله د تاریخ فرشته دوهم توك ۳۹۳ مخ په حواله

(۲) تاریخ بنګاله د مولوی فصیح الدین تاء ف ۱۰۰ مخ اوردو اډیشن د کال ۱۹۶۳ چاپ.

(۳) ایضاً دهغه کتاب ۱۰۱ مخ.

برغل وکړاو په هغه ځای کښې یې لکهنوتي راج ته ماتي ورکړه او په بنګال یې قضه وکړه او د لکهنوتي ښار چه اصلي نوم یې ګور یا غور وخپل د یې تخت وټا کلو او بیا یې د دهلي د سلطان په نامه سکه وو هله او خطبه یې جاري کړه او په ټول سیمو کښې یې مسجدونه مدرسي خانقاګانې سرایونه جوړ او آباد کړل. (۱)
منهاج الدین سراج د طبقات ناصري مولف لیکي چه:
(د بهار د فتح په وخت کښې بچه کله محمد بن بختیار خلجي په ډیره میړانه او زړه ورتیا د کلا د رو ازي ته ورسیدنود فرغاني دوه هوښیار کسان چه د یو نوم نظام الدین او د بل صمصام الدین وا ودواړه ورونه د محمد بن بختیار خلجي سره ملګري وو چه وروسته صمصام الدین په ٦٤٠ هجري کښې د دې فتحې ستر ګولیدلی حال په لکهنوتي کښې بخپله ماته بیان کړ) (۲)
خلجي افغان محمد بن بختیار خلجي نه یوازې د بهار او بنګال فاتح او په هغه ځای کښې د اسلامي حکومت موسس ګڼل کیږي بلکه دی یوازینی افغان دی چه د بهار له لارې یې په تبت یا ندې هم برغل وکړ لیکن څه لویه کامیابي لاس ته رانه وړله (۳).
تاریخ مګده یا بهار په هغه ایالت کښې د ځینو نورو خلجي نومیالو ذکر هم راوړي چه تر ټول د لوی نوم او شهرت خاوندان تیر شویدي او د بهار په سیمه کښې یې ستر خدمتونه سرته رسولي دي. په دې جمله کښې علي مردان خلجي (۴)

---

(۱) ایفیا د غه کتاب ۱۰۱ مخ.
(۲) تاریخ مګده ۱۰۲ مخ
(۳) تاریخ مګدار هیا بهار د مولوي فیصح الدین بلخي تالیف ۱۰۱ مخ اردو اد یش د ٤٤ ۹ ۱ کال طبع د انجمن ترقي اردو دهلي د تاریخ فرشته دویم ټوک ٤٤۰ مخ په حواله.
(۴) تاریخ مګده ۱۰٤ مخ.

(۶۰۵ -۶۰۸ هجری) حسام الدین عوض حسین ملقب په سلطان غیاث الدین عوض حسین خلجی (۳) (۶۰۸ - ۶۲۴هـ)ملك بیدارخان خلجی ملقب په قدر خان (٤) (۷۲۵ - ۷۳۹ هـ)او نور نور.
دتاریخی اسنادو په رڼا کښی د خلجی افغانانو دوره په هند کښی یوه پرمخ تللی دوره وه او په هرلحاظیی دهند په تاریخ اومدنیت کښی خول ستر رول لوبولی دی.
دلته مونږ دتاریخ ماندو پاشادی آباد په حواله دیوبل خلجی مشر وا کمن په هکله یوڅه مطالب وړاندی کوو:
داوا کمن و (محمد خلجی) چه په ۱٤٣٦ عیسوی کښی یی شاهی لقب اختیار کړ (۳)
(محمود خلجی) دسلطان هوشنګ غوری نه وروسته په ۸٤۰ هـ (۱٤٣۶ ع) کښی شاهی تاج په سر کیښود او په نوم یی هم سکه و وهله شوه او هم خطبه ولوستل شوه . (۱)
محمود خلجی دخپل سلطنت په شمال کښی کوچنی ریا ستونه لکه بوندی، کوتاه، ریانه ' رن تنبور او قرولی فتح کړل اوبیایی منده سور' قلم رو اواجمیر هم قبضه کړل. وروسی یی دګجرات ،چولپور،

---

(٤) تاریخ مکد هـ ۱۰۵ مخ .
(٥) تاریخ ماند وپاشادی آباد دغلام یزدانی تالیف دمیرزا بشیر اردو ترجمه(٥) مخ د ۱۹٤۲ ع دانجمن ترقی اردو دهلی طبع.
(۱) تاریخ ماندو ۱۶ مخ دیر اګس په حواله ٤ توک ۱۹۶ مخ اوراپست دویم توك ۲٤۲ مخ دسلطان محمدخلجی دلقب په هکله لیکی: دمحمود خلجی په سکو دالقب ذکر شوی (سلطان الاعظم الدنیا والدین ابوالمظفر محمود شاه خلجی سلطان) چه دغه لقبونه ورسره زیات شول (سکندر الثانی و یمین الخلافت ناصر وامیر المومنین).

او د کسن دوالیالو په خلاف جگړه شروع کړه او توله یې ځان ته تسلیم کړل (۲)

تاریخ مالو ویا شادی آباد د محمود خلجي د اخلاقو او شخصیت په هکله د پرکس په حواله داسې لیکي :

(محمود خلجي د علم او ادب یوه پر لوی مربی وه د حصول سلطنت په پیاو پیلو پر ځوکیې یې دادب او علم د خپر ولو د پاره مد رسته العلوم جوړ کړی وی او ددې نتیجه دا شوه چه ددغه ځای پوهان د شیراز او سمرقند دیرها نو او عالمانو سره د علم او پوهې له مخې برابر شول (۳)

تاریخ فرشته ددغه افغاني النسل سلطان محمود خلجي تعریف او ستاینه په ډیر خلاص مت او لوړ والفا ظو کوي او لیکي:

(سلطان محمود خلجي یو خلیق ، زړور ، نهایت سخي ، او غیرتي انسان وه ، ده په دوره کښې هندوان او مسلمانان دواړه خوشحاله او راضي وو او یوله بله سره یې خواږه اودوستانه مناسبات درلودل . په ډیر مشکله به داسې کال وُ چه هغه به جگړې ته نه تللو څکه خو څنګې خیمه د هغه کور جوړ شوی وه او دجگړې ډگر د هغه د استراحت ځای . فرشته وراندې لیکي:

دسلطان محمود خلجي د پوهې او اخلاقي صفا تو شهرت په ټولې اسلامي نړۍ کښې خپور شوی وه او د ماوراء النهر او کمن د تیمورلمسي

---

(۲) تاریخ مالو ویا شادی آباد ۱۷ مخ .

(۳) تاریخ مالو د مولوی نصیح الدین تالیف ۱۸ مخ د پر کس و توک ۹۷ مخ په حواله.

سلطان ابو سعید اودمصر خلیفه ء امیرا لمومنین مستعد بالله یوسف ابن محمد عباسی دده در بارته خول سفیران را لیږلی وو او محمود هم دیری تحفی هغوی ته استولی وی) (۱)

محمود خلجی دودا نیوسره دیر زیات شوق درلود. جامع مسجد، دهوشنگ شاه مقبره اوبه مندو کښی محلونه نوری زیاتی لوی ودانی هم دده له خوا ودانی اوآبادی شولی.

محمود خلجی تردی اندازی پوری په علم اوپوهه مین و، چه پخپل کور کښی یی دعلوموود زده کړی دپاره مدرسه جوړه کړی وه چه هغه ته یی دمدرسته العلوم نوم ور کړی و. زود ابلکل دهوشنګ دمسجد سره مخامخ وه محمود خلجی دفرصت اوبیکاری په وخت دلږی د تولوا کمنوحالات لوستل اودتاریخ سره یی زیاته مینه وه. (۲)

دغه شان تاریخ فرشته لیکی:

(په ۱۴۸۹ هـ ۱٤۵۵ ع کښی سلطان محمود خلجی په ماندو کښی یوه دیره لویه شفاخانه جوړه کړه اوددی دچوړولو لپاره » یی ملکه وریاور کړه اوحکیم فضل الله یی دروغتون داداری دپاره مقرر کړ. د دغی روغتون انتظام دومره ښه وه چه ددی کښی دهر دول رنځور دپاره کوټه اوبرستارموجود وواو دلیونیانو دعلاج دپاره بیول ځای تاکلی شوی وه) (۳).

---

(۱) ایضا تاریخ ماندو یا شادی آباد ۱۸ مخ د برکس دع تولك ۲۲۹ ـ او ۲۳۲ مخونو په حواله

(۲) ایضاء دغه کتاب ۱۹ او ۲۰ مخونه . (تاریخ ماندو)

(۳) تاریخ ماندویاشادی آباددغلام یزدانی تالیف دمرزامحمد بشیراردو ترجمه ۲۰ مخ کال ۱۹۴۲ چاپ.

فرشته د محمود خلجي د وفات نیټه ه داسې قید کړېده
د کال ۸۷۳ ه د ذي قعدي ۹ ۱

شه‌و الاقدر سلطان محمود چو شد از امرحق رحلت گزینی
به پرسیدم ز ها تف سال تاریخ ندا آمد که شد جنت نشینی (۱)

په اتمه پېړۍ کښې په هندوستان کښې دخلجي کورنۍ د اقتدار په وخت په پېلو پېلو سیمو کښې دعلم او پوهې خاوندان دعلم او پوهنې په خدمت گمارل شوي وو. هرخوا دعلم د اشاعت او د زده کړې د عام کولو کوښښونه او هڅې روانې وې او سونه پوهان او دفضیلت خاوندان علمي تحریکونه جاري کړي او خدمت یې کاوه) (۲)

په نهمه پېړۍ کښې سلطان محمود خلجي په کوښښونو او تلاشي د هندوستان خلك دعلم او پوهې له پلوه په پوره ډېر ښه حالت کښې وو او علم ډېر پرمختك کړی ؤ. کښې مدرسې جوړې شوي او د هلکانو د تعلیم پوره بند وبس وشو دغه شان سلطان محمود خلجي که په چیرته دخپل سلطنت له حدودو څخه بهر د کوم ستر عالم نوم او شهرت واورېد نو هغه ته به یې همدمرستي او کومك په توکه ډېرې پیسې استولې لکه دده د سلطنت په وخت کښې چه بېشماره نوي ځوانې منځ ته راغلل او په شادی آباد کښې یخودده په لاس پوه شاهي مدرسه هم جوړه شوه (۳)

مرآت احمدی د محمود خلجي په هکله لیکي :

---

(۱) ایضاء دغه کتاب ۲۰ مخ فرشته په حواله .

(۲) عهد اسلامی کا هندوستان د سید ریاست علی ندوی تالیف ۲۷۵ مخ.

(۳) (عهد اسلامی کا هندوستان) ۲۷٦ مخ .

(مدارس بهشت آئین ومساجد مانند خلد برین) جوړ او ودان کړل(۱).
اوس مونږ دافغانانو دخلجي کورنۍ دلوی قهرمان او هیرو علاؤ-
الدین خلجي دسلطنت د ستړو کارونو ذکر کوو (۲)
څود هند په تاریخ او مدنیت باندی د افغانانو داوچت کردار او مهمو
خدمتونوا ثرد تاریخي اسنادو په رڼا کښي څرګند شوی وی.
ددی بحث په شروع کښي مونږ ددی خبری ته اشاره وکړه چه د هند په
تاریخ کښي جلال الدین فیروزخلجي دافغانانو دخلجي پاچاهي کورنۍ
لومړی واکمن ګڼل کیږی چه په اوپا کلانی کښي په تحت کیناست
خوسره له دی دجلال الدین څخه وړاندی هم خلجیانو د هند په خاوره
کښي څه ناسه پ څینو سیمو قبضه کړی وه.
دلته دجلال الدین خلجي دشخصیت په باب دیو څو کرښو دلیکلو
او دده دپیژند ګلوی او معرفی له پس دلوی افغان پاچا سلطان علاء-
الدین ، په هکله مهم مطالب وړاندی کوو.
سلطان جلال الدین خلجي په تاریخ کښي د یومهربانه، رحم -
دل ساده او برده بار او حوصله من پاچا په توګه پیژند ل شویدی۳
سره له دی چه جلال الدین خلجي دزیاتی مهربانی او نرم زړه
په وجه ددغی تومت لاندی راغی چه دی د سلطنت جوګه نه وه خو-
حقیقت داسی دی چه یوخو جلال‌الدین خلجي په زړ بودی کښي سلطنت

---

(۱) ایضاً د څه کتاب دمراةآحمدی لومړی توك ۹۰مخ په حواله.
(۲) کولدن هستری اف اندیا او تول لور تارخونه خلجیان په
هند کښي له له افغانی کورینو څخه ګڼنی.

(۳) قاریخ هند دمولوی ذکاءالله صاحب ۲۳۶ مخ ارد وادشین
دنولکشورطبع

له ورسيد او به دی وخت کښی طبعیتادی دچنك چلگری طرفدارنه ؤ
اوله بلی خوادی بوعلم دوست او شاعر مشرب انسان ؤ او د ادب
او بوهی سره یی دزره له کومی ژوره مینه اوعلاقه وه اوذهمدی خلاقی
اودلچسپی له مخی جلال الدین خلخی دخپل وخت ددری اوهندی ژبی
متر شاعر امیرخسرو دخپل ادیم او ادبی مشاور په توگه تاکلی ؤ
حتی محهلی موورخین دا نظریه هم ښکاره کوی چه امیرخسرو د سلطان جلال-
الدین خلجی دشاهی کتابخانی منتظم اومهتمم وه (۱)
جلال الدین خلخی له بوازی دشعر اوشاعری سره بوره علاقه در
لوده بلکه پخپله هم ددری ژبی بوتکړه او نا ز کخیاله شاعر واو
دتاریخ په پانو کښی دی دیو دری ژبی شاعر په نوم یاد شوبدی اودآب
کوثر موءلف یی یوه خوږه رباعی راوړیده:
آن زلف پریشانت ژولیده نمی خواهم
وآن روی چو گلنارت قدیده نمی خواهم
بی پیرهنت خواهم یك شب بکنار آیی
هان بانك بلنداست این پوشیده نمی خواهم (۲)
دغه شان سلطان کلاجلال الدین خلخی چه کله لا کوالمار کلا ونیوله یو-
عظیم الشانه ودانی یی جوړه کړه چه دهغی متعلق یی دا رباعی وویله
ماراکه قدم بر سر گردون ساید
ازتوده سنگ وگل چه قدر آفزاید
این سنك شکسته زان نهادیم درست
باشد که دل شکسته آساید

(۲) اسلامی کتب خانی دالحاج محمدزبیرد تاءلیف ۸۸ مخ دندوة
المصنفین چاپ کال ۱۹۶۱ م اردوادب
(۲) آب کوثر د شیخ محمد اکرام ۸۹ مخ .

ضیاءالدین برنی څرګندوي چه د جلال الدین غلجي د شاعرانه مجلسو لو
او آزادو وسو بتونو ذکر په ډیره ښه توګه کړیدی او وائي ـ
چه په مجلس کښې به هره ورځ امیر خسرو د دغه سلطان په تشویق
نوي نوي غزلونه لوستل او هغه ته به یې انعام ورکاو .
سلطان جلال الدین غلجي له جګړي او وینو تو یو لو څخه سخته کرکه
درلوده شکسته نفسي ، ښه خلق ، لوړ تنې او مروت دده په طبیعت
کښې دستاینې وړ صفات وو لیکن دغه لوړ صفات دد ښمنا نو په تحریک او
لمسون په پای کښې ددې سبب شول چه په هیواد کښې امنیت خراب
شي او ګډوډي په سلطنت کښې مینځ ته راشي (۱)
د سلطان جلال الدین غلجي دوخت مهمه پیښه دا هم وه چه دده
د سلطنت له تاسیس نه پس ، ددیلي په شاو خوا کښې یو لوکسي مغلو ته
د میشته کیدلو اجازه ورکړه او په ۱۲۹۱ عیسوی کال ، دده د سلطنت په
دوره کښې سختې لحطې خلك په تکلیف کړل .
دغه مهربانه او علم پرور پاچا چه اصلي لوم يې ها بسته خان وه په
۱۲۹۶ عیسوی کښې ووژل شو او نو میالي علاء الدین غلجي د ډیلي دوا
کمنې او تو لوا کي اعلان وکړ (۲)
سکندر ثاني علاء الدین غلجي افغان شل کاله د هند په خاوره کښې
داسې حکومت چلولي دی چه د هند وستان په تاریخ کښې یې ساري
دیر لیږمو لیدل کیدی شي (۳) .

---

(۱) واقعات دارا لحکومت د هلي د مولوي بشیرا لدین احمد
خاکسار دهلوي تا لیف ۷۶ مخ دا ګری چاپ کال ۱۹۱۹ ع اروادشین .
(۲) واقعات دارلحکومت د هلي ۷۷ مخ .
(۳) اهل هند کې مختصر تاریخ د داکتر تاراچند تالیف ۱۹۸ مخ

د دغه افغان پاچاهانو کلنه دوره په دري برخو وويشل کیږي . لومړی دوره دابتدائي فتوحاتو دوره ده، کله چه افغان پاچاهانو ته ما ته ورکړه اوده پتن (گجرات چتوړا ورنتبوړ) یې سمې یې و نیولې .

دویمه دوره دده دکورني اصلاحاتو دوره ده په دې دوره کښې سلطان علاءالدین خلجي دهیواد دکورنیو اصلاحاتو په لړ کښې په ۷۰۲ع کال عین الملك د منځني هند خواته واستوو او دده په حکم هغه دا چین، چانديري ، ماندوړ کلا وي فتح کړې او دمالوه او منځني هندستان خودمختار رياستونه يې دډیلی دسلطنت پورې وتړل او په دريمه دوره کښې سلطان دشمالي هند په ډکن هم قبضه وکړه او علاءالدين خلجي سپه سالار ملك كافور ، تلنګانه ، معبر او دجنوبي هند نور رياستونه ونيول او هندوراجګان يې د ډيلي دسلطنت باج ورکونکي وګرځول(۱)

ضیاءالدین برني په سلطان علاءالدين خلجي باندې داعتراض او انتقاد سره سره، وداچه دې بوتند مزاجه پاچاکنې پیاهم پخپل کتاب کښې دعلاءالدین خلجي د ملانده او پرمخ تللي دوری تصویر وراندي کوي او دي حقیقت ته اشاره کوي چه دپاغیانو او نافرمانو کسانو دپاره دسلطان علاءالدین خلجي دسخت قهر باوجود، دامن پسنداو سوله غوښونکو عامو خلکو دپاره هغه، دخدای رحمت ؤ .

ضیاءالدین برني چه دعلاءالدين خلجي ددورې کوم خصوصيات او امتیازات بيانوي او دغه خلجي پاچا دهند دولس دهوسامینې او آرامی دپاره دخدای رحمت گنی دهغو اهمو خصوصياتو لنډیز دادی :

---

(۱) آب کوثر دشیخ محمداکرام تالیف ۱۶۱ مخ .

۱ ـ دغلی فراوالی اوادژوندانه دسامان اواسباب زیاتوالی به کونسوباندی چه دیاران دکموالی یازیاتوالی هیڅ اثرنه لویدلو .

۲ ـ دیاچا فوق‌العاده اوپرله پسی فتوحات .

۳ ـ دمغلو دیرغلګرو ماتول اوتارو مارکول .

۴ ـ دکوچنیو سرمایه لرونکو سره دمهای اوسال زیاتوالی .

۵ ـ سلطان ته دمغرورولو اوکسانوچه دقدرت خاوندان وو سرټیټول اواطاعت او به پوزلواوهرپیو خلکو باندی دپاچا هلاءالدین غلجی ، شفقت اومهربانی .

۶ ـ دهیواد پههرکوټ کښی امن اوامان اودامنیت ټینګول .

۷ ـ دسوداګرانو اودکاندارانوله خوا دجنس اومال به ارزانه بیه خرڅول اودشاهی مقرراتو پابندی اواحترام .

۸ ـ دګنواو پیشماروډلوپوو دانیو لکه مسجدو نو ، کلاګانو ، سرایونوودانول .

۹ ـ دعام ولس روحانی اواخلاقی ترقی (۱)

۱۰ ـ به هیواد پهټیره بیا په پای تخت کښی دهرعلم اوپوهی مشهورو اوتکړه پوهانو اوعالمانواودهرفن دماهرانو پیره (۹ ۳۲ ـ ۱ ۳۴) سخوند (۲)

---

(۱) دتاریخ فیروزشاهی تحریر داسی دی :

(ولهم عجوبه کرد دردوسال آخر عهدعلائی مشاهده شدآنست کدلهای اغلب واکثر مسلمانان به داد وراستی ودیانت و انصاف وپرهیزګاری میل کرده بود وصدق معاملات در میان مردان ظاهر شده ودرهندوان انقیاد واطاعت عام روئی نمود ومثل آن درهیچ عهدی وعصری ندیده‌اند ونمی بینند .)

(۲) آب کوثر دشیخ محمد اکرام تالیف ۲۶۳ مخ .

دسلطان علاالدین غلجی په‌وخت کښې دژوندانه ضروریاتو بیه دومره ټیټه وه‌اومواد دومره زیات ووچه په تیروخت کښې کله نه وولیدل شوی.

ددغه‌نو سوالی پښتون پاچاه زمانه‌کې امن اوامان‌پوره‌په ځای وه‌ځکه‌ځو کله چه‌دده‌له وفات نه‌وروسته خلکو دسلطان علاء الدین دسلطنت‌دوره رایادوله نوداسوس لاسونه‌پې‌پی مروړل.

دحضرت سلطان‌المشایخ رح خلیفه‌حضرت چراغ دهلی په‌ملفوظاتو کی داسی لیکی:

(حضرت چراغ دهلی رح دهغه‌وخت دارزانی اوفراوانی بیان کوی چه دسلطان علاءالدین غلجی دسلطنت په‌زمانه کښې‌وه‌په‌هغو ورځو کښې هرڅوک دیخنی په‌موسم کښې تودی‌چپنی اغوستلی،کانو نومی شاهی نهرلرونکی‌زیاتی چپنی گټللی اودسلطان په‌حکم په‌یی په‌خلکو ویشلی اوځینو ته‌په‌دوه‌دوه‌هم ورکړی کیدلی (۱)

دحضرت چراغ دهلی رح له ملفوظاتو څخه‌ددی حقیقت‌پته‌لگیږی چه‌دسلطان علاالدین غلجی له‌وفات څخه‌وروسته عامو‌خلکو هغوی ته دیوولی‌درجه‌ورسټام ورکړ. دده‌مزار ته به‌ورتلل‌په‌مزار‌به‌یی‌تارو تړل اوخپل مراد به‌یی غوښتلو. (۲)

دضیاءالدین برنی دکتاب له تصنیف څخه څوکاله وروسته‌شمس سراج‌عفیف دتاریخ فیروز شاهی په‌نوم یو کتاب ولیکو‌په‌دی کتاب کښې‌چه‌په‌اصل کښې دفیروز تغلق دکارنامو شرح اوبیان دی. دسلطان علاءالدین‌غلجی دسلطنت دخوبیو، کامیابیو او امتیازاتو

---

(۱) ایضاء دغه کتاب ۱۶۳ مخ.

(۲) ایضاء دغه کتاب ۱۶۴ رر

ستاینه هم کوی او داحقیقت د هر نی ددی خبری تردید کوی چه دده په قول گویاد علاء الدین غلجی له خوا ایښو دی شوی مقررات زیات دجبرا او تشدد له مخی ایښودشوی وو (۱)

دابن بطوطه له بیان څخه چه دسلطان علاالدین غلجی له وفات څخه څو کاله وروسته هندوستان ته تللی هم دهرنی د وینا تردید او دعفیف او حضرت چراغ دهلی دخبري تائید کوی. (۲)

سلطان علاالدین غلجی افغان په هندوستان کښی ددیروسترو پاچاهانو څخه گڼل کیږی او د هندولس تراوسه هم دهغه ستاینه او تعریف کوی هغه په شخصا دسلطنت چاری سرته رسولی او هره ورځ به یی د نرخ او نور و کارونو په هکله معلومات لاس ته راوړلو ، په دی باره کښی یوه ښکلی کیسه هم راغلی ده چه وائی :

«یوه ورځ سلطان علاالدین غلجی له محتسب څخه دا معلومات وکړ چه دغوښی دگرانی او قیمتی سبب څه شی دی محتسب وویل چه په غوا او بزی باندی ذکاة یعنی محصول اخستل !

سلطان له هغی ورځی څخه دغه دول تول محصولونه او ټکسونه معاف کړل او سوداگروته یی له خپلی خزانی پیسی ورکړی او هغوته یی حکم ورکړچه په دی پیسو دی غوا او بزی واخلی او ښارته دی را وړی او د خرڅلا وڅخه دی دخزانی پیس بیرته خزانی ته تحویلی کړی او خپله دسوداگروا و دکاندارانو دپاره یی څه اجوره وټاکله .

دغه شان یی دهغی نساجی انتظام هم پخپله وکړچه له دولت آباد څخه به را تلله .

---

(۱) ایضاء آب کوثر دشیخ محمد اکرام تالیف ۱۶۶ مخ .

(۲) ایضاء آب کوثر ۱۶۷ مخ .

پوهنځي دغلي سخته گرانتیا محسوس شوله سلطان علاالدين غلجي په نوري توگه له سرکاري گدام څخه غله بازارته يوړه او نرخ يې پرې ماست کړ. (۱)

عصامي چه د سلطان علاالدين غلجي په زمانه کښې پيدا شوی دی او په خپل مثنوي فتوح سلاطين کښې يې تاريخي واقعات په ډير احتياط او هوښیاري سره نظم کړيدي دپښتو ن علا الدين غلجي زيا ته ستاينه کوي او ليکي :

به‌عهدش جهان جمله آسوده بود

کسی کم بجز فتنه فرسوده بود

ارزانی عهد آن کامیاب

گلاب وعسل بودهم نرخ آب

به‌عهدش کسی جزغم دین نخورد

بدورش کس ازغم شکایت نکرد

غم‌خلق میخورد تا زنده بود

زشاهان همو گوی عصمت ربود

علا والدين غلجي هر دول سودمندی مشوری چه دولس په گټه په وی منلی اگر که هغه په دده در ضا خلاف وی او تل به يې دا احتیا ط کاوه چه د خپل رعیت په خلاف که هندوان دی او که مسلمانان کوم غلط گام پورته نکړی.

---

(۱) آب کوثر دشيخ محمداکرام تاليف ۱۶۷ مخ .

(۲) ايضا آب کوثر ۱۶۸ مخ .

ضیاء الدین برنی د سلطان علاء الدین خلجی د وخت د یو هانو او عالمانو مشایخو، مفسرینو او د حدیث د اخلاتو موړ رخیانو، شاعرانو طبیبانو، غزل ویونکو او خطاطانو او د فن د نورو ماهرانو او استادانو او د هر ښتو له ترتیب کړی دی چه په دی جمله کښی لوی شاعران امیر خسرو او امیر حسن سنجری دلته ذکر کوو (۱)

د غو دواړو پښتون پاچا علاء الدین خلجی پوره ستاینه کړی او د پاچا په تعریف کښی ئی قصیدی او غزلونه لیکلی دی .

په تیره بیا امیر حسن سنجری د سلطان علاء الدین په صفت کښی د ګنو غزلونو او مثنو یانو څخه علاوه کم ترکه دوه نیم سوه قصیدی هم لیکلی دی. دلته د یوی قصیدی څو بیتونه چون ګوهر ګنده شی چه د فوائد الفواد مؤلف د خلجی سلطان علاء الدین په ستاینه کښی ئه وای:

ګل نصرت که است از سبزه تیغ

ز سر سبزی بخت شهر یار است

شهنشاهی که دایم طالع او

بهر عزمی که خواهد کامگار است

علاء الدین والدنیا که از وی

بنای دین ود نیا استوار است

بحمد الله کز باران عدلش

هوای ملک ودولت پر قرار است

---

(۱) آب کوثر ۱۷۵ مخ .

دعایش خواستم گفتن چه گویم

که عمرش چون عطایش بیشمار است

حسن زین پادشاه بنده پرور

جود یکر بندگان امیدوار است (۱)

په بوه بله قصیده کښې داسې وائی:

ثبات دولت و ملك از بقای شاه بادا

بقای اوست که اسلام رامدار آمد

امیر خسرو دافغانستان پباوری محوی او ددری ژبی شاعر د افغان سلطان علاء الدین غلجی په باره کښې وائی:

بازم رخ زیبای کسی در نظر آمد عشقی بدل افتاد هوای بسر آمد

زین پس نخورم هیچ غمی خاصه که از چرخ

بر شاه جهان مژده فتح وظفر آمد

آن شاه علاالدین اسکندر ثانی

کز لشکر او زلزله در بحر و بر آمد (۲)

دلته ضروری گنوچه د تذکره علمای هند څخه د امیر خسرو په هکله یو څو کرښې اقتباس کړو: امیر خسرو خسرو شاعران نامدار و سو آمد متصوفان معرفت شعار جامع علوم ظاهر و باطن بود وی سلطان الشعرا و برهان الفضلا است نام شریفش ابوالحسن بن امیر سیف محمود از امیر زاده های هزاره بلخ بود (۳) .

---

(۱) آب کوثر دشیخ محمد اکرام ۱۷۶ مخ .

(۲) آب کوثر ۱۷۶ مخ .

(۳) تذکره علمای هند در حمان علی تالیف ۵۷ مخ د تولکشور طبع .

مولانا محمد حسین آزاد په نگارستان فارس کښی لیکی :

(امیرخسرو دسلطان جلال الدین خلجی او سلطان علاالدین خلجی په دربار کښی د پوره قرب او منزلت خاوند شاعر واو درناوی یی کیده (۱)

مولوی مهدی حسین ناصری په صنادید عجم کښی لیکی چه :

(سره له دی چه په هندوستان کښی د شاعری سلسله د غوری افغانانو له وخت څخه پیل شوه او په نثر کښی منهاج السراج (۲) طبقات ناصری تصنیف کړ او هغه یی ناصرالدین محمود ته ورواندی کړ و لیکی د حقیقت له مخی د شعر او شاعری تاریخ د خلجیانو په زمانه کښی شروع شوا و امیر خسرو د هغه وخت لوی شاعر و چه په نثر لیکلو کښی یی هم لوی لاس در لود. (٥) د جلال الدین خلجی د فتوحاتو په هکله ده یو مثنوی و لیکلو چه نوم یی تاج الفتوح ؤ .

رښتیا خبره داده چه خلجی پاچاهانو دامیرخسرو ډیر درناوی کاوه او ددوی په تشویق ده ډیر مهم اثار و لیکل چه له خمسه نظامی هغه ورو سته او وروستی کتاب یی هشت بهشت وچه په ۷۰۱ هجری کښی یی پای ته ورسوو .

خسروته دامیرخطاب هم دوی ورکړ (۳)

---

(۱) نگارستان فارس دمولانا محمدحسین آزاد تالیف ۸۱ مخ دلاهور چاپ کال ۱۹۲۲م اردو ادیش.

(۲) منهاج په ٥٦١ هکښی په جوزجان کښی چه د بلخ سره نژدی دی زیږیدلی دی او د عمر لومړی شپې ورځی یی د غوری شاهانو په نوکری کښی تیری کړی. په ٦٢٤ هکښی هندوستان ته راغی .

(۳) صنادید عجم د مولوی مهدی حسین ناصري تالیف ۲۷۷ مخ .

(٤) ایضاً صنادید عجم ۲۷۹ مخ.

تذکرة نتایج الافکار د امیر خسرو په باب کښې وائی .

(ابولحسن یمین الدین امیر خسرو دهلوی که اصلش از هزاره بخ است پدرش در عهد سلطنت شمس الدین درسلك امرا منسلك گردید ودر قصبه پتیاله که از توابع دار الخلافت دهلی است طرح اقامت انداخته ودختر عماد الملك را بحباله نکاح در آورد وخسرو ازخون این دو پدنیا آمد) (۱)

په هند کښې دا لفاتانو دخلجی کورنی داقتدار دوره تو له خلوینبت کاله وه لیکن په دې دوره کښې علم او ادب د برزمانی پرمختګ وکړاو دهند ولس کلتور د دهی حاکمی کورنی اود دوی دحکومت د کارونو ترسخت تاثیر لاندی راغی اودمذهب په پر وتړلو هند و انو د فکر او اندیښی پور. آزادی لاس ته راوړه او په یوه جمهوری فضا او چاپیریال کښی ئی ژوند شروع کړ .

دښتر خلجی سلطان علاء الدین په دوره کښې چه کو مو پو هانو او ها لمانو ظهور وکړ او د سلطان دا رادی تر لاندی ئی مهم معنوی خدمتونه سر ته ورسول هغه دیوره نوم او شهرت خاوندان هم دی .

برنی په دی جمله کښې شامل دی چه پخپل قلم داسی لیکی :

ودصدر الدین عالی و نصر الدین قواس وحمید الدین راجه ومولینا دارك وعبید حکیم وشهاب انصاری وصدر بستی که شعری عصر علاء الدین بودند واز دیوان عرض مواجب شاعری می یافتند وهریکی را درنظم شیوه و طرزی بود ودیوانها در رلد ونثر واثر ایشان براستادی وشاعری ایشان حاکی است (لومړی توك ۳۶۰ - ۳۶۱ مخونه) .

---

(۱) تذکره نتایج الافکار ۲۱۰ مخ دقدرت الله گوپاموی تألیف بمبی طبع کسال ۱۳۲۶ ق

برنی دسلطان علاءالدین خلجی دسلطنت په باب وړاندی لیکی :
دپه‌شاعرانو اواد یبانو سربیره ددغه نومیالی پاچا په وخت کی ګڼ
شمیرمذهبی پوهان اوعالمان هم‌وو (درتمامی عصر طلائی درداز
الملک دهلی علمای بودند که‌آن چنان استادان که‌هریکی علامه
وقت‌ودر بخارا و سمرقند وبغدادو مصرو خوارزم ودمشق وتبریزو
صفاهان وری وروم ودرربع‌مسکون نباشد ودرهر علمی که‌فرض کنند
ازمنقولات وتفسیر وفقه‌واصول دین‌ونحوو لفظ‌ولغت ومعانی وبدیع
وبیان وکلام ومنطق موی شګافتند وهر سالی چند بن طالبان علم‌از
استادان سرآمده بدرجه افادات میرسیدند و مستحق جواب دادن
فتوی میشدند وبعضی ازآن استادان درفنون علم‌و کمالات علوم
بدرجه غزالی ورازی رسیده بودند چنانکه .الخ (۳۵۲ مخ) (۱)

اومن هرڅوك دتاریخی اسناد وپه شهادت داتصدیق کولی شی
چه په ربښتیا سره په هند کښی دافغان پاچا سلطان علاءالدین خلجی
او په عمومی توګه دغلجیانو دوره لکه څنګه چه ضیاءالدین برنی
لیکي یو طلائی عصر ؤ او په‌دی دوره کښی د افغانانو په برکت
دهندوستان لمن دعلم او پوهی په لحاظ د فن او هنر له مخی د دول
دول معنوي ګلانو څخه ډکه وه او په هره برخه کښی ښکاره پرمختګ
محسوس ؤ .

هم په دغه دوره کښی په شاعرانو اوادیبانو اومذهبی عالمانو
علاوه سترروحانی بزرګان دبرخی خاوندان او مشایخ چی په حقیقت
کښی دتصوف دباغ وبن ښکلی اوښائسته ګلان وو تیر شویدی چه

(۱)آب کوثر ۱۹۳ مخ .

د هغوله جملې څخه روحاني مشر او لوی صوفي حضرت خواجه نظام الدين اولیا د یاد ولو وړ دی چه په سلطان المشایخ سره شهرت لري. برني په دې باره کښې لیکي چه خلجي شاهانو به تل د سلطان المشایخ درناوی او احترام کاوه او په مهمو کارونو کښې به يې د هغه مشوره اوریدله.

خلجي افغانانو په هند کښې د غزنويانو په لاس د افغاني مسلم کلتور ایښودشوی د بنسټ ډبره نوره هم ټینګه کړه او د خپل پلار نیکه او نومیالي قوم یادګارونه يې لا زیات کړل.
د غزنویانو په دوره کښې هند ته داخل شوی افغاني رواياتو او دود دستور د غوریانو او خلجیانو په مرسته او کومك نور هم خپلې جرړې وغځولې او د هند په برهمنه اجتماع باندې يې دومره ژور تاثير وغور څو چه په يو وخت کښې يې بيا د پوره او کامل تسلط بڼه غوره کړه.
نن چه څوك د هند د نيمې وچې (د پاکستان په شمول) د اسلامي طلائي دورې تاریخ مطالعه کوي نو تصدیق کوي چه د دغه تاریخ په اصل کښې د افغاني مسلمانو کورنیو د واکمنانو او معنوي شخصیتونو د اوږدې سلطې او د هغې په نتیجه کښې د راپیدا شوي تهذیب او تمدن او تحول تاریخ دی نه بل څه.

هندي مورخین په تیره بیا هندو مذهبه پوهان او عالمان په ډېر صراحت او صفا الفاظو او عباراتو دا حقیقت په ګوته کوي چه په هند باندې افغاني مسلطو کورنیو لکه غزنویانو، غوریانو، خلجیانو، لودیانو سوریانو هیڅکله دا هڅه او کوښښ ندی کړی چه د جبر او ظلم له لارې خپل مذهب او خپل کلتور په هندو جامعه باندې ومني او یا یې خپل راتګ سره د تشدد له مخې د هندي ولس د اقتصادیاتو او اجتماعیاتو شیرازه

ونړۍ پلکه د افغانی لوسیالو کورنیو له برکته لکه چه د اسناد و په رڼا کی ستاسو له نظره تیریږی د هند د وچ ګلک روحانی کلتور د نوی مدنیت قوی اساس پښه کیښوده او متعصب هندوان دیته حاضر شول چه د افغانانو اسلامی سلطنت د جمهوری امتیازاتو او ښیګڼو څخه ګټه واخلی .

د هند په خاوره کښی د هر افغانی کورنی تسلط، د هند د خلکو دپاره د نویو او تازه پرمختګونو لار هواره او د دوی لپاره یی د هوسا او آرام او خوشحاله ژوند پوره وسایل برابر کړل .

د علومو او فنونو د ترقی دپاره چه افغانی پاچاهانو کوم تحریک پیل کړی و هغه د هند د هیواد دپاره یوه غوره او شانداره نتیجه ورکړه او د عالمانو او پوهانو کوم بهیر چه د افغانستان د ستر پاچا سلطان محمود غزنوی په وخت کښی د هند په لور روان شوی و نورو افغانی کورنیو په وخت کښی هم هغی دوام وکړ او د مغلو تر وخته پوری راورسید .

اوس په هند کښی د دری ژبی ستر ستر شاعران او ادیبان را پیدا شوی او پیاوړی لیکوال او مؤرخان منځ ته راغلی وو چه هر یو ـ پخپل خپل وار د هند په تاریخ او مدنیت کښی خپل ارزښتناک رول ولوبوه او جاویدان نقوش یی په ځای پریښودل .

زمونږ د دی نظریی په تصدیق او تایید د آب کوثر مؤلف پیاوړی محقق شیخ محمد اکرام لیکی :

(د خلجی کورنی په زمانه کښی ، په ټول هندوستان کښی اسلامی حکومت ټینګ شو ، برسیره په دی د پوهانو مبلغینو ، مشایخو بهیر د هند او (پاکستان) کوټ کوټ ته ورسید او هغه کار سر ته ورسید د کوم په

برکت چه نن ورځ د پاکستان په هیواد کښې مسلمانان بیشته دي، اوژوند کوي.

دهند خاورې ته د دغو مسلمانانو د راتګ په وجه چه کې مې مذهبي اجتماعي او سیاسي تبدیلي منځ ته راغلې هغه دهر لحاظه د پاملرنې او ارزښت وړدي او دپر کتر ناي نس پخپل اثر الدین اسلام کښې په هغو پاندې پوره رڼا اچولې ده (۱)

د تاریخ ماندو پا شادي آباد شاغلي مولف غلام یزداني دخپل کتاب په یو ځاي کښې په صفا ډول دې حقیقت ته ګوته نیسي او وايي چه (په ماله وه کښې دخلجي کورنۍ دحکومت دسقوط سره یو ځاي دماندو عظمت هم له منځه لاړ.) (۲)

پخواله دې چه مونږ دافغانستان د دغې نومیالي کورنۍ یعنې غلجیانو بحث پای ته ورسوو داضروري ګڼو چه د سلطان علاءالدین غلجي دځینو تاریخي آبادیو لنډ ذکر هم وکړو.

پياوړي محقق او ختيز پيژندونکي سر سيد احمد خان پخپل مشهور کتاب آثار الصنا د يد کښې دخزائن الفتوح يا تاريخ علائي په حواله ليکي :

دسلطان علاءالدين غلجي په مهمو دانيو کښې لاتهه ته مخامخ يولوي مسجد له سري د پري هغه ودان کړاولوړي لوړي دروازې يې پکښې کيښودي چه په ځينو ځايونو کښې يې د مرمرو ډبرې هم کاريدلي دي. سربيره په دې يې غلورنوي دمسجد دروازې هم جوړې

---

(۱) آب کوثر دشيخ محمد اکرام تاءليف ۵۳۲ مخ دلاهور چاپ .

(۲) تاريخ ماندو پا شادي آباد دغلام يزداني تاليف ۳۶ مخ دانجمن ترقي اردو چاپ کال ۱۹۴۲ اردو اد پشن .

کړی چه چتونه بی لکه برج او به هر گوټ کښی بی مثبت کاری او گنکاری شویدی او د پاك قرآن آیتونه او مبارك حدیثونه پکښی کیندل شویدی او په ختیزه دروازه بی خپل نوم کښلی دی (۱)

دغه شان آثار الصنادید د یو بل مشهور مسجد نوم اخلی چه د سلطان علاءالدین خلجی په حکم جوړ او په منځ کښی بی یو منار هم ودرول شو دغه مسجد په ۷۱۱ هجری کښی جوړ شو او تعمیر یی د آدینه بنی لاتهه په نوم یادیږی .

ځینی مورخین وائی چه دا په اول کښی بوه بت خانه وه او کله چه دغه مسلمان پاچاهنه فتح کړه نو حکم یی وکړ چه دا دی یو مسجد جوړ کړی شی او په مسجد بی د قوة الاسلام نوم کیښودی شو لیکن وروسته د مسجد کر کر په لوم مشهور شو .

حوض علائی یا حوض خاص د سلطان علاءالدین خلجی په حکم و دان کړی شو. دا حوض د خپل ساختمان له مخی یود برښه او دیاملرلی وړ حوض دی چه په ۶۹۵ هجری کښی جوړ شویدی د سلطان علا ءالدین خلجی د مقبری په باب آثار الصنادید لیکی چه :

د قطب صاحب دلاتهه څنګ ته د لوته الاسلام د مسجد شاته یو مات گود کنډرو لاړدی او په دی کښی د سترسلطان علاء الدین خلجی قبر پروت دی) (۲)

---

(۱) آثار الصنادید د سر سید احمد خان تألیف ۱۷۲ مخ د دیلی د ستررل یک د یو طبع کال ۱۹۶۵ ع اردو ادیشن د دغه مسجد ذکر امیر خسرو په قرآن السعدین کښی داسی کړیدی .

مسجد او جامع فیض الله زمزمه خطبهٔ او تا بماه

(۲) ایضا دغه کتاب

هند سلطان علاء الدین خلجی افغان چه د هند تاریخ یری و یاری اوددغه هیواد په غاړه لوی حقونه لري په تیره بیاددغی ملك د اسلامی درونو به غاړه چه ددی په برکت هلته میشته او هستوگن شویدی.

اوس موږ به هند کښی د خلجی افغانانو د ستر وعلمی او مدنی خدمتونو د ذکر په ځای کښی د افغانستان دهلی پاچاوی او نورو والی کورنی په هکله معلومات وړاندی کړو چه په هندوستان کښی د دی ماری تحول او بدلون سبب شوه او د علم او مدنیت په برخه کښی مهم او سختکونه ولیدل شول. دغه پاچاوی کورنی ، لودی افغانانو وچه دسلطان سکندر غوندی عظیم شخصیت په هغی کښی راپیداشو.

څلورم څپرکی

په هند کښې د لودي افغانانو طلائي دوره یا عهد احیاء علوم

په هند کښې د لودي کورنۍ د اقتدار دوره په حقیقت کښې د بهلول لودي افغان څخه پیل کیږي او هم دي د دغې کورنۍ اصلي موسس ګڼل کیږي چه له ۱۴۵۱ ع څخه تر ۱۴۸۹ عیسوي کال پورې په هند کښې د اقتدار خاوندوه.

د لودي افغانانو په دریو کورنیو کښې دری مشرانو پاچاهان تیر شوي دي چې په ترتیب سره بهلول لودي له ۱۴۵۱ ع څخه تر ۱۴۸۹ عیسوي پورې سلطان سکندر لودي د ۱۵۸۹ عیسوي پورې او ابراهیم لودي له ۱۵۱۷ څخه تر ۱۵۲۶ عیسوي پورې د هند د ټولواکۍ تاج په سر درلوده او ټول په هندوستان کښې د خپلو مهمو څه متونو مشرانو د کار ونډه په ځای پر ښودل چه نن ورځ دا افغانانو په شمله کښې دا افتخار او وياړ نې هوکای ګلونه پېژندل کیږي.

په موجوده بحث کښې مونږ لوسږي د بهلول لودي د لويو کارو نو او د هغه په مداوت کښې ددې دغه کندي او ستري برخې لنډ تفصيل بيانوو.

دلته مونږ نه غواړو وچه د بهلول لودي يا دلودي کورنۍ د نورو پاچهانو د فتوحاتو او هغوی د جګړو شرح ولیکو يوازې دا غرګندول غواړو چه د دغې لوسمالي او پياوړي کورنۍ دا قتدار او حکومتونو تاثير دهند پانو په تولنه باندې څومره او ترکومې اندازې پورې وه او دوی دهند پانو د بيداري او وېښو لو لپاره څه څه خدمتونه سرته رسولي دي.

بهلول لودي پښتون د ۸۰۵ هجري کال دربيع الاول دمياشتې په ۱۷ تاريخ د بو خپلواك پاچا په توګه څانته د سلطان بهلول شاه غازي لقب غوره کړ (۱) ليکن ځينې تاريخونه لکه طبقات اکبرى او د بداينۍ منتخب التواريخ د بهلول لودي د پاچاهۍ نيټه د ۸۰۵ هجري کال دربيع الاول ۱۷ ورځ ګڼي (۲)

چه دواړو نيټو ترمينځه پوره پنځه کاله توپير راځي واقعات دارا لحکومت دهلي د بهلول لودي د پاچاهي اعلان په ۸۰۶ هجري کښې ليکي (۳).

---

(۱) مرقع افغان د مولوی ابوالحسين تاليف ۳۷ مخ دعلي ګړه چاپ کال ۱۹۰۳ ع د تاريخ داودي په حواله.

(۲) ايضاً مرقع افغان ۶۲ مخ د طبقات اکبرى او منتخب التواريخ په حواله.

(۳) واقعات دارا لحکومت دهلي دغه نيټه په دې شعر کښې راوړيده

شاه بهلول چون به تخت نشست ، عدل دمساز زيب مملکت است
ګفت دل سال چيست دهاتف ګفت که بهار جلوس سلطنت است

له وروستي مصرع څخه ۸۰۶ هجري لاس ته راځي.

بهلول لودی د افغان پاچهان دا پښتنی د پاچاهانو په لړ کښې یو فیاض لوړ همت او د جنګی قابلیت لرونکی پاچا ؤ چه په هند وستان باندې یې حکومت وچلوو (١)

بهلول لودی په ١٤٧٨ عیسوی کښې جونپور ونیوه او شرقی پاچایې له هغه ملک څخه بیرون کړ په دې ډول د جونپور په قبضه کولو دپای دحکومت سرحد، د بنګال سره ولګید. (٢)

بهلول لودی چه څو مره په جنګ جګړه کښې یو زړور او میړنی انسان ؤ هو مره د سلطنت او حکومت په چارو کښې مهربانه، حوصله مند او رعیت دوست پاچا ؤ چه دده په تخت کیناستلو سره د ډیلی په سلطنت کښې یو نوی روح وچلید او د لاسه تللی طاقت یې بیرته لاس ته راغی (٣)

بهلول لودی یو هوښیار، شریف او ساده پښتون پاچا ؤ چه د پوهانو او عالمانو ډیر احترام او عزت یې کاوه او ظاهر پسند نه ؤ. (٤)

«دغه پاچا د زیاتو خصائلو او لوړو صفاتو خاوند ؤ دیندار، شجاعت هعار، سخی برد بار او اطر تا کریم النفس ؤ دی د شریعت او اسلامی اصولو سخت پابند ؤ او په دې برخه کښې یې هیڅکله سستی و نښوده.

---

(١) هستری اف انډیا داریې تری پاتی تاءلیف ٩٧ مخ دجلندر چاپ کال ١٩٦٠ طبع

(٢) اهل هند کښې مختصر تاریخ د ډاکټر تاراچند تاءلیف ٢٢٦ مخ

(٣) تارخ هند ذکاالله ١٨٦ مخ د نو لکشور طبع کال ١٩٤٨ اردو اډیشن.

(٤) ګلډپسس فرام انډین هستری د ډاکټر بی ام شرما تاءلیف ٥٠ مخ اردو اډیشن.

د شریعت خلاف کارونو او اجراآتو څخه یې تل ځنډه کوله او پیښه او ورځ یې د پوهانو په مشورت کښې تیروله. بهلول لودي پنځه وخته به جمع لمونځ کاوه هڅکله یې د کوم سوالګر تقاضا نه رد کوله د محتاجو او بوزلو لاس نیوی یې همیش کولو د انصاف او عدالت سخت طرفدار و چه د خپل رعیت عرضونه یې شخصا اوریدل او په شکایاتو یې غور کاوه.

بهلول لودي په کارپوه آزاده مهربان او رعیت پرور و سپاهیانو ته یې تل بخششونه ورکول او د ځان لپاره یې هیڅ توقع نه درلوده ځکه خو هغه د خزانې د کولو هیڅ خیال نه ساتلو ساده ژوند یې کاوه او دسترخوان یې ډیر پراخه و او له همدې کبله یې د ډوډۍ په وخت کښې له دروازو څخه وظیفه داران او دروازه وانان لرې کول څو هر محتاج په آزادۍ سره د خوراك لپاره راننوتلی شي.

که څه هم دی او دربار به خاص و یا عام بهلول به په ځمکه کیناستلو او په تخت د کیناستلو شوق ورسره نه و د حکومت مشرانو یې په ولاړه له ودریدلو څخه سخت منع کول او د یوې جمهوري طریقې طرفدار و. هغه چه به هر کله کوم فرمان لیکلو نو د (مسند عالي) لقب څخه به یې شروع کوله. د سلطان بهلول د دغه تصنیف چه هر مقصد و ور وسته دغه لقب د افغاني پاچاهانو په زمانه کښې د ډیرو لویو او ممتازو امرائو امتیازي شاهي خطاب وګرځید.

بهلول د لودي د امکان په حدودو کښې هیڅوك له ځانه نه خپه کول. د ده په د آمراو سپاهي سره پوشان دوردو ګاوی سلوك کاوه او حتی که

دکوم سړاهي يا افسرله تاروغيوا څخه په خبر شوئو پخپله يې د هغو

تپوس او عيادت ته ورتلو .) (۱)

سلطان بهلول لودي دخپلو مهمو ولسي کارونو په جمله کښې چه د

هندیانو د مړي ژوندی دعادا تواو رسومو په برخه کښې کوم مهذب

اومدني کار سرته ورسوو هغه داؤچه د مړي د دریمی ورځې لرخوني او

هر اقتصادي مراسم بي له مينځه يوړل .

پخواله سلطان بهلول لودي څخه چه به څوك وفات شول نو به دريمه

ورځ به کوروا لاوولاس نوي کونکو باندي چه د همدردی شودلو لپاره

به د مړي دخپلوانو کورته را تلل شربت، پان، مصري او بوره ويشل ليکن

سلطان بهلول لودي دغه بې ځایه دود چه دخلکو اقتصاد تدبير زيات

زيان رسووله مينځه يوړ او دغه په ځای بې يوازې دگل او گلاب دود

کولو رسم جاري کړوچه دن ورځ هم دهند د خلکو په منځ کښې

د (پهول يعنې گل) په نامه دوداو دستور جاري دی . (۲)

بهلول لودي ددغې رسم په باره کښې بوه ورځ خپلو خپلوانو ته وويل :

دغه دودونه باید جاري ونه سا تو دباره ددي چه که یو غريب افغان

وفات شي نود دودتوم سوونه کسان به تپوس او همدردي ته راځي نو

په دی وخت کښې به هغه بې وزلي کورني دغه دود کله پوره کړي

شي ځکه خو بايد يوازې په خوشبو بي قناعت وشي . (۳)

دسلطان بهلول لودي افغان پاچا په ظاهر کښې دغه کوچنی

اجتماعي کاردهندیانو په نظر کښې لوړی عجيب ښکاره شوليکن سوونه

---

(۷) مرقع افغان دمولري ابرار حسين تاءليف دعلگره چاپ ۳۷ مخ.

(۲) ايضاء مرقع افغان دتاريخ د اودي په حواله ۳۸ مخ

(۳) ايضاء مرقع افغان د تاريخ د'ودي په حواله ۹۳ ر ر

کاله پس نن ورځ دهند خلك دې بهم او ارزښتناك کارته دقدر اودر ناوي په سترګه ګوري او زيات اهمت ورکوي .

سلطان بهلول لودي بونیا من انسان ؤ تل یې په ولس کښې دعدالت په ځای کولو دپاره هڅه او تلاش کاوه .

دغه افغان پاچا په خلکو کښې دمساوات او برابرۍ دټینګولو په لار کښې زیاتې هلې ځلې وکړې اودرعیت او سلطنت په منځ کښې یې دکلونو پرته فاصله له منځه لرې کړه او رعیت ته یې دغه حق ورکړ چه هغه دې د خپل حق دپاره خپله په لار کښې مبارزه وکړي اوددې مقصد د پوره کولو لپاره دې خپله دده سره مستقیمه رابطه ټینګه کړي په داسې حال کښې چه برهمن طایفې (هندوانو) پخوا دې آزادۍ په خوب کښې هم نه وه لیدلې بلکه دبرابرۍ او مساواتو د مفکورې په ځای هغوی دکاسټ سیستم او دانساني طبقه بندۍ عقیده او نظر په در لوده او کلك په هغې ولاړوو .

سلطان بهلول لودي دخپل سلطنت په اوږد دوره کښې چه تقریبا ۳۸ کالو ته رسیږي داکوښښ وکړ چه ولس د جنګ اوویښ تویولو له آفت څخه ګوښه وساتي او په ځای یې خلك په سوله او هوساینې کښې ژوند وکړي لکه چه هغه په همدغه دلیل په نورو باندې دیر ځل طرفدارنه وه اوزیات وخت یې په بدلو نعمه کښې تیر شو .

دغه افغان لودي پاچا دظلم او استبداد سخت دښمن وه اود پښتنو دلږ ځوني دودد ستو رسره سم یې دښځو ډیر زیات قدر او احترام کاوه لکه چه دجونپور د سلطان حسین شاه شرقي دمیرمنې داسارت په هکله تاریخ مګد یو په زړه پورې مطلب راوړی دی تاریخ مګد ه لیکي :

(کله چه دقنوج په لور د حرکت په وخت بهلول لودي دره ټ ذسیند په غاړه دحسین شاه شرقي سره مقابله وکړه نوحسین شاه دپخوا

پشان بیاماتی وکړه او دا محل بی بی بی خوانزا چه د علاء الدین عالم شاه لوروه د بهلول لاس ته ورغړه لیکن بهلول لودی افغان په ډیرعزت او احترام هغه بیرته حسین شاه ته ولیږله) (۱)

پهدی ډول سلطان بهلول لودی دخپل اقتدار په وخت هم خپل افغانی اوچت کردار او لوړمعنویت پهځای وساتلو او هندی خلکوته یی دخپل قوم یو ښا ندار مثال وړاندی کړ.

بهلول لودی په هند کښی داقتدار اوحکومت په وخت هیڅکله بیت المال دځانی او شخصی غرض دپاره لوټ نکړ بلکی دبیاد یانت رعیت پرور او امانت کار پاچا په توګه یی ولس ته دا ثبوت وړاندی کړچه ددنیوی او مادی امتیازاتو لیوالی او شوقی ندی او هدف یی یوازی دخپل رعیت خدمت دی نه بل څه. سلطان بهلول لودی په حکومتی چارو کښی دومره حوصله در لوده چه چا یی کله سپوره ستغه خبره لهخولی وانه وریده (۲).

سلطان بهلول لودی یو پرهیز ګار مسلمان پاچا وه یو ډیر ساده ژوند یی در لود، دشان اوشوکت او انسانی دیدیی سخت مخالف وه او ویل یی چه که سلطان یم نوانسان هم یم او باید دانسانیت درجه لوړه وساتم په غریبو او بیوز لو ډیر مهربانه وه د عالمانو او

---

(۱) تاریخ مرکده د مولوی فصیح الدین بلخی عظیم آبادی تالیف ۱۶۵ اردو ادشین د کال ۱۹۴۲ طبع

(۲) مرقع افغان دتاریخ داو دی په حواله ۴۱ مخ د مولوی ابرار حسین تالیف.

پرهېزګارو خلکو دصوبت سره يې خورا علاقه درلوده او ددوی سرپرستي هم ورپه غاړه وه (۱)

دسلطان بهلول لودی کرکټر او اخلاقو دده په رعیت ژور تاثیر وکړ او دغوی په زړو نو کښې یې انسانی لوړ ممیزات او صفات په را ژوندی کړل او همدغه حالت سبب شو چه د خلکو دپاره دزړ او ورمېنټکولو لار آواره شي او يود دموکرات او آزاد حالت راپیدا شي دبهلول لودی دعادلانه روش او غوره اجرا آتو نتیجه دا شوه چه دسکندر لودی دا قتدار طلائی دوره چه دهند په تاریخ کښې ورته دعهد احیاء علوم نوم ور کړ شویدی په بریالی دول سخ ته راشي (۲) دبهلول دده ستر لودی افغان دپاچاهی کامیابه او سو کاله دوره چه دحقیقت له مخی دملت لپاره دخوشحالی او کراری دوره وه په ۸۹۴ هجری کښې پای ته ورسیده (۳) او په ځای یې زلمی او نومیالی

---

(۱) تاریخ هند ذکاء الله دریم توک اردوادشین .

(۲) اسلامی کتبخانی دالحاج محمد زبیر تالیف ۱۹۴ مخ اردوادشین .

(۳) واقعات دارا لحکومت دهلی دسلطان بهلول لودی دوفات نیټه په دی شعر کښې استراج کړیده :

هشتصدو نود وچهار رفت از عالم

خدیو ملک ستان جهان گشا بهلول

زتیغ ملک ستان بود ملک دفع اجل

بود محال به شمشیر وخنجر و مصقول

شهنشه عالم شه بهلول که دیدی

افتاده در اطراف جهان صیت جلالش

در خلد شد وگفت سروش ازسرجنت

قصد سفر عالم ارواح زسالش

له وروستي مصرع هجه ۸۹۴ لاس ته راځلی دی .

حوی نظام خان دسلطان سکندر لودی په نوم دهندوستان په تخت کیناست چه دده عصر او دوران دعلومو او فنونو دترقی او پرمختګ دوره پیژندل کیږی .

سلطان بهلول لودی ۳۸ کاله اته میاشتی او اته ورځی پاچاهی وکړه او په دی اوږده موده کښی د مادی او معنوی پلوه په ټولنه کښی ښکاره بدلون او تحول راغی . اسلامی رسوماتو دهند وانو په ژوند او مذهب اثر وکړ ځکه هغوی د بت پرستی عادت له خپل حاله حالت څخه را ووت او عادی بڼه یی غوره کړه .

بهلول لودی یوحقیقی مسلمان پاچا و لیکن هیڅکله له ده څخه په دی برخه کښی چاتعصب ونه کوت او هندی حرکت د هندوانو په مذهبی روش دیر ښه تاثیر وکړاو هغوی یی هم دتعصب له پاتکی څخه را ښکته کړل .

اوس به دتاریخی معتبرو اسنادو په رڼا کښی د لودی افغانانو دپیاوړی او علم دوسته پاچا سلطان سکندر لودی بن سلطان بهلول لودی دمترقی او پرمخ تللی دوری انده کتنه او مطالعه وکړو دهند په تاریخ او مدنیت کښی د څه ستراو نوموړی لوی نقش او اثر را څرګند شی .

دسلطان بهلول لودی له وفات څخه وروسته نظام خان دسلطان سکندر په نوم په تخت کیناست . نظام خان د ۸۹۴ هجری کال د شعبان دمیاشتی په ۱۷ نیټه دجمعی په ورځ (جلالی) ته نږدی د (کالی ندی) په غاړه په (کوشك سلطان فیروز) نومی ځای کښی په د اسی حال کښی چه نور افغانان لکه خان جهان لودی خان خانان فرملی او نور حاضرو

شاهي تاج پهسر کېښود او سلطان سکندر شاه غازي لقب د ځان لپاره غوره کړ . (۱)

دغه افغاني پاچا يو اتزيني سړى دى چه مؤرخينو په يوه اتفاق سره دغه په هکله تقريباً يو شان او نږدې نظريې ورکړي دي مورخين اکثريت دا قصد يې کوي چې په هندوستان کښې : سلطان سکندر لودي دا قتدار دوره دعلومو او فنونو کار او زيار .

سياست او ادب د کامل پرمختګ دوره وه او دولس دژوندانه په هر اړخ کښې څرګند بدلون راغلى وه (سکندر لودي دځپل سلطنت په وخت کښې د تحول او بدلون آغاز د لرغونې پايتخت د بدلولو څخه وکړ په دې معنې چه ده دا ګرې په نوم يو بل ښار ودان او هغه يې دځپل نوي پايتخت په توګه غوره کړ (۲) (سلطان سکندر لودي پخپله يو عالم او اديب پاچا وه او هم يې د پوهانو او عالمانو ډير زيات احترام او درناوې کاوه دځپل سلطنت د يو اسلامي جمهوريت په ډول چلولو او په هيواد کښې يې دچارو د اداري لپاره دعالمانو او پوهانو يوه جرګه جوړه کړې وه چه هغه د (مجلس شورا) په نوم يادېدله په دې علمي جرګه کښې ټول پاشور آکښي او پاتنولو واونورو پوهانو ګډون درلود يعنې دغه او پاعالمان ددغې مجلس غړي وو .

د دغه مجلس لوى امتياز او افتخار داوه چه دې هيڅکله د پاچا په اشاره يا هدايت کار نه کاوه بلکه په ټوله معنى يې د اسلامي شرعي اصولو سره سم د ملت په ګټه کار کوو او دا هغه طريقه وه چه تقريباً د

(۱) مرقع افغان دمولوي ايرار حسين تأليف ۷۷ مخ د علي ګره چاپ کال ۱۹۵۳ ع

(۲) اهل هند کې مختصر تاريخ دډاکټر تاراچند تاليف ۲۲۶ مخ .

دلوبړي محل لپاره د یوافغان پاچا په واسطه په هند کښې منځ ته راغلی وه (۱)

دسلطان سکندر دسلطنت په دوره کښې دعالمانو او پوهانو مجلس دیو دول مخالف گوند په درلوده او دا پخپله د پاچا د حق پرستۍ او جمهوریت خوښونې یوه غټه نمونه حسابیږي .

سلطان سکندر لودي دعالمانو او پوهانو دهغه مجلس لپاره د (خاص محل) په نوم یو محل تاکلی وه او هغوی به په هغه ځای کښې خپلې غونډې کولې (۲)

سلطان سکندر لودي افغان دعالمانو او پوهانو ماره دشاهي دسترخوان څخه دډوډۍ او خوراك بندوبست کړی و او چه کله به سلطان خپله ډوډۍ وخوړه نو دعامي نماینده گانو وغړو ډوډۍ به یې د هغو کورو ته ولیږله او هغوی خپله ډوډۍ به خپل کور کښې دخپل اولاد او عیال سره وخوړه (۳)

دسلطان سکندر لودي په حکم او هدایت د ښار په ټولو ښارونو کښې د محتاجو مسلمانانو او هندوانو لپاره داوسې او پخې ډوډۍ دویشلو سرشته نیول شوې وه د سړو او یخنو په موسم کښې لودي پاچا په ټولو بیوزلو فقیرانو او شلو گوډو او ړندو باندې د تودو جامو او حتې شړې برد ویشلو حکم کړی و د جمعې د لمانځه نه وروسته به دا فغان سلطان په امر په غریبانو باندې خیرات ویشلو او د روژې او محرم الحرام

(۱) مرقع افغان ۷۸ مخ .
(۲) ایضاً مرقع افغان ۷۹ مخ .

(۳) مرقع افغان د مولوي ابوالحسن تالیف ۹۷ مخ دعلمي کره چاپ

په مبار کو میاشتو کښې په د یوه او محتاجو وګړ وسره زیاته مرسته کېدله (۱)

سلطان سکندر لودی د لودیو کهول لپاره په هند کښې د ژکو ة او دقیرونو د زیارت په هکله یو نوی حکم جاری کړ د هغې اصلی وجه داوه چې په ۲ ۹ هجری کال په ټول هند کښې د غلې قحطی راغله نوا فغان سلطان سکندر ، دوامی د استوګه ځای په خاطر امر وکړ چه د غلې ذکاته دی نو رهند کړی شی (۲)

دغه شان په همدغه زمانه کښې لودی پاچا په قبرونو باندی د پیڅو ګرزیدل منع کړل ، وهدی برخه کښې هم هغوی د علمی خوندی مشوره اخستې وه (۳)

دلته مونږ د لودی افغان سکندر غازی د علمی دوره باب کښې د اسلامی کتب خانې له کتاب څخه یو څو کرښې اقتباس کوو :

پهدغه کتاب کښې ذکر شوېدی چه :

ودغه پاچا د سلطنت دوره د علومو د پیرته ژوندی کېدو وره وه په عهد احیا علوم ورته وائی په ۱۳۹۸ عیسوی کال چه د تیمور د یرغل په وجه د ډیلی علمی ګلستان وران شوی او علمی ذخیری له مینځه تللی وی په هغو باندی بیرته سکندری پسرلی راغی او برباد شوی علمی ماخذ بیرته راژوندی شول .

---

(۱) ایضا دغه کتاب او دغه مخ .

(۲) تاریخ مګده د مولوی فصیح الدین بلخی عظیم آبادی تالیف ۱۶۹ مخ د انجمن ترقی اردو طبع کال ۱۹۴۴ ع .

(۳) ایضا تاریخ مګده همدغه مخ .

وهندوانو کښې ددرې ژبې درده کړې تحریك په دې دوره کښې
پیل شو ـ د تاریخ داودې اوطبقات اکبرې دمصنفینو په قول دهر یو په
دماغ کښې دعلم ـ ود ا لویدلی وه او د اخبره له حقیقت څخه لرې نده
چه وویل شي په هر کور کښې یوه یوه کتابخانه وه ـ
سکندر لودې افغان دعلم اوپوهې په خپرولو او اشاعت کښې
زیاته توجه درلوده په نروار او ـتهرا او څنو نورو سیمو کښې یې
ښوونځې اومدرسې دمسلمانو ـ زده کړې او تعلیم لپاره پرانستې
او دهندې او ـنسکرت دکتا و نو ترجمې وشوې سیا بهوه یخول ـشهور
کتاب (معدن الشفا) کښې لیکې چه (هر طرف علم و اهل وا رونق
شده در فصحای روز گار وعلمای کبار در هر علمی تصنیف ساختند) .
معدن الشفا یاطب اسکندری ددې وخت یو مهم طبي اثر دی : دغه
کتاب په پنځه سوه مخونو کښې له یوزر نارو غیو څخه زیاتي ناروغي
معر فی او دهغوی علاج په گوته شوېدی دېې د تکمیل په لر کښې
چه کله د روغتیا نو ر آثار او کتا بو له راټول کړې شول او له خراسان
(اوسنې افغانستان) څخه هم څو کتابونه را وغوښتی شول
نو له دې لارې شاهې کتابخانې ته ډیره گټه ورورسیدله او په هغې
کښې د روغتیا د ارزښتنا کو او نایابو کتابونو ذخیره جوړه شوه (۱)
میا بهوه د طب اسکندرې مولف د سلطان سکندر لودې له ډیرو
اثردی دوستانو څخه و او قبلی یې په هغه باندې مهربانی درلوده میا بهو
سلطان سکندر ته عرض وکړ چه په یونانی درملو او هندوستانی طبیعتونو

(۱) اسلامی کتب خانې دالحاج محمد زبیر تالیف ۱۹٤ مخ
دډیلې دندوة المصنفین چاپ کال ۱۹٦۱ مخ

کوښ کوم خاص مناسبت نښته دی په دی وجه خود هندستان دحکیمانو
یو ، دا سی خلاصه په دری ژبه یا زدی پکاردده په کوم کښی چه
دهندوستان د ټولو مشهورو طبیبانو نسخی او د دوی ډول ډول نارو غتیاو
لپاره د مجربو نسخو ذکرو او د ترسلوند کرراغلی وی .

سلطان سکندر لودی د میاں بهوه مشوره قبوله کړه او پخپله دغه
سری ته موظف کړچه لازم کتاب تالیف او ترتیب کړی او میا بهوه
هم طب اسکندری یا معدن الشفا تصنیف کړ

په هندوستان کښی د اسلامی طب په تدوین او ترقی کښی چه دغه
کتاب کوم سترا همیت لری هغه هیڅکله خپل ارزښت لاسه نه ورکوی
او د هغه خدمت په حقیقت کښی فغان پاچا سلطان سکندر لودی سرته
ورسوو او د هغه په برکت د غه قیمتی اثرمنځ ته راغی د غه کتاب تر
اوسه هم د استعمال وړدی او استفاده تری کیږی (۱)

هغکښی مونږ دی خبری ته اشاره وکړه چه پښتون سلطان سکندر
لودی د ینی چوروته هم زیاته پاملرنه کړی وه او حکومت بی د یو اسلامی
جمهوری حکومت بنسټ درلوده دی پاچا د اسلامی علومو د پیشرفت دپاره
په پیلو پیلو سیمو کښی د ینی مدرسی جوړی کړی دغه شان یی په هر
ځای کښی ښکلی مسجدونه ودان او امام ، مؤذن ، خطیب او مدرس
یی ورته وټاکل. عهد اسلامی کا هندوستان لیکی چه د لودیانو په عصر
کښی علم او پوهی د خلجیانو له دوری څخه هم زیات پرمختګ وکړ.
سیر المتاخرین لیکی :
سلطان سکندر لودی مسجدونه او مدرسی جوړی کړی او په هغو

(۱) آب کوثر د شیخ محمد اکرام تالیف ۲۲۰ مخ د لاهور چاپ

کښې یې امام، آذان ورکوونکی، خطیب، مدرس وټاکل او دهغو وظیفې او تنخواګانې په دسلطان له خوا ورکول کېدل (۱)

دسلطان سکندر لودي دسلطنت دورې ته په خصوص توګه او دلودي افغانانو دورې ته په عمومي ډول په هند کښې دعلوم او فنونو د پاره عصرو بیل کېږي ددې وجه یوازې داوه چه بهلول لودي، سکندر لودي او ابراهیم لودي دری واړو پاچاهانو د خپل اقتدار په وخت کښې دملت دمعنوي ارخ دقوي کولو د پاره زیاتې هلې ځلې وکړې او په تیره بیاد سکندر لودي په دماغ کښې دانظر په پرقه وه چه که خلك دعلم او پوهې په وسیله سمال وی نودا بخپله دهیواد امنیت او ترقی ضمین کولی شي.

سکندر لودي دعلماو کوښښ تاوه چه که له خراسان څخه ری یا ایران یاعرب وی که عجم پوهان او د علم او فضیلت خاوندان خپل دربار ته راوغواړي اود دپرو امتیازاتو په مقابل کښې یې دولس خدمت ته وګماري.

ودسکندر لودي په نیك مرغه او خوشحاله دوره کښې پوهان او عالمان له هرې خوا وخوشتلی شول او په ډېلی او اګره کښې میشته کړی شول. په دغو ځاېونو او خوا وشاسیمو کښې د غو عالمانو پرا خه کارونه پیل کړل اوددې د پوهې اوعلم له سرچینې څخه ډېرو خلکو فیض اوبه وختلی او پهدې ډول دسلطان سکندر دحکومت دوره

---

(۱) عهداسلامی کاهندوستان دسید ریاست علی ندوی تالیف ۲۷۷ مخ

يعني نهمه اولسمه هجري پيړۍ دهندوستان لپاره په حقيقت کښې دعلومو د احيا دوره وه)) (۱)

په دې دوره کښې د زده کړې او تعليم شوق او مينه دومره په خلکو کښې زيات وه چه دتاريخ داودي وطبقات اکبري او منتخب التواريخ په قول :

«که امير زاده وه يا معمولي انسان دهر يوه دماغ کښې د علم او سواد مينې ځای نيولی وو.»(۲)دسلطان سکندر لودي دسلطنت دوره نه يوازې د مسلمانانو دپاره دعلم او پوهې د زده کړې زمانه وه بلکې هندوان هم د مسلمانو په شانګ کې دمتداولو علومو په حاصلولو مشغول وو ولکه چه ددغې وخت په علمي خدمت کښې دمسلمانانو سره يو ځای هندوانو هم برخه اخيستې وه (۳)

د سلطان سکندر لودي چه د ملکي کار و نو لپاره کوم مجلس شورا جوړه کړې وه او غړي يې تول عالمان او پوهان وونود دغو غړو دټاکلو دپاره په هم انتخابات کېدل او يې له انتخاب څخه هيڅوك په دغه مجلس شورا کښې نشو شامل کيدی » (٤)

دسلطان سکندر لودي په او اساس نيت څخه دده په سلطنت کښې و لر ډيرې گټې واخيستې او ددغه علم پرور پاچا علم دوستی پخپل وخت کښې ډيرې شوره او يې ساری نتيجې ورکړې . ددغې نتيجې د هيند په لرغوني مدنيت د لودي کورنۍ د اسلامي دورې

---

(۱) مرقع افغان دمولوي ابرار حسين تاه ليف ۸۰ مخ

(۲) ايضاً مرقع افغان .

(۳) ايضاً مرقع افغان .

(٤) ايضاً مرقع افغان ۷۸ مخ .

ژور تأثیر وچه حتی په هندوچاهغه او سیکانوکښی لوی خلک او مصاحبین او دپاک ضمیر خاوندان راپیدا شول چه عقاید وبی مستقیم د ولږ داسلامی تعلیماتو پوری رابطه پیدا کوله دغه کسان ووکبیره گروتانټ او داسی نور.

«دسلطان سکندر لودی پاچا په زمانه کښی، د هندوستان په هر گوټ کښی دعلم پلوشی خپری شوی او سلطان پخپله د علم او ادب په روا جولو کښی زیات کوښښ کاوه او هغه چه په دی وخت کښی په هیواد کښی امن او امان ونود پاچاد غو هلو ځلو هم ډیره ښه نتیجه ورکړه.

طبقات اکبری د سلطان سکندر لودی په هکله لیکی:

«در عهد او خنده او علم رواج زیاد یافت و امیرزادگان دولت وسپاهیان بکسب فضل اشتغال نمودند» (۱)

دغه شان معدن الشفاء هم ددی تاپید کړی او لیکی:

«هر طرفی علم و فضل را رونق شده و کرم و بذل را رواجی آفزود و فصحای روزگار و علمای کنار در هر علمی تصنیفات ساختند و در هر فنی فتحنامه ساختند» (۲)

نو حیالی افغان پاچا سلطان سکندر لودی غازی نه یوازی له خراسان (اوسنی افغانستان) څخه چه د دی پلرنی هیواد د علوم او پوهان او عالمان په هند کښی دعلو مو او فنونو د اشاعت لپاره په خپله خاص پاملرنه ده او بلکی له ایران او عربو څخه یی هم پوهان د زیاتو پیسو ژواوسره راوغوښتل او دخپل نظر لاندی یی دغو مواو فنو نو په پلو پلو څه ستو نو

---

(۱) آب کوثر دشیخ اکرام تالیف ۲۲ مخ د لاهور چاپ

(۱) ایضاً آب کوثر ۱۲ مخ.

وګمارل بلکه هندی پوهانو او عالمانو ته یې هم داوظیفه ورکړه چه هندي دوېدک کتابونو او آثارو ترجمې په مخلي ژبو وحتی په دري ژبې باندې وکاندي څو لرغونی او هېر شوي علوم بیرته په جامعه کښې راژوندي شي.

دوېدک کتابو د ترجمې په وسیله د هند لرغوني طب بیرته احیاء او پراخوالي ورته ور کړي شو. تاریخ د ودې په دې باره کښې لیکي:

«داودي افغان سکندر په حکم دوېدک کتابونو څخه د علم یو عجیب کتاب دنیا پوهانو ته فارسي ترلاندې ترجمه کړی شو او په هغه باندې د طب سکندري نوم کېښودل شو. د هندوستان د حکیمانو د علاج کار په هغه کتاب وه او دا د لودي پاچاهانو له پاره کارنامه وه چه سرته ورسېدله» (۱)

دا فغان سکندر لودي په کوښښونو په هند کښې د علومو احیا دا نتیجه ورکړه چه په خلکو کې حیا، نیکي، ادب، بیداري، دین پروري، پرهېزګاري او امانتداري را پیداشي او غلا، چورچپاول، بدکاري او دغه شان نور ناوړه افعال او حرکات ترزیاتې اندازې پورې له منځه لاړشي او یو روحي تسکین او اطمینان د خلکو په زړونو کښې غزوني وکړي (۲)

په هندوستان کښې دلودي افغاني کورنۍ د اسلامي حکومت په نتیجه کښې هندوان او مسلمانان دواړه د علم په یونوي عصر کښې

(۱) مرقع افغان د مولوي ابرار حسین تالیف ۸۲ - ۸۲ مخونه دعلی ګره چاپ.

(۲) مرقع افغان د مولوي ابرار حسین تالیف ۸۳ مخ.

داخل شول او د پیاوړي محقق او لوی مورخ سرجادو ناتت سرکار په عقیده هند ته دیری نا ئیدی ورسیدی .

د سلطان سکندر لودي افغان د زماني لوی عالمان شیخ عبدالله طلمبي او شیخ عزیزالله طلبی وو چه پوره نوم او شهرت یې درلود او لودي پاچایې هم زیات احترام کاوه او کله کله به پاچا شخصا د شیخ عبدالله درس محای ته ورتلو او ډیره علاقه او دیوعادي انسان په توګه به یې دغه عالم خبري اوریدلی (۱)

دلودي افغانانو د کورني پاچاهانو نه پوازې پخپلو محلانده کارنامو او سترو خدمتونو خپله دوره روښانه کړه بلکه دسو ونو کالو پوري یې د تدریس او تصنیف په واسطه د کتابخانو رونق زیات کړ . (۲)

(مخزن افغاني) لیکي چه لوی عالم او کره صوفي مخدوم شیخ سماالدین (متوفي ۹۰۱ هـ) (۳) د سلطان سکندر لودي د احترام وړ او دغه یې د خپل خاص نظر لاندې سا تلو او ددې وجه داوه چه خپله سلطان یو علم دوست او عالم پرور انسان ؤ او په خپل سلطنت کښې یې د علم په خپرولو کښې ډیر کوښښونه وکړل او ستر خدمتونه یې سرته ورسول .(٤)

---

(۱) عهد اسلامي کا هندوستان د سید ریاست علي ندوي تالیف ٦٧٧ مخ .

(۲) اسلامي کتاب خاني د محمد زبیر تالیف ۱۹۷ مخ .

(۳) اسلامي کتب خاني د مخزن افغاني په حواله . داد مفتاح الاسرار د شیخ فخرالدین عراقي په لمعات حواشي تذکر محضرت مخدوم شمس العارفین صدرالدین محمد

(٤) همدغه کتاب ۱۹۷ مخ .

دسلطان سکندر لودی افغان‌علمی غوښتنه یوازی ادبی او تفریحی وی بلکه علمی او تعلیمی هم وی او زیات په‌علمی ډول او طریقو باندی بحث کیدو. دهیواد دتنظیم او اصلاح دپاره دغه باچا خپل ژوند وقف کړ.

دتاریخ داودی مصنف لیکی:

«سلطان سکندر په هغه ملك قناعت وکړ چه‌دپلارنه ورته میراث پاتی شوی‌و او ټول ژوندیی دخپل رعیت دخوشحالی او دامیرانو غریب په یو برابر خدمت تیر کړ او په هیچا یی‌ظلم او تیری ونکړ په تیره بیا د بزرگانو دیر زیات احترام او رعایت یی‌کولو هغه پوهیدلو چه دهیواد رونق او آبادی ټوله دکښت په فروانی ده» (۱)

په دی سلسله کښی مرقع افغان دتاریخ داودی په حواله دیوی ډیری په زړه پوری پیښی ذکر کوی اولیکی:

«یوه ورځ دسنبل په سیمه کښی یوبزگر ځکه جوړ وله‌چه‌ناڅا په یی پنځه زره اشرفی‌وموندلی په‌دغه واقعه دغه ځای‌حاکم خبرشونو اشرفی یی ضبط کړی او دافغان عادل باچا سکندر لودی په حضور کښی یی‌هغه دیوی‌معروضی‌سره وړاندی کړی لو ړ همت او نیاومن سلطان فوری حکم وکړ چه اشرفی دی بیرته هغه چاته ورکړی شی چی‌چا موندلی‌دی‌ بیا قاسم دسنبل حاکم په دی‌غلط فهمی چه‌گویا باچاته ددغه بزگرحیثیت ندی‌معلوم نو اشرفی باید بیرته‌تری واخستلی شی نو په دی وخت کښی یی غرض وکړ:

---

(۱) مرقع افغان ۹۹مخ دتاریخ داودی په حواله

جهان پناه ! کوم بزگر چه دغه اشرفی موندلی دی هغه ددی لیاقت نلری چه ورته ور کړی شي کله چه لودی پاچا دحاکم دغه عريضه او مقاله ئوسخت په قهر شو او مياقاسم ته يي حکم وليږلو چه : ای بی عقله ! هغه چاچه ده ته اشرفی ور کړی دی که هغه داشرفو لايق نه وای نو هغه به يي پخپله ده ته نه ور کولی .

تول دپو خدای بنده گان دی هغه پوه پوهيږی چه څوك لايق دی او څوك ندی »(۱)

اوس مونږ دافغان دنوميالی پاچا سلطان سکندر لودی په طلائی دوره کښي د دری ادب او دری ژبی دخورا خرگند پرمختگ لنډه مطالعه کوو .

دمطلب په شروع کښي ترټولو مخکښي دی حقيقت ته اشاره کوو چه لودی پاچا سلطان سکندر غازی پخپله ښه اديب او په شعر او شاعری کښي يي د بره ښه قريحـه در لوده .

دهغه په خاصه پاملرنه او توجه چه په هند کښي دری ژبی کوم پيشرفت وکړ هغه د يادولو اوحتی افتخار وړدی . ندوی په عهد اسلامی کښي هندوستان کښي په ډير وصفا الفاظولیکی :

«دافغان پاچا سلطان سکندر لودی دحکومت يولوی امتياز داهم وه چه ددی په زمانه کښي هندوانو هم ددری ژبی په زده کړه پيل وکړ لکه چه تاريخ فرشته په هندوانو کښي دفارسی ژبی اوعلومو اوفنونو درواج پيدا کولو په هکله دا ذکر کوی چه :

---

(۱)مرقع افغان دمولوی ابرار حسين تاءليف ۹۹-۱۰۰ مخونه.

«وکافران بخواندن و نوشتن خط فارسی که تاآن زمان در میان ایشان معمول نبود پرداختند). (۱)

بیا په دیری چټکی دغه ژبې خوسره ترقي وکړه او شاعری یکښې پیل شوه او تعلیم یې عام شو خافی خان په دې باره کښې لیکي چه :

(ویکی ازشعرای عهد سلطان سکندر لودی برهمن بود می گویند که با وجوه کفر کتب علم رسمی را درس میگفت)(۲)

د مورخینو و بنا ده چه د سلطان سکندر لودي افغان د سلطنت په دوره کښې د هند و انو په منځ کښې د دری ژبې د زدکړې او خپرولو د پاره تر تو لو مړی او سودمند کوښښ وشو او هندوانو هم د دری ژبې خواته پوره پاملرنه وکړه . له دې نه پخوا دوی هیڅکله د خسې اقدام نه و کړی .(۳)

ملاعبد القادر بدایونی دی حقیقت ته اشاره کوی او لیکی چه:

داسی معلومیږی چه په هندوانو کښې د بیره زر یوه طبقه چه په فارسی ژبه پوهید له او حینې یې په کښې په تو له معنی د دې ژبې عالمان او پوهان وو را پیداشول ه برهمن نومی یو هند و د دری ژبې یو دیر ښکلی شاعرو چه د سلطان سکندر لودي د سلطنت په دوره کښې یې د دری ژبې درس ور کاوه او په دری به ژبې شعر وایه چه د نوموړی هندو شاعر دغه لاندې شعر دده د اهلیت د دلیل په توګه وړاندې کیږی :

---

(۱) عهد اسلامی کاهندوستان دریاست علی ندوی تالیف ۲۷۷ - ۲۸۸ مخونه د تاریخ فرشته د لومړی توك ۱۸۷ مخ په حواله

(۲) ایضاً دغه کتب دخافی خان دلومړی توك ۳۳۲ مخ په حواله

(۳) ادبیات فارسی مین هندوون کا حصه داکتر سید عبد الله تألیف ۷-۸ مخونه د فرشته په حواله .

دل خون نشدی چشم تو خنجو نشد ی گر

ره گم نشدی زلف تواپتر نشدی گر (۱)

لکه چه مونږ ورا ندی دی خبری ته اشاره وکړه چه دلوی افغانانو د اسلامی حکومت اثر په هندوانو پاندی) (د سیکانو په گډون) دومره ژور وه چه په دی دوره کښی لوی لوی روحانی پیشوایان او مشران لکه کبیر، گرونانک (۲)

او نور چه تعالیم ئې د اسلامی تعالیم سره مستقیم ربط پیدا کاوه هم منبع ته راغلل او په دی کښی د گرونانک نوم کتاب (گرنت) چه د سیکانو مقدس کتاب دی یعنی (محله اول) د دری ژبی تر سخت تاثیر لاندی دی (۳) و حتی استادهم شته دی چه د سیکانو دغی روحانی مشر دلودیانو تاثیر لاندی په دری ژبه اشعار هم ویلی دی.

دلودی افغانانو په همت چه دری ژبی د پیشرفت کوم تحریک پیل شوی و ه لودهغی ارزښت او اهمیت د سکندر لودی د سلطنت له دوری نه وروسته هم پخپل ځای باتی وا ودا کبر مغل تر زمانی پوری ور سیدچه اکبر پیار اجاتودرمل ته مشوره ورکړه چه د هندی ژبی په ځای دی دری ژبه دنتری ژبه ومنل شی (۴) لودی افغان سلطان سکندر رغ زی پخپله ددری ژبی ښه شاعر هم وه او گل رخ تخلص ئی کوو.

عبدالقادر بدایونی د سلطان سکندر لوی پوشعر داسی قید کړیدی

---

(۱) ایضاء دغه کتاب ۸ مخ.

(۲) گرونانک د سیکانو د مذهب بانی او موسس دی.

(۳) ادبیات فارسی میں هندوول کاحصه ۱۲ مخ.

(٤) ایضاء دغه کتاب ۱۳ مخ ا

سروی که سمن پیرهن و گل بدن استش
روحیست مجسم که درآن پیرهن استش

مشک ختنی چیست که صد مملکت چین
درحلقه ء آن زلف شکن در شکن استش

گلرخ چه کند جو هر دندان تراو صف
همچو در سیر اب سخن در دهن استش

دهه سلطان سکند رلودی، دخپل وخت پیاوړی شاعر شیخ جمالی دمشهور کتاب مهر وماه دغوښتلو او شاعر ته دېلنی ورکولو په هکله هغه ته یو شعرا ستولی دی چه دافغان پاچاد شعری ذوق یوه ډیر په ښکارندوی ګڼل کیدی شي. سلطان سکندرشیخ جمالی ته لیکی :

ای مفخر گنج لا یزالی
وی مالک راه دین جمالی

در گرد جهان بسی زده سیر
در منزل خود رسیده بالخیر

بودی تو مسافر زمانه
الحمد که آمدی بخانه

باید که کتاب مهر و ماهم
ارسال کنی چنانکه خواهم

ای شیخ بما پر من بزودی
بسیار مسافرت نمودی

---

(۱) آب کوثر دشیخ محمد اکرام تالیف ۵۲۳ مخ .

بکشا بر در گهم گام

تا دریا بی ز گلرخی کام

چشم به جمال طوبان است

دل مرغ مثال در فغان است

سن سکندر و تو خضر ما ئی

با شد که بسوی ما بیا ئی (۱)

شیخ جمالی دلودی سکندر د عصر تر تو لو مهم ادبی شخصیت تیر شویدی چه ډیر تا ء لیفات هم لري چه د مرآة المعانی مثنوی سیر العارفین او فرسی دیوان یې دذکرور آثار دی .

سلطان سکندر لودی افغان پاچا په هند کښی ددری ژبی د عام کولو او رواجولو په لار کښی ډیر کوښښ وکړ د ده په سعی او زحمت په هند وانو کښی هم ددری ژبی لوی لیکوال او منشیان ، شا عران او اد بیان پیدا شول او په دی غنی ژبه کښی دعلوموزیاته برخه هندی سند هی او اردو ژبی ته منتقل شوه چه دا پخپله دهند د اسلامی مد نیت او کلتور دپاره دا فغا نا نو خدمت شمیرل کیږی .

افغان پاچا سلطان سکندر غازی په هند کښی د هرار خوز تنظیم په کار کښی شهه او ورځ بو خت وهم یې داجتماعی او مذهبی تنظیم دپاره هلی ځلی کولی او هم یې تعلیمی او مدنی تنظیم لپاره کوښښونه کوله هم یې دښا ر دسوون او آبادی په کار کښی ستر یا نه احساس کوله او هم یې په کلیو بانډو کښی ودخلکو د راوپښولو او پیدار ولو دپاره تلاش کاوه . (۲)

---

(۱) آب کوثر ده مخ او اسلامی کتب خانی د محمد زاهر تا لیف ۱۹۹ مخ .

(۲) مرقع افغان دمولوی ابرار حسین تا ءلیف ۱۲۶ مخ .

دخپل رعیت دسوکالی او راحت لپاره خوسلطان سکندر لودی
د اجتماعی خدمتونه سرته و رسول چه له هغه جملی څخه د یوکار
له مینځه وړل وه.

دلودی نیاونو پاچادعدالت په سووری کښی د یوکار خبره د یته
رسیدلی وه چه دتاریخ داودی په وینا په کلیو او بانډو کښی به یو
سړی په ځپا بوکټ یا یوظرف هم په زور نشو وړ ته کولای.(۱)

د ډاک یعنی پوستی رسول په برخه کښی سلطان سکندر لودی ډیر
مهم او د ارزښت ور خدمته نه سرته ور سول او د پوستی شوکی یی منځ له
راوړی د ه په ډیره آسانی له خورالری پرتو سیمو څخه هم خبر اخستی
شوا او یا یی استولی شو.

دښار د ترقی او پیشرفت لپاره چه سلطان سکندر لودی کوم مهم پلانونه
جوړ کړی و هغه دا فغانی سلطنت له خاتمی سره له مینځه لاړل او یل
چا عملی نکړی شول.(۲)

دلود یا نود کور نی د ځینی لویو لی پاچا دخپل سلطنت په طلائی
دوره کښی په هند کښی دلومړی ځل لپاره د محاسبی اصول په دوه ژبو
یعنی هندی او دری باندی جاری کړل او دی لومړنی مسلمان پاچا وه
چه بیت الله شریف ته یی د تلو کو ځا ځیانو او زائر ینو لپاره یوه بحریه
جوړه کړه او دغه مهم اوغټ کار یا اکبر مغل پاچا د سلطان سکندر په ښتو
څخه وروسته تقلید او تعقیب کړ.(۳)

---

(۱) مرقع افغان د مولوی ابرار حسین تالیف ۱۶۲ مخ.
(۲) ایضاء دغه کتاب.
(۳) دکابل پوهنتون د ادب په مجلی کی د ډاکتر مکن لال رای
د مقالی دری ترجمه اتم کال دوهمه گنه ۱۳۳۸ کال.

دنو میالی افغان سلطان سکندر لودی دعلم دوستی اوعالم پروری په برکت دهند په هرښار کښی کتابخانی جوړی شوی او حتی په کورو نو کښی خلکو ډیری مجهزی کتابخانی او قیمتی کتابونه درلودل.
په جمالی کتابخانه کښی د (عوارف) یو نسخه هم پرته وه چه مصنف یی شیخ شهاب الدین سهروردی وه اویو نایابه نسخه گڼل کیدله. (۱)

دلوی افغان سلطان سکندر لودی مترقی دوره دغه پیاوړی سلطان په وفات په ۹۲۳ هجری کښی پای ته رسی چه منتخب التواریخ دبدایونی یی دوفات نیټه داسی قید کړیده:
جنات الفردوس نزلا - (دقرآن آیت) چه له دینه دابجد په حساب ۹۲۳ لاس ته راځی
سکندر شه هفت کشور نماند - نماند کسی چون سکندر نماند
(۲) مقبره یی دهند په خیرپور کی ده.
د لودیا نوله محلانده دوری نه پس مونږ په هند کښی دسوری افغانانو دکورنی داقتدار دوری ته نظر اچوو او گورو چه دوی دهند په تاریخ او مدنیت کښی کوم تاریخی او ستر خدمتونه کړیدی.

---

(۱) اسلامی کتبخانی دمحمد زبیر تاٴلیف ۱۹۸ مخ.
(۲) مرآة افغان ۱٦۸ مخ.

پنځم څپرکی

سوری افغانان او د هند تاریخ

په هندوستان کښی د سوری افغانانو پیا وړی کورنی د سلطنت حقیقی موسس نو میالی پښتون شیرشاه سوری دی چه دخپل اقتدار په لنډه او تقریباً پنځه کلنه دوره کښی یې ډیر مهم او ستر کارونه سرته ورسول .

شیر شاه افغان دهند په تاریخ کښی هغه قهرمانه نورانی څهره ده چه ډیر بو څخه راپه دیخوا لاتر او سه هم دهغه قدر او ارزښت ندی کم شوی او دهغه دفکر او عمل یاد گارونه دهندوستان دولس لپاره دهوسیا یني او ترقی عوامل گڼل کیږي .

شیرشاه سوری دحسن خان سوری ځوی او دابراهیم سوری لمسی دی. ابراهیم سوری دخپلی کورنی یو لایق او هوښیاری مشرؤچه دخپل

څوی حسن خان سره د تجارت لپاره له افغانستان څخه هند وستان ته لاړ
او حسن خان د فرید یا شیرشاه د زیږید لو پوری د جمال خان او عمر خان سروانی
یا خان علم په خدمت کښی پاتی شو جمال خان افغان سروانی د بهار
د ایالت حاکم ؤ او حسن خان د بهار د ایالت په سهسرام کښی مځکه
او جایداد پیدا کړل او ورووروبی افغانان هم په ځان راتول کړل (۱)
د بهار ایالت په دی وخت کښی د (جو نپور) دحکومت تر اداری
لاندی ؤ او ابراهیم سوری د فرید نیکه هم په دی حکومت کښی درسوخ
او اعتبار خاوندو. (۲)

حسن خان د فرید یا شیرشاه پلار وروسته د لوی افغان سکندر له خوا
جونپور ته ولیږل شو او هلته په وظیفه و گمارل شو.

شیرشاه سوری افغان په ۱۴۸۶ عیسوی کښی دیوی پښتنی مور څخه
وزیږید (۳)

د فرید یا شیرشاه افغان دژوند دوره په تیره بیا د زلمیتوب کلونه
له پره یشانی او کړ اوؤ نسوڅخه ډکوؤ هیڅکله چا دا تصور نشو-
کولی چه دغه سرگردانه لیکن بهادر او میړنی انسان به یو وخت دومره
لوی نوم وگټی چه تاریخ به یی په یادو یاړ یزی شیر شاه سوری د مغلی
همایون د سختی ماتی نه پس په ۱۰۴۰ عیسوی کښی د دیلی په تخت

(۱) هستری اف اندیا د پروفیسر مکرجی تألیف لومړی توک د کلکتی
چاپ کال ۱۹۵۹ ع.

(۲) ایضا دغه کتاب ۱۷۵ مخ.

(۳) داکتر سری واستا په (د ی مغل امپایر) کښی د شیر شاه د
پیدا ښت نیته ۱۴۷۲ ښیی پروفیسر مکرجی دا نیته ۱۴۸۶ ښکاره کوی.

کېږي اوس هم د هند د ملي نهضت او ډيموکراټيک حکومت اساس بلل کېږي په هندوستان کښې کيښود دا سي حکومت چه د افغانانو لپاره يې د هند په تاريخ کښې يوابدي افتخار وګټلو .

سلطان العادل شيرشاه سوري چه کله په تخت کېناست نو د پنځوسو کالو يې زيات عمر درلود (۱) ليکن د پوره قوت او طاقت خاوند و ،

«په هند کښې د افغان شيرشاه سوري د سلطنت دوره پنځو کالو او څو مياشتو ته رسېږي ليکن کوم مهم او لوی کار ونه چه ده وکړل د هغو له کبله د هغه افغان پاچا د هند د منځنيو پېړيو په تاريخ کښې ډېر لوړ مقام لاس ته راوړی دی» (۲)

«کوم دا رزښت ور او غټ کارونه چه شيرشاه افغان په هند کښې د خپل سلطنت په پنځو کالو کې وکړل د هغو مره اصلاحاتو لپاره د ده نه مخکښې او وروسته پاچاهانو پاره پنځلس پاشل کاله په کار وو (۳)

شيرشاه افغان چه په خپله دوره کښې د هند د خلکو د خوشحالۍ او ترقۍ لپاره کوم خدمت کړی دی د هغه ځای مؤرخين او محققين هغه ته د قدر په سترګه ګوري او درناوی يې کوي.

په هند کښې د افغان شيرشاه سوري د سلطنت دوره د عدل او انصاف آبادۍ او ودانۍ ، مساواتو او برابرۍ که دوره پېژندل کېږي چه تاريخو

---

(۱) ای های سکول هستری اف انډيا د دهلي چاپ ۱۹۳ مخ اردو اډيشن او ګليمپسس فرام انډين هستري د ډاکټر بي ام شرما تأليف.

(۲) هستري اف انډيا لومړی ټولګه د پروفيسر مکرجي تأليف ۱۷۹ د کلکتې چاپ.

(۳) راېزانيد قال آف دی مغلز دار پی ترې پاتی تاليف ۱۲۸ مخ د دهلي طبع.

تا ر نه یخوبی په صفت او ستاینه ډك شوی او په هر اقدام یې شرحی لیکلی شویدی چه منو نه یې په دی بحث کښې د هغوځینې مثا لونه او نمونې ور اندی کوو.

په هند کښې د ۱۵۲۶ کال پوری دا براهیم لودی د حکومت سلسله روانه وه لیکن په دغه وخت کښې په افغانانو کښې سخته بې اتفاقی او تر بګنی هم لیدل کیدله او د لودی ابراهیم په نسبت سخت خپګان په پښتنو کورنیو کښې احساس کیدلو.

په دی کال (مغل بابر) د پښتنو د دغې بې اتفاقی ، تربګنی او خپګان څخه په استفاده د هند په خاوره یرغل وکړ او د پانی پت په میدان کښې دابراهیم لودی دماتی او وژل کیدو نه وروسته د مغلو د کورنۍ اقتدار په تاریخ کښې د لومړی ځل لپاره د پښتنو څخه مغلو ته انتقال شو او د مغلو پښه هند ته را وغزیدله که بابر په هندوستان کښې د مغلو د سلطنت اساس کیښود لیکن ځینې ننګیالی پښتانه لکه شیرخان او نور د دغه مغلی سلطنت په منځ ته راتلو هیڅ راضی او خوشحاله نه وو او په هند کښې یې د مغلو اقتدار ته غاړه نشوا یښودلی.

بابر مغل په اګره کښې وفات شو او په ځای یې زلمی ځوی (ناصرا لدین محمد همایون) په کال ۱۵۳۰ عیسوی کې د مغلو پاچا په توګه دچارو واګی په لاس کښې وا خیستل. (۱)

دهمایون له پاچا کیدو نه پس، دافغان شیر شاه سوری د ابراهیم لودی دا نتقام اخیستلو او په هند کښې بیر ته دافغا نانو د اقتدار را وستلو لپاره افغانان منظم او دستر و جګړو لپاره یې تیار کړل.

---

(۱) دی مغل امپا یردا کترشری واستاناء لیف دد یلی طبع ۱۹۵۷ مخ .

شیر شاه افغان له مغلو څخه داقتدارترلاسه کولو د پاره هلاوتړله اود افغانانو په توره او خپل تدبیر په دی بریالی شو چه همایون له پنبو وغور ځوی اوله هندوستان څخه یی وباسی.

«کله چی افغان شیر شاه سوری مغل همایون ته ماتی ورکړه او همایون ژوندی وتښتید نودغه نوميالی افغان د هند د هواکمن په توګه داقتدار ولاس ته راوړ لو نه پس ټول افغانی مشران ځانته راوغوښتل اوهغوته یی وویل:

«ماد لوی څښتن په مرسته او عنایت اوستاسو افغانانو دمیړانی په برکت مغل له هندوستان نه وشړل او حکومت اوس دافغانانو لاس ته ورغلی دی دادی زه دا اقتدارستاسو په وړاندی ږدم او هیله لرم چه ددی اقتدارد ښه سنبالښت لپاره پخپله خوښه اورضااواراده یومشر وټاکی» (۱)

سره له دی چه د شیر شاه افغان دپورتنی وینا په ورید لو افغانانو په یو اتفاق هغه پیاد خپل مشر او واکمن په توګه ونا کلو او نوموړی د سلطان العادل شیر شاه سوری په نوم پدتخت کیناستلو. لیکن دا په حقیقت کښی د هغه یو غوره دموکرا تیك اقدام ؤ چه د لومړی ځل لپاره ولیدل شواوداد شیر شاه دعظمت یوښه مثال دی (۲) دغه دول وه چه هند کښی دافغان شیرشاه له خواداقتدار دلاس ته را وړلو سره حرکت چه دهند د تاریخ پانو هغه څوندی ماتلی دی.

---

(۱) کلیموپسس فرام اندین هستری دداکتر هرمانا لیف ۱۳۳ مخ

(۲) ایضا دغه کتاب اودغه مخ.

دافغانانو له لاسه تلی اقتدار او حکومت بیرته ددغه نوسیالی اوستر افغان په لاس د افغانانو لاس ته راغی او دپوداسی سلطنت اساس کښېښودی شو چه ټولی چاری یې په ملی او جمهوری طریقو سرته رسیدلی «شیر شاه افغان دهند لومړی مسلمان واکمن وچه دولس د مشکلاتو او گرانښیا ودلری کولو او زیاتو اسانتیاو دبرابرولو په غرض په لویه پیمانه د سړکونو په تعمیر لاس پوری کړ او ترټولو اوږدسرک چه شیر شاه افغان جوړ کړ هغه له (سونارگاون) څخه تر (اباسیند) پوری غزیدلی و چه ټول پنځه سوه کروه اوږدوالی لری

نور سړکونه یو د (اگری) څخه تر (برهانپور) پوری او د (اگری) څخه بیا د (بیانه) په لار تر (ماروار) او د (چیتوړ) تر کلا پوری او د لاهور نه تر ملتان پوری چه د عسکری نظر څخه په (شمال لویدیزه سیمه کښی) بواهم چار دی (۱)

عباس سروانی د (تاریخ شیر شاهی یا تحفات اکبرشاهی) مؤلف په دی باره کښی عقیده څکاره کوی او وایی :

«په ډیر جرات او اعتماد داد هوه کیدی شی چه بو ازی د بنګال څخه تر آباسینده پوری سړک باندی چه افغان شیرشاه سوری جوړی کړی ۇ ۲۰۰۰ سرایونه وۇدی سړک د هری یوی کروه څخه ور وسته یو سرای آباد ۇدلوی او عمومی سړک په دوارو غاړو میوه لرونکی ونی پخپله دا افغان شیرشاه په نظریه او لار ښوونه ایښودی شوی وی چی هم بی د مسافر و دپاره سیوری او هم بی میوی په کار راتللی » (۲)

---

(۱) ای شارت هستری اف مسلم رول ان انډیا د ایشوری پرساد تالیف ۳۰۹ مخ .

(۲) تاریخ شیرشاهی د عباس سروانی تالیف ۱۴۰ - ۱۴۱ مخونه د نادر التواریخ د ۵۹۹ مخ په حواله .

د تاریخ شیرشاهي مؤلف وړاندې لیکي :

«مسافرو به د سفر په وخت د هغو و نوتر لاندې چه شیرشاه افغان د خیر په نیت د سړک په غاړه ابښو دي وې د مه کوله او له تود باد څخه به بې ځان بچ ساوه او که چیرته به مسافر په سرای کښې با تې شول نو آسونه به بې د هغو نولاندې تړل او هاروو به هم د شیرشا له خوا دې خیر ښځې فایده اخیستله» (۱)

شیرشاه افغان په هند کښې نه یوازې د هند د انکشاف او ترقي لپاره د عمومي لویو لارو پوه پیاوړې سلسله منځ ته راوړه او لرې برتې سیمې یې د ښارو نو سره وتړلې بلکه د خلکو د اقتصادي حالت د ښه کولو د پاره یې مهم پلانونه جوړ او دراهو ندو لوپه مقتصد یې نوي اصول او قاعدې جوړې کړې لکه چه په دې برخه کښې تاریخ شیرشاهي لیکي:

«شیرشاه افغان د خپل سلطنت د هوسایې او د مالیاتو د هوندو د او په منظور ځینې د برسود مندا و مهم اصول او قاعدې منځ ته راوړې. دا اصول او قاعدې له یوې خوا د ده د هوښیارۍ او لیاقت پوخوره مثال دی او د بلې خوا د دغه نوسیالي افغان د عدل او انصاف، پوهې او پوخ فکر د ښه ثبوت دی» (۲)

د مثال په توګه شیر شاه افغان په هر کلي کښې د دې کار د پاره پول پیل مامورین وټاکل چه یو به په هغې ژبه د دفتر کارونه کول او بل به په دري ژبه لیکل کول .

---

(۱) ایضاً د هغه کتاب او دغه مخونه

(۲) ایضاً تاریخ شیرشاهي ۱۳۵ مخ .

شیرشاه افغان حاکمانو ته حکم کړیؤ چه دوی دې د هر فصل داو کولو و روسته پخپله ځکه کچ او اندازه کړي او د پیداوار په سوون اود تولید اتوپه تناسب دې مالیه ترلاسه کړي.

شیرشاه افغان ددې خبرې سخته څارنه کوله چه د مامورینو له خواه بزگروپا نوی ظلم او تیری ونشي» شیرشاه افغان بزگران دخپل حکومت ستنی گڼي او دهغوی پیدا بر خیال ساتلو»(۱)

دتاریخ شیرشاهی مولف دخپل کتاب په یوبل ځای کښې د (واقعات مشتاقی) په حواله لیکی:

«دافغان شیرشاه سوری په وخت کښې د مالیاتو کار دومره منظم او مرتب وچه پخوانی مثال چانه و لیدلی تقریبا یولک او دیارلس کې دمالیې دسیستم تر لاندې ووچه دغه کار دواس د اقتصادی حالت دبنه کیدو او دحکومت دمالی بنستدزیات ټینگیدلو سبب شوی و»

دشیرشاه سوری افغان دسلطنت دمهمو او سترو کارونو په جمله کښې یوبل دارزښت ورکاردده له خواد نوی سکې رواجول وو.

«شیرشاه دسوچه زرو او خالص طلاسکه منځ ته راوړه پخوانسکه په عربی ژبه وه اودغه کار دتیرو شو یوتولو پاچاهانو په دوروکښې دغه شان و لیکن افغان شیرشاه دسکې لیک په دری اود یونا گری ژبو باندې وکړ ځاوه اوداددی لپاره چه هم پری مسلمانانوپو هیږی اوهم هندوان او په چاند کښې کوم مشکلات منځ ته رانشی (۲)

---

(۱) ایضاء تاریخ شیرشاهی همدغه مخ.

(۲) ای‌های سکول هستری اف اندیا. ۰۱ مخ دنیک مین دیلی خپرونه اردوادیشن کال ۱۹۵۰ع

په هند کښې د شېرشاه سوري د سلطنت دوره یو ځلانده او د ترقیاتو دوره وه ځکه چې څه نوښتالي سېږه له خوا د نوي او مترقي پلانونو او کارونو په سیوري کښې د ژوند نوې مرحله شروع کړې وه او په خپل هیواد کښې د سترو تحولاتو شاهدان وو.

د پوهنې او معارف، کرهنې، تجارت، فوائد عامه، مالي، پوځي، او دیني ساحو کښې ښکاره پرمختګونه وشول او دغو ټولو ته د افغان شېر شاه له خوا خاصه پاملرنه کېدله.

شېرشاه افغان په هغه وخت کې د یووا کمن په توګه د چارو واګې په لاس کښې واخیستل چې په ټول هند کښې د مغلو او افغانانو د جګړو په وجه سخته ګډوډي او پریشاني ترسترګو کېدله شپاړسمه پېړۍ چې سوري افغان پکښې د خپل سلطنت اساس کېښود د مشکلاتو څخه ډکه پېړۍ وه خو سره له دې هم شېرشاه خپل لوی کارونه سرته ورسول «د هغو ستونزو او مشکلاتو باوجود چې په هند کښې د شپاړسمې پېړۍ د یووا کمن په وړاندې پراته وو، سره له دې هم شېرشاه افغان دا روپادا تاسیس سوی دی د واکمنو د پوهې او ذهانت اثر یې خپل کار کښې پرېښود یعنې کوم کارونه چې اروپا کښې حکمروایانو په اتلسمه پېړۍ کښې کول خو پېل هغه شان شېر شاه افغان د وه پېړۍ مخکښې په هندوستان کښې سرته رسولي وو» (۱)

دغه کارونه د دې سبب شول چې د شېر شاه افغان د اقتدار دوره په هند کښې د یوې طلائي دورې په توګه ومنل شي او نتایج یې ترسوو نوکالو پورې دوام وکړي

په هند کښې د افغاني واکمنو د سترو شخصیتونو او نومیالو کسانو په پرتله کښې شېرشاه سوري یو خاص او اوچت مقام لري او

(۱) ای شارت هستری اف مسلم رول آن انډیا د پروفیسور ایشوري پرساد تالیف ۱۲۰۵ مخ

دهند په تاریخ او مدنیت کښې دلوی برخې خښتن او ژغندل کېږي .

شیرشاه سوری د ظلم او استبداد ، بې انصافۍ او بې عدالتۍ سخت دښمن و . دهند په اجتماع کښې چه ده د عدل او انصاف پسندۍ کوم ستر کارونه وکړل هغه سبب شول چه هندوان د مسلمانانو په نسبت دهغې بدبينۍ یا وجود په دې اعتراف وکړي چه تر شیرشاه د مخه دوی سره حتی خپلو هم مذهبو او اکمنانو هم په دو مره انصاف او عدالت رفتار نه و کړی کوم چه افغان شیرشاه ددوی سره کړی ؤ .

« دشیرشاه سوری د افغانی صفاتو څخه دیک حکومت ، په مسا وتو او برابرۍ ولاړ و . ملکی او نظامی عظیمو قوتونو د یا روته دهغوی پوره پام و . دشیرشاه اداری نظام ډیر ښا ورې او محکم ؤ او په عمومی توګه یې هندوانو او مسلمانانو دواړو احترام کاوه »(۱)

« شیرشاه افغان هیڅکله پخپل هند و انو رعا یا و بانډې ظلم ندی کړی او نه یې کله د مذهبی تعصب څخه کار اخیستی دی .

دشیرشاه سوری مالی او اجتماعی اصلاحات او ریفورمونه ، د اکبر اعظم مغل پادشاه دخورا مهمو کامونو مقدمه او پیش خیمه و ګرځیدې او مغل پاچا خپله کړنلار دشیرشاه افغان له مفکورې ، پوهې ، او تجربې په ښست کینبوده .

دشیرشاه سوری په وخت کښې چیرته هم غلا او شوکماری و نشوله ، مسافران دده په حکومت کښې دامنیت له مخې دو مره ډاډه وو چه په صحرا او بیدیا او ځنګل کښې ورته دخان یاد مال

---

(۱) هستری اف انډیا د پروفیسر کې ای نیل کانتا شاستري تالیف دویم توک ۲۷۱ مخ دکنکنې چاپ

دساتنې ضرورت نه پښيد لواو نه دتم کبد لوا وشپې تيرو لو څخه و، ته دو بری کوم احساس را پيدا کړدو) (١)

د شيرشاه سوري دهغو خانانو، حاکمانو، اورسمي مامورينو سره که مسلمانان و و او که هندو ن ؤ بر سخت پيش آمد کولو، چه په بزګرانو باندې به يې تيرى او ظلم کاوه او پاپې دهغوی حقوق تر پښو لاندی کول .

افغانان پا چا شيرشاه دحکومت دنظام داصلاح لپاره، هيواد په پيلو پيلو آيالاتو او آيالاتو يې په پيلو پيلو کلو او پر ګنو و پشل. په هره پرګنه کښې يو يو محي مشاور يو يو خزانه دار يو يو قاضي يادعدلي محکمې صلاحيت لرونکې او دوه محاسبان ټاکلي وو چه يو په دري او بل په هندي ژبو اجرآات کول . دعلاؤالدين غلجي پښتون مخوا چه دبوخ او ماليا تو په هکله کوم اصول ايښو دی شوی و و شيرشاه سوري په هغو کښې ډير تغيرات راوستل او بهتري يې کړل .

دتولی محکمې کچ کول او دهغې مطابق دپيدا وار دحاصلاتو څلورمه برخه حکومت ته ورکول ضروري وو و هر دهقان دهر قسم شکايت حق درلود ». (٢)

---

(١) ايضاً دکتاب او دغه مخ .

(٢) هل هند کې مختصرتاريخ دپروفيسرتاراچند تاليف و ٢٦ مخ .

حقیقت دا دی چه شیرشاه افغان د هند په خاورو لوی حق لری ځکه چه
دغه نومیالی انسان د یو خواخوږی غم خور پاچا په توګه دد وی د هو-
سایی او خوشحالی خیال ساتلی او تل یی د دوی د پاره د ښه ژوند
دراوستلو او ترقی کولو لاری کودری اواری کړیدی.

ښاغلی ال واحد دیوا په خپل اثر (تو هند د ګریټ انسلایز) کښی د
د افغان شیرشاه د سترو خدمتونو په هکله داسی لیکی:

«د شیرشاه افغان د خدمت وره پر امپراطوري توګه یو زیاته
کله وه او البته د هغه پره لنډه موده ده لیکن کوم کارونه چه د هغې
عظیم انسان وکړل هغه ډیر ستر او مهم و په دی لنډه موده کښی شیرشاه
سوری په خپل سلطنت کښی دومره ښه انتظام مخ ته راوړ چه د نورو
پاچاهانو په دوره کښی د مغول د پرکم له دل کیږی.
د ده په حکومت کښی جرمونه او جرایم هیڅ کان له منځه لاړل او
دعوا د تولی برخی یی یو بل سره په ښه شان سره وتړلی او د سولی صلاتو
په ترتیب طریقه یی مخ ته راوړه په قه ویل کیدیشی چه د مغل اکبر
عظمت د شیرشاه افغان د کارونو نتیجه وه او په اصل کښی دا د شیرشاه
افغان عظمت و چه د مغلی شهنشاه اکبر لپاره یی دد و ره لوی وم ګامو
لارا واره کړه»(۱)

مشهور عالم او لوی محقق او مؤرخ داکتر کالی کرنجن قانونګو
په (شیرشاه اینډ هزټیم) کښی عقیده ښکاره کوی چه:
«د شیرشاه افغان دیوان قضا دا صاف او عدل بوه بې مثاله لوړه
اداره، مستر قاضی یاقاضی القضات د شیرشاه پسی د دعوا ددوهم و کمن و

(۱) تو هسدر د ګریټ انډینزدو اسود نیوا تالیف ۲۳۷ مخ دیلی
چاپ کال ۱۹٦٤ ع

او خپله شېرشاه هیڅکله هم د مستر قاضي یا دیوان قضا په چارو او اجرا آتو کښې لاس وهنه او دخالت نه کاوه» (۱)

سرکاراو دته پیاوړي مورخین لیکي

دشېرشاه افغان دیوان وزارت، دیوان عارض، دیوان رسالت، دیوان انشا، سره له دې چه په اصل کښې نوي اداري نه وي او په تېرو دورو کښې هم وي لیکن دشېرشاه سوري په وخت کښې چه دغو کوسی وظیفې سرته رسولې هغه دهٔ دول ستاینې وړ وي او دهغې اجراات دشېرشاه دعظمت اولیاقت ښکارندوی» (۲)

باتیه په هستري اف انډیا کښې وايي:

«دافغان شېرشاه سوري دیوان برید دهغه دتاریخ یو ډېر اهم فصل دی او کوم خدمت چه دغه دیوان کړی دهغه دخاص اتو داوسني سیستم یوه مهم او ماخذ ګڼل کیدی شي».

(کروکس) دشېرشاه افغان په باب نظر په ښکاره کوي:

«شېرشاه سوري دخپل حکومت په دوره کښې چه د پنځو کالو یوه لنډه دوره وه کوم پراخ اصلاحات او ستر کارونه وکړل هغه دده افغان دقوي پوهې، نظم و نسق، قابلیت، او ښه انتظام یو ځلانده ثبوت دی» (۳)

مشهور انګریز مؤرخ (کیني) دافغان شېرشاه سوري دلیاقت او اهلیت په باب لیکي:

---

(۱) شېرشاه اینډهز تایم د قانونګو تالیف ۲۱۸ مخ دکلکتې چاپ کال ۱۹۴۷ ع.

(۲) هستري اف انډیا د باتیه تالیف ۲۱۳ مخ دډیلي چاپ.

(۳) راپزانډ فال اف دی مغلز ۱۲۰ مخ.

(هیڅ یو حکومت حتی چه دبرتیا نیا دحکومت په چارو کښې هم ددو هره پوهې او هوښیارۍ ثبوت نه دی ورکړی شوی لکه څومره چه دغه افغان یعنې شیرشاه سوري د خپل حکومت په چارو کښې ورکړی دی .) (۱)

افغان پاچا شیرشاه سوري په هند کښې حقیقي دموکراسي ټینګه کړه هغه ځان دولس خدمت ګار ګڼلو او د رعیت هیڅ یو سړي ته یې دا اجازه نه ورکوله چه هغه دی دربار یاب کیږد و په وخت ځمکې ته ټیټ شي او تعظیم دی وکړي په داسې حال کښې چه دمغلو په دربار کښې دغه کار یوه عادي خبره او حتی دمغلي پاچاهانو په ځانونو باندې د (ظل الهی) دجنت مکانی او فردوس آشیانی لقبونه کیښودل .

ګولډن هستري اف انډیاد نامتو او پیاوړي مؤرخ ډاکټر وي اې سمت په حواله لیکي :

« که له شیرشاه سوري سره دمرو.فا کړي وای اوژوندی پاتي شوی وای نومغل به بیرته په هند کښې دتاریخ صحنې ته نشوای را تلای .

اکبراعظم مغلي پاچا په ډیرو کارونو کښې دافغان شیرشاه لاروڼیوله او ځکه کښې لارلهدی کبله خود اویل چا یزدی چه وویل شي شیرشاه سوري داکبرمغل پیشوا او رهبر دی او که ژوندی پاتي وای نوشهرت به یې له اکبر څخه هم زیات وایی .

دشیرشاه سوري رفورمونه او اصول په هند کښې دانګریز حکومت له خوا بی له کوم بدلون او تغیر څخه عملي او منظور شول مثلا دشیرشاه افغان له خوا څخه چه کوم لوی سړك (۱۵۰۰) کیلومتره و

(۱) هستري اف انډیا. پروفیسر مکرجي تالیف ۱۸۰ مخ دکلکتې چاپ

په او ږدوالي د کلکي د سونار ګاونځخه تراټک پوري جوړ شوی و. او ډیره بوده د هغه نه ور وسته ور ان و یهار پاتي و. هغه هوښیار (لارډ دلهوزي) دهغه ګورنر جنرال دزیات اهمیت او ارزښت له کبله بیرته جوړ کړ او دخپل حکومت جزء یې پری ټینګی کړی.

انګریزانو دهغکي په باب اصلاحاتو او دمخابراتو په سلسله کښي هم دشیرشاه افغان د نبوغ او پوهی څخه ز یاته ګټه واخیستله او داز بدلون سره یې هغه ته پر اختیا ور کړه او حتی داهم ویل کیږي چه دشیرشاه افغان دمالي، مخابراتو، پوځي انتظام او امنیت سیستم په ډیر لږ توپیر دانګریزانو د دوري تر وروستیو پوري استفادي وړ و او په هغو عمل روان و. (۱)

«دشیرشاه افغان له خوا چه دمکي کوم سیستم جاري شوی و سربیره په دي چي دمغلو د اقتدار په دوران کښي هغه عملي و بلکه په ۱۸۳۵ ع کښي دانګریزانو دا یسټ انډیا کمپني تر وخته پوري له هغي څخه استفاده کیدله» (۲)

مفتي انتظام الله شهابي دخپل ستر اثر تاریخ ملت په پولسم توک تاریخ سلاطین کښي لیکي:

«دهغوئ دشیرشاه افغان په سلطنت کښي ډیر خوشحاله او سوکاله وو د چا لی په حالاتو کښي شیرشاه دهغوی سره ډیر امداد کولو دهغوئ په عسکري نظام کښي شیرشاه ډیری اصلاحات وکړل.

شیرشاه افغان د اسلامي احکامو او اصولو ډیر سخت پابند و او

(۱) ګولډن هسټري اف انډیا ۲.۸ مخ.

(۲) هسټري اف انډیا د پروفیسر شاستري تالیف ۱۷۷ مخ د کلکتي چاپ.

د بوه نوا وصوفیانو یر احترام یې کاوه د ه نومیالي مسلمانان د واس
در فناه او پهکتی لپاره ډیر زحمت ویستلو او ډیر مهم کارونه یې سرته
ورسول لنډه داچه دشیرشاه افغان هستی د هند په تاریخ کښی دویاړ
او افتخار خبره ده »(۱)

نومیالی افغان شیرشاه سوری دخپل اقتدار په دوران کښی
دافغانی اصیل کلتور یورښتیاینی ښکارند وی ؤ او دده دغه خصلت د هند
په تاریخ کښی دستاینی او صفت وړ پژندل شویدی.

په دی باب کښی د تاریخ هند مؤلف ذکا الله په (رزم نامه شیرشاهی)
کښی لیکی :

« افغان شیر شاه سوری په هند کښی د ژوند تر پایه پوری خپله
افغانی روحیه ژوندی وساتله او دافغانی عنعنی او دود دستور سره سم
یې حکومت وچلوو هغه د تور سرو ډیر زیات عزت اودرناوی کاوه او
عقیده یې درلوده چه ښځی تل داحترام او عزت وړدی اگر که د دښمن
ښځه هم وی »(۲)

سید احمد مرتضی په (صولت شیرشاهی) کښی لیکی :

«شیرشاه افغان د اقتدار اوعظمت په دوره کښی هم ډیر ساده
ښیتون په توگه ژوند کاوه او هیڅکله یې دمغلو دکورنی د پاچاهانو
په څیر د ځان او خاندان لپاره دمو سرو کورو نه او پنگلی جوړی
نکړی او نه یې دځان لپاره لقبونه او شاهی خطابونه وټاکل.

دشیرشاه افغان دارالعدالت دلویو پوهانو او فاضلانو مرکز ؤ ،

(۱) تاریخ سلاطین د مفتی شهابی تالیف - ۷۳ - ۲ ۷ مخ د ډیلی
چاپ

(۲) تاریخ هند دمولوی ذکا الله تالیف دریم توك ۱۹۳۰ طبع

په تېره بیا د اسلامي علومو په برخه کښې دغې اداري لوی اهمیت او ارزښت درلود او هم شاه زیات کارونه ددغې دارالعدالت له لارې فیصله کول.

شیرشاه افغان په پنځو کالو کښې دهند یا نودپاره ستر خدمتونه کړیدي، لکه دسړکو نوجوړول دمځکو اصلاحات د پوستې او مخابراتو د سیستم ښه کول ' دانصاف او عدالت په ځای کول ' دسکې، عسکري نظام ' دامنیت ، تعلیم ، او دغلې او حاصلا تو لوړ ول' دهوونځیو او کتا بخا نو تا سیس او نور» (۱)

«شیرشاه افغان» پخپل پنځه کلن حکومت کښې برسیره په نورو اهمو کارونو ،مدرسي او کتا بخانې هم جوړې کړې.

[illegible]ونږ په خیال خوله دشیرشاه سوري سره د تاریخي کتابونو لوی او ډیره ښه ذخیره وه دغې علم دوست واکمن په عربي ،دري ، اسلامي فقه او په تیره بیا په تاریخ کښې پوره معلومات درلود لمکن له تاریخ سره یې ژوره مینه او زیاته علاقه وه »(۲)

«شیر شاه افغان دخپلو سترو او کتورو کارو نو په لړ کښې په نارنول کښې هم یو ډیره ښه مدرسه تاسیس کړه چه ودا نې یې ډیره ښکلې او په زړه پورې وه او له دېنه دا عرگند یږی چه د نارنول د مدرسې کتا بخا نه هم چې دغې سلطان جوړه کړې وه ډیره لویه وه .»(۲)

شیرشاه افغان دخپل اقتدار په وخت کښې تر ټولو زیاته هڅه دامنیت

---

(۱) عهد اسلامي کاهند وستان :صولت شیرشاه هې په حواله وروستې کتاب په ۱۹۳٤ عیسوی کښې خپور شویدی.

(۲) اسلامي کتب خانې دمحمد زبیر تالیف ۲۹٤ مخ.

(۳) ایضاء دغه کتاب.

دتیښکو او او په تولنه کښې د اخلاقو د فساد مخنیوی په لار کښې کوله او د هند تاریخ داسې کوم مثال نشي چودلی چه په هغه کښې د شیرشاه افغان په حکومت کښې د فساد یو کوچنی پیښه هم په گوته شوی وی .

د هغه نو میالی افغان په دیلی کښې یو نوی ښار او په پنجاب کښې د (روهتاس) په نوم یو بل ښار ودانه کړل.

د اکبر پاچا اصلاحات ټول د شیر شاه سوری د مفکوری په پیروی وکړی شول او اساس یې د افغان پادشاه پوهه او هوښیاری وه»(۱)

پروفیسر شاستری د هغو حقایقو د ذکرکولو په لړ کښې د یو اروپایی مؤرخ (ونسن سمت) په حواله لیکی :

«ونسن سمت نظریه ښکاره کوی چه د شیر شاه افغان د حکومت دوره د ښخو کالو د یوز بردست او طوفانی حکومت دپاره دیر بېړیکاردی که چیری د هغه افغان شیرشاه ژوندی پاتی وای نو هغه به د مغل خاندان لپاره د سلطنت بنیاداو بنسټ دو سره محکم کړی وای چه مغل به هیڅکله هم د هند د تاریخ په سټیج را نه ښکاره شوی نه وای» (۲)

کله چه شیرشاه سوری د دیلی په تخت کیناست نو هغوی په ۹۴۸ هجری کښې چه د (۱۵۴۱) عیسوی سره سمون خوری دانه ریټ سره نژدی د سیند په غاړه یوښکلی ښار رودان کړچه هغه د شیرشاه د دیلی په نوم مشهور ؤ د غه ښار د فیروز شاه کوټله په څنګ کښې آباد ؤ او معلومیږی چه همایون مغل پادشاه چه کوم ښار ودانول پیل کړی وو او بیا د هغه په سلطنت کښې د کمزوری په وجه هغه سرته ونه رسید او پاتی شو نو شیرشاه افغان هغه ښار له سره بخلپه اراده ودان کړ .

---

(۱) هستری اف انڈیا د پروفیسر شاستری تالیف ۱۷۳ مخ .

(۲) هستری اف انڈیا د پروفیسر شاه ستری تالیف ۱۷۳ مخ .

اگرچه اوس ددغه ښار کوم نښان او اثر نه دی پاتی لیکن دشاه جهان آباد ښار د ډیلی دروازی څخه بهر د سر کاری بندی خانی سره متصل یوه ډیره ښکلی دروازه ولاړه ده او دغه ښکلی دروازه دشیرشاه افغان دډیلی دروازه ده او څنګه چه لهدی دروازی نه د کابل په لور لار تلله نو په دی علت هغی ته دکابلی دروازی نوم ورکړی شوی ؤ. دغه ښکلی دروازه چه د رنګ شوی ښار یوه کوچنی نمونه ده له چونی او تیږی څخه په ډیر ښکلی او په زړه پوری ډول جوړ شوی ده (۲)

دغه شان د ډیلی دزړی عظیمی کلاچه او له اورت یا پرانه کلا ورته وائی په یوه کونج کښی چه افغان شیرشاه کوم عالیشان او ډیر ښکلی مسجد ودان کړیدی هغه نن ورځ دلرغونو ودانیو په قطار کښی بی ساری او یکتا پیژندل کیږی. ددغی ښکلی مسجد به جګو جګو دروازو او دیوالو نو او حتی په چت کښی په ډیرو ښکلو او ښایسته رنګونو د پاک قران آیات په څو ره لیک لیکلی شویدی او نن هر ګرځندوی او لرغون پیژندونکی لپاره ده ښرانتیا او دزړه دخوشحالی سبب کیږی» (۲)

«شیرشاه افغان دخپل اقتدار په دوران کښی د څوره اوښا دلانه نیکو کارونو په اثر هندی ولس ترزیاتی اندازی دخپل نفوذ لاندی راوستاو هندوان یی د افغانی اسلامی کلتور خوا ته جلب کړل او حتی پکښی جذب شول.

شیرشاه افغان په خپلو هندو اتو رعایاؤ کښی دتعلیم اوزده کړی دشوق او علاقی پیدا کولو لپاره ډیر کوښش وکړ اوددی کاردپاره یی اوقاف منځ ته راوړی ؤ او اختیار یی دهغو په لاس کښی بریښودی ؤ

(۱) آثار الصنادید دسرسید احمد خان تالیف ۹۵ مخ .

(۲) ایضاء دغه کتاب دغه مخ .

چه ددغه فیاضانه او عاقلانه پالیسي په برکت شیرشاه افغان دهرمذهب اومات دخلکو په نظر کښې ډیر ګرن او محترم ګرځیدلی ؤ» (۱)

په دې ډول دهند په تاریخ کښې دشیرشاه افغان عظیم شخصیت له مرګ څخه وروسته هم هغه شان داحترام اودر اوی وړ ؤ دل کېږی اوچه کله دی په حق ورسید (٤) نو ئو میالی ځوی یې دابو المظفر سلطان سلیم شاه غازی په نوم په ۱۰۱۲ هجری کښې دننګیالی افغان شیرشاه په ځای کیناست.

ډاکتر محمد یاسین په خپل کتاب تاریخی جائزې کښې په ټیټو تورو لیکی چه:

«شیرشاه افغان دسوری کورنی قهرمان اود هندوستان دمسلمانانو دقومی ژوندون داحیاکوونکو دمباستوری ؤ هغه دخپل مهرنی ځوی اسلام شاه لپاره، دانسانیت نواز اجتماعی اداروا ودهند وانو او مسلمانانو دګډژوند دتخلیق یو صحیح پلان اوپه عدالت او انصاف ولاړ دواکمنی نظام او دهرچا په زړه کښې پروت حکومت دچلو ولو دپاره یو مقدس امانت وسپار لو شیرشاه سره له دې چه دمطلق اختیار خوندو خوبوایی

(۱) هندوستان کا مستقبل دډاکتر راجیندرا پرساد هند د مقهد جمهور رئیس تالیف ۷۵ مخ حالی پبلشنګ هاوس کتاب ګهر دیلي چاپ ۱۹۴۶ کال

(۲) واقعات دار لحکومت دهلی دشیرشاه دوفات نیټه په دې ډول ذکر کوی.

شیرشاهی که از مهابت او | شیروبز آب را بهم میخورد
چون برفت ازجهان بدار بقا | گشت تاریخ او زآتش مرد

(زآتش مرد څخه مراد دابجد په حساب ۹۵۲ هجری دی

هم د مهمو مسائلو په حل کښې تل د خپلو افغانانو مشرانو سره مشوره کوله »(۱)

نوموالی افغان سلطان سلیم شاه غازی چه اصلی نوم یې جلال خان و. سلیم یا اسلام شاه په نوم په تخت کیناست او بیائی د سلطان سلیم شاه لقب غوره کړ دا قندار په دوره کښې د خپل پلار شیرشاه افغان سپیڅلی لار تعقیب کړه او د هند په تاریخ کښې یې لوی نوم وګټلو.

د اسلام شاه سوری دوره هم په هند کښې د ستر او مهمو کارونو شاهدی وائی او مورخین ورته په لوی اهمیت او ارزښت قائل دی لکه لوی محقق او مورخ لردوپهو شن رای چه پخپل اثر (دشیر شاه افغان جانشین) کښې د اسلام شاه سوری د حکومت د دوری له څیړنې نه وروسته وائي نوموالی پاچا ته د عقیدت او احترام سر ټیټوی او دیو ستروا کمن په توګه د نوموړی ستاینه کوی» (۲)

د هند په تاریخ کښې د اسلام شاه سوری دوره یوه خصوصی درجه لری. هغه د هندوستان د منځنیو پېړیو د واکمنو په نسبت دیوځانګړی مقام څښتن دی اسلام شاه د یو لوړ شخصیت خاوند دی چه ځینو مورخینو د هغه په حق کښې له انصاف او عدالت څخه کار ندی اخستی »(۳)

لوی مورخ ارسیکن د هغه ادعا لری چه د اسلام شاه سوری افغان د کردار ګومره تلشه چه ځینو مورخینو رانډی کړیده هغه نقشه نده چه د ده

---

(۱) تاریخی جائزی دډاکتر محمد یاسین تالیف ۹۰ مخ د اداره فروغ لکهنو طبع کال ۱۹۶۲ ع

(۲) تاریخی جائزی دډاکتر یاسین تالیف ۹۰ مخ د لکنهوچاپ .

(۳) ایضاً د هغه کتاب او دغه مخ

دوری دولسی معاملو په اساس باید جوړه شوی وای بلکه په دی برخه کښی له بی انصافی څخه کار اخیستل شوی دی .» (۱)

دا رښتیا ده چه د نوموړی افغان په هکله ځینو نور څېړونکو دمغلو ددربار تړنګ نظره مورخ ابوالفضل چه په آئین اکبری کښی د سوری کورنی په نسبت د ډیره بی انصافی ښکاره کړیده. لیکن د معاصرو پوهانو او تاریخ لیکوونکو په نظر کښی د اسلام شاه سوری د حکومت دوره د هند دولس لپاره د فلاح او بهبود دوره وه او اسلام شاه افغان یو ذهین علم دوست مهربان او روف انسان وچه د پوهانو او عالمانو ډیر قدر یی کاوه .

«د اسلام شاه افغان په خپله دوره کښی د نویو نظریاتو اساس کیښود او نوی بلانونه یی جوړ کړل او مونږ دادعا کولی شو چه د مغل پاچا اکبر عظمت په حقیقت کښی د اسلام شاه افغان د همت مرهون دی (۲) د سلیم شاه غازی سوری پاچا کارونه هم تر زیات حده پوری په هندی ټولنه کښی د زیات تحول او بدلون سبب شول .

ده د خپل حکومت په ټوله دوره کښی د ډیر لیاقت ښکاره کړ، امنیت یی په ځای کړ او خلکو ته یی دا موقع په لاس ورکړه چه د مسلمانانو سره ښه ګډ په یوه خوشحاله او هوسا اجتماع کښی ژوند وکړی.» (۳)

د فراسین سلاطین دمهم کتاب په ځلو یښتم مخ کښی دا بوالمظفر سلطان سلیم شاه غازی د یو شاهی فرمان نقل موجود دی چه د شیخ

---

(۱) ایضا دغه کتاب ۱۹ مخ

(۲) ایضادغه کتاب .

(۳) کیمبرس فرام الدین هستری دډاکټر بی ام شرما تالیف ۱۳۰ مخ .

علیم الله په نوم صادر شویدی او په هغه کښې دغه علم دوست پاچا
دشیخ علیم الله دپاکلو اومقرری حکم جاری کوی او دزمان دمتن
په لوستلو دغه حقیقت له ورایه څرگند یږی چه افغان پاچا سلطان
سلیم شاه سوری ترکومی اندازی پوری پوهه بر ،هوښیار ،عادل او
مهربانه واکمن و، او تر کومه حده یی دکارونومراقبت اوڅارنه
کوله.

ددغه فرمان نقل دادی :

«فرمان جهان مطاع ابو المظفرغازی سلطان سلیم شاه» (۱)

«درین وقت فرمان عالیشان واجب الاطاعت والاذعان از مکمن
لطف شرف وصدو ریافت که موازی دو صد بیگه اراضی لایق زراعت
بگز الهی بطریق ابتدا یی از فصل خریف نوی ذیل پرگنه پاری من
اعمال سرکار لکهنو دروجه مددمعاش فضیلت پناه شیخ علیم الله و غیره
بموجب شرح ضمن مقرر و مسلم باشد که حاصلات آنرا سال به سال
صرف معیشت نموده دعای دولت قاهره اشتغال نمایند می باید که
حکام وعمال وجاگیرداران وکروریان حال واستقبال بابت مذکور
اراضی مذبور رازمحل نیک پیموده وچك بست نموده گذاشته بعلت مالو
جهات واخراجات وعوارضات چون قتلغه وپیشکش و ده نیمی ومقدمی
وهدودی وقانون گوئی وحصه رسید وشکار و بیکار وضبط هر ساله و
کل تکالیف دیوانی ومطالبات سلطان مزاحمت نرسانندوهر سال فرمان
وپروانه مجدد دطلب ندارند ودرین باب تاکید تمام دانند.

---

(۱) فرامین سلاطین دخاکسار بشیرالدین احمد تعلقه دار تالیف ٤٠
مخ ددیلی چاپ کال ۱۹۲٦ ع.

تحریراً فی التاریخ ۲ امرداد الهی سنه ۴۹ مقرره شرح ضمن پشت بتاریخ ۲۳ ماه مهر الهی سنه ۴۹ آنکه بندگان حکم نمودند که موازی دوصد بیگه زمین افتاده لایق زراعت بگز الهی مطابق ابتدا بی من ابتدای خریف لوئی ئیل از پرگنه باری من اعمال سرکار لکنهو و در وجهه مددمعاش افضلیت پناه شیخ علیم الله وغیره به موجب تفصیل ذیل مرحمت و مقرر شد .

از تاریخ ۲ ماه مهر الهی سنه ۴۹ موافق یوم جمعه

نوبت واقعه نویسی ابراهیم بیگ

سنه ۴۹ جلوس مطابق سنه ۱۰۱۲ هجری

امین الملک سر یدشاه سلیم

داوه د سوری افغان سلطان سلیمشاه د فرمان یوه نمونه چه وراندی شوه او ددغه پاچا حکومت داجرا آتو دول تری خرگند یږی . اوس مونږ دسوری افغانانو او دهند تاریخ د بحث په بای کښی د هند په تاریخ او مدنیت کښی د هغو نورو نومیالو افغانانو دلویو برخولنده یاد ونه کووچه دهغه هیواد په پیلو پیلو سیمو او آیا لاتو کښی یی دخپل اقتدار او یا خوعادی ژوند په وخت کښی ستر نقشونه لوبولی او دافغاني ملیت سوتغملی روحیه یی تر وای پوری ژوندی ساتلی ده .

شپږم څپرکی

په هند کښې دافغاني کلتور پایښت

په وړاندې پنځو فصلو نو کښې په لنډیز سره د هغه حقایق د تاریخ داسنادو په رڼا کښې مطالعه کړل چه څنګه د افغانی نژاد فاتحانو په لاس د هند په لویه او پراخه خاوره کښې داسلام دین داشاعت سره د هغه هیواد په تاریخ او مدنیت کښې افغانان د لوی او ستري برخې خاوندان شول او دعلومو د پیشرفت په سیوري کښې دري ژبې هم ځان ر اورسوو او خپل لوړ تمام یې په هندی ټولنه کښې اشغال کړ .

په تیرو فصلو نو کښې مونږ د هغو پنځو افغانی نومیالیو کورنیو (غزنویانو ، غوریانو ، غلجیان ، لودیان او سوریان) په باب کښې ځینې مهم او مستند مطالب وړاندې کړل او د هند په تاریخ او مدنیت باندې مو د هری یوی افغانی کورنی اغیزی بیان کړی او س په دی سلسله کښې د هغو تیت او پرك او خپرو ورو پښتنی کورنیو ذکر کوو کومې چه د هند په پلو پلو آیالاتو او سیمو کښې میشتې وې او په مختلفو وختونو کښې یې خپل اقتدار په لاسو کښې ساتلی او ستر ستر کارونه یې کړی او هم یې دافغانی کلتور د پایښت علامتونه برابر کړیدی . په

دې څېر کې کښې موږ د امخه، کوم چه د لرغونو زمانو پېښې د غزنویانو ، غوریانو، غلجیانو لودیانو او سوریانو له وخت څخه را په دې خوا د لوی احمدشاه بابا، تیمورشاه، زمانشاه او حتی تر دې هم را وروسته د انګرېزانو تر راتلو پورې د هغو افغاني قبیلو د نومیالو او مېړنو افغانانو ذکر وکړ و کوم چه تر وروستي کړیو پورې یې افغاني روحیه او افغاني عنعنه، افغاني روایات او افغاني کلتور په هند کښې ژوندي ساتلي دي او د هند او نړۍ په تاریخ کښې هغوی افغاني کهول او ټبر ته منسوب شوي او په دې نامه سره یادیږي.

دغه نومیالي افغانان هغه ښاغلي دي چه افغانی کورنیو ته د منسوب کېدو سره سره بیا هم له خپل ټاټوبي لرې او هوري شوي دي په داسې حال کښې چه دوی هغه کسان دي چه پلرونه او نیکونه یې د افغانستان د تاریخي هېواد له غرو څخه د افغاني سترو لاتحانو او تنګیو له سره هند ته ور داخل شوي او هلته پاتې شوي دي

په دوی کښې هغه جنګیالي او باشهامته افغانان شامل دي چه د مغلو له وخته یې بیا د انګرېزانو تر وخته پورې خپله توره هغه شان په موټي کښې ساتلې او هغه یې په ټیکې کښې نده ایښودې.

باید احقیقت په نظر کښې وساتو چه د سوري خاندان د وروستیو پاچاهانو (اسلم شاه سور ۱۵۴۵-۵۳ - فیروز شاه سور ۱۵۵۳-۵۴ - محمد عادل شاه سور ۱۵۵۳-۵۴، ابراهیم سور ۱۵۵۴-۵۵ سکندر سور ۱۵۵۵ ع) د غفلت او احمال په وجه د افغانانو خپلواکو تولواکیو سلسله د مغلو په لاس له منځه ځي لیکن سره له دې هم د هند په ډېرو برخو کې افغانانو هغه شان خپل اقتدار په لاس کې و ساتلو او ایسټ انډیا کمپنۍ تر وخته پورې د غه افغاني کورنیو د خپلواکۍ پاتې شوي او انګریزان مجبور شول چې د هغوی اقتدار په رسمیت وپېژني

لومړي نونو دبهار پهايالت کښې دهغونومياليوافغانانولپاره ذکر کوو چه دهندپه دې ایالت کښې يې اقتدار په لاس کی درلود او نومونه يې دپوره شهرت سره د تاريخ پانو ثبت کړيدي :

تاریخ فرشته لومړی ټوك په ۲۰ مخ کښې لیکي چه افغانان کله دلومړي ځل لپاره هندوستان ته را غلل نو په پټنه کښې میشته شول ځکه داويل روا دي چه افغانان د بيهار لومړي اوسیدونکي دي چه دځيل هيواد څخه له راتلو نه وروسته دا اقتدار خاوندان شويدي .(۱)

شیرشاه سوري هغه نومیالی افغان دی چه بیا وروسته یې له همدې ځایه دخپلې ستري تولواکۍ دتاسیس او منځ ته راوړو لپاره فعالیت پیل کړ لیکن له شيرشاه نه مخکښې ځینو نورو افغانانو هم هلته حکومت درلود چه دلود پانو دوخت پوري اړه نیسی په دغو افغانانو کښې لومړی سړی مبارك خان لوحاني ؤ.

دمبارك خان دسکندر لودي په وخت کښې يو اعتباري سړی او زلمی ځوی يې دريا خان لوحاني دسکندر لودی له خوا د بهار دا يالت حاکم وټاکل شو .

دریاخان لوحاني افغان :ـ دغه افغان له ۹۰۲ څخه تر ۹۲۳ هجري پوري داقتدار خاوند او په بيهار کښې يو طاقتور حاکم ؤ وائي دي دومره مقتدر حاکم ؤ چه له ځلو بیښتو زرو څخه زیات کسان يې مامورین اونوکران درلودل .

بهادر خان لوحاني افغان :ـ بهادر خان لوحاني د محمدشاه په

---

(۱) تاريخ بيهار دسولوي فيصح الدين بلخي عظيم آبادي تأليف ۱۷۱ مخ اردو اډيشن

په نوم له۹۲٤ څخه تر ۹۳۷ هجری پوری په بهار باندی حکومت چلولو اوددریا خان لوحانی افغان ځوی و .

دبهادر خان یا محمدشاه په هکله طبقات اکبری لیکی چه دغه افغان پخپل نامه خطبه جاری او سکه یی ووهله او دهمدوی په وخت کښی مغل بابر په بهار باندی یرغل وکړا وسختی جګړی وشوی .

جلال خان لوحانی افغان :- له ۹۳۷ هجری څخه تر۹٤٤ هجری پوری دا قتدار خاوندو دی دمحمدشاه یا بهادرخان لوحانی افغان ځوی وا ودهمدغه افغان دسورملکی لاد په مشوره فریدخان یا شیرشاه سوری ته پخپل حکومت کښی کار وورکړ او له هغه وروسته یی په حکومتی چارو کښی مشوره کوله .

سلیمان خان افغان :- دغه افغان دشیرشاه سوری له ستر و مامورینو څخه و اودشیرشاه په وخت دبهارحاکم و اودسلیم شاه سوری تروخته پوری پخپله وظیفه باتی و اودمحمدخان سور له وفات نه وروسته سربیره دبهار په حکومت دبنګال پاچا هم شو اوبیاتی اړیسه هم فتح کړه دی په ۹۸۰ هجری کښی وفات شو ..

بازید خان افغان :- دی په ۹۸۰ هجری کښی دپلار سلیمان خان څخه پس اقتدار په لاس کښی و اخیست بدایونی لیکی چه دی دیوافغان په لاس چه ددہ مخالف و و وژل شو.» (۱)

«داودخان افغان :- له ۹۸۱ څخه تر ۹۸٤ هجری پوری اقتدار په لاس کښی درلود . دی دبازیدخان کوچنی وروړو . داود خان په تخت باندی له کیناستلونه و روسته، په بهار، بنګال او اړیسه کښی خپله سکه جاری کړه اودمغلی پاچا اکبر سره یی سختی جګړی وکړی

(۱) ایضا تاریخ ایالت بهار ۱۷۲-۱۷۳-۱۷۵- ۱۹٤-۱۹۷- مخونه.

او افغانی لښکرو په دې جنګو نو کښې داکبر مغل په مقابل کښې سترې قربانۍ ورکړې چه اکبر نامه، طبقات اکبری ، دبدایونی تاریخ ددغو جنګونو او قربانيو داستانونه بیانوي .

معصوم خان کابلي او سعیدخان بدخشي: - دمغلو په رأ تللو دبهار او بنګال حالات ګډ وډ او خراب شول او ځای په ځای جګړې پيل شوې. معصوم خان کابلي او سعیدخان بدخشي په یو اتفاق دملاطیب بخشي او پرکهوتم سره سخته مقابله وکړه او هغوی یې په شا و تنبول ، لیکن وروسته د ځینو ناوړه اتفاقاتو په وجه د دوی اقتدار ته خاتمه ورکړې شوه. » (١)

سعیدخان افغان: - له ١٠٥٧ هجري څخه تر ١٦٤٨ پورې ژوندی ؤ دی له بلخ څخه راغلی او دشاه جهان مغل له خوا دده دستروخدمتونو او پوزه لیاقت له کبله د بهار دایالت صوبه دارو تا کل شو لیکن دشاه جهان نامې له دویم - ټوک ٦ - ١٢٣ - ١٣٤ مخونو څخه څرګند یږي چه دی په کابل کښې وفات شویدی» (٢)

عالم او اسماعیل افغانان: - دبهاردایالت دوه نوميالی افغانان ووچه دسرجادونات سرکار پیاوړی مورخ په قول دواړو په یو اتفاق په شاه جهان پوراوکانت کوله یا غې برغل وکړ او دمغلو خلاف یې ټوری له تیکو راو ویستلی. ماثر عالمګیری چه اصلي ماخذ ګڼل کیږي په دی برخه کښې وائی چه دغه دواړه افغانان دسختواوخونړو جګړو نه وروسته چه دیر تلفات یې کښې واقع شول د١٠٨٦ هجري کال

(١) تاریخ بهار دمولوی فصیح الدین تألیف ١٧٣ مخ .

(٢) ایضاً -تاریخ بهار ٢١٣ مخ

وشعباله دسیاهتی په‌ نیته ونیول شول خو په دیر درناوی د اورنگ زیب دربارته واستول شول» (۱)

جمال‌خان لوحانی افغان: - جمال‌خان لوحانی یولوبیالی افغان وچه دتاریخ جونپور ریاشمر ازهند په قول دغه نیکه د اکبر مغلی پاچا په زمانه کښی ژوند کاوه او بیا جونپورته راغی او داتاله مسجدته نژدی یی هستوگنه اختیار کړه (اتا له هغه مسجددی چه ستر شیرشاه سوری بکښی بیل لوستلو).

جمال‌خان افغان لوحانی چه کله زلمه توب ته ورسید نو دزده کړی او تحصیل نه ورسته ددیلی په‌لور راروان شو اودلوړلیاقت په وجه دشاه‌جهان له‌خوا دجونپورحاکم وتاکل شو. دی یو هوښیار اوغیرتی افغان ؤاودغه مودی حکومت‌نه‌پس وفات شو اودشاه‌گنج دمرګ په غاړه په‌جونپور کښی ښخ شو» (۲)

جمال‌خان لودی افغان: (۱) دغه لوبیالی پښتون دبهلول شاه‌لودی‌له نژدی‌ستر و کسانو څخه‌وه لیکن‌دسکندر لودی‌په‌زمانه کښی‌یی داتپال ستوری نورهم وځلید اودسلطان سکندر لو دی دخوی شاهزاده جلال دمصاحب په‌توګه وتاکل‌شو او ورو سته‌بیا په جونپور کښی دسپه سالار په‌حیث مقرر کړی‌شو.

دی یوزړ ور او هوښیار افغان وه په‌دغه موده کښی دلیاقت او

---

(۱) ایضاً دغه کتاب ۲۰۶ مخ

(۲) تاریخ جونپور یاشمر ازهند دسیداقبال احمدتألیف دجونپور چاپ کال ۱۹۶۳ - ۲۷۲ مخ

(۳) تاریخ جونپور دسید اقبال احمدتاءلیف ۲۷۴- ۲۷۸- ۱۰۲۰- ۱۰۲۱- ۱۰۲۲ مخونه

او اهلیت په وجه د وزارت درجې ته ورسید او دسلطنت تولې چارې ده ته وروسپارل شوې.

دی په یوه جگړه کښې د جنگ په وخت ووژل شو او د جونپور په بلوچ توله نومې سیمه کښې ښخ کړی شو. او س یې پکلی مقبره د یادگار په توگه پاتې ده.

رعناخان لودی افغان: رعنا خان د جمال خان لودی افغان ځوی وه. دوی څلور ورونه وو په دې ډول سلیمان خان، رعنا خان صلاح او رکن الدین خان.

جونپور گز یټر لیکي:

رعناخان د بابر په زمانه کښې د پیانه والي ؤ او نور ورونه یې هم تول په لو یو لو یو عهدو او دندو مقرروو.

رعناخان افغان د شیر شاه سوری افغان په حکم جونپور ته راغی او هم هغلته وفات شو. مقبره یې په ناصحي محله کښې ده او د حضرت قاضي جلال الحق ناصحي د روضې خیتیز دې ته پرته ده او ډیره پکلی مقبره ده.

صلاح خان افغان: د جمال خان لودی ځوی او د رعنا خان، سلیمان او رکن الدین خان ورور دی.

دی یو مېړنی افغان او د اسلام شاه سوری په زمانه کښې د بها نه جر نیل وه له مهمو او سترو خد متو نو څخه وروسته وفات شو او یوه شاندار مقبره ور باندې جوړه شوه چه د ننه یکښې تول د پاك قران آیاتونه لیکلي شوي دي. په مناقب درویشیه او گزیټر جونپور کښې لیکلي راغلي چه اکبر پاچا دده قبر ته د زیارت لپاره راتلو.

سیلمان خان افغان: د جمال خان لودی ځوی او د رعنا خان، صلاح

خان او رکن الدین خان و روو. د شیرشاه سوری په زمانه کښې د اقتدار خاوند شواو په پای کښې د بنګال د ایالت والی مقرر شو.

حسن رضا بیګ: دی یو نوموتی لیکوال او پیاوړی افغان و. تاریخ جونپور لیکي چه حسن رضا بیګ د بابر په زمانه کښې د شاه فیروز سره جونپور ته راغی او هغه موده د پوځ سپه سالار و. له وفات نه پس په باره دری کښې ښخ کړ شوی.

میر رستم علی خان یو تکړه افغان و. تاریخ فارس لیکي چه د هغه افغان ورور ود پوره اقتدار او اثر رسوخ خاوند شو او د هغه اقتدار او نفوذ په وجه دی زیات مغرور شو او د فارس، جونپور او چنارد حکومتونو تقاضا یې وکړه یکن نواب منصور جنګ هغه تقاضا ونه منله او د ښمنانو دچل او دسیسو په وجه په زندان کښې واچول شو او هم هلته وفات شو مقبره یې د جونپور په خاص پور کښې ده. (۱)

شیر زمان خان افغان: تاریخ جونپور د تجلي نور د قلمي نسخې په حواله لیکي چه شیر زمان خان یو بهادر د همت خاوند او مېړنی سړی ون و او د نواب بنګښ فرخ آبادی له نژدې عزیزانو څخه و دی د فرخ سیر په زمانه کښې د جونپور حاکم و تاکل شو او د جونپور په کتګره نومې ځای کښې یې یو باز ر هم ودان کړ چه د تر اوسه د ګنج په نوم یاد یږی.

زمان خان ته د زیاتی زړورتیا په وجه خلکو د شیر افګن ثانی لقب ورکړی و او ویل کېږی چه ده به د زمر و ښکار په توره کولو لکه چه د چنار غره کښې یې د یو جوړه زمرو سره جنګ وکړ او زمری تری و تښتیدل شیر زمان افغان د اعظم ګړه راجا ته شکست ورکړ او هغه ځای

(۱) ایضاء تاریخ جونپور ۲۸۹ مخ.

یې ونیوه. په دکتکړه کښې دده په مزار یوه ښکلې مقبره جوړه کړې
شوې چه دسیند په غاړه پرته ده (۱)

صاحب زمان خان افغان ادانومیالی د شیر زمان خان پښتون کشر ورور و کله چه د نواب احمد خان بنګښ د فرخ آباد او نواب ابوالمنصور داود هم او جونپور جاګیر د ږه منځ نښتی جګړه و نښته نو احمد خان بنګښ پرې لاس ته راوړ او تر جونپور. راورسید. څنګه چه صاحب - زمان افغان د نواب احمد خان بنګښ عزیز و نو ځکه خوبی د جونپور چارې صاحب زمان خان ته وسپارلې او خپله بیرته فرخ آباد ته لاړه

اوس مونږ دهند په جونپور کښې د هغو مذهبي او روحاني لویو شخصیتونو ذکر کوو چه په دې سیمه کښې د لوی شهرت او نوم - خاوندان وو او د افغان کهول ته منسوب دي.

حضرت مخدوم نجم الدین غوث الدهر قلندر رح:- د دغه روحاني متر شخصیت پلار سید نظام الدین د غزني او سید ونکی و ده له حضرت مخدوم سید خضر رومي څخه لاس نیوی کړی و او د غوث الدهر خطاب یې د ځان پاره غوره کړی و. سید نجم الدین غوث دهر قلندر د قلندریه سلسلې له پیروانو کامالو بزرګانو څخه و او ډیر کرامات ورڅخه لیدل شوي دي دده په چولی باندې دائمي نوراني خطوط په دې ډول یوځای شوي وو چه له هغو څخه د قطب الاقطاب لفظ لوستل کیدی شو. دی د ۸۳۷- هجري کال د ذی الحجه د میاشتې په شلمه نیټه ته د چهارشنبې په ورځ د سلطان ابراهیم شاه شرقي په زمانه کښې وفات شو او پې نوموړي روحاني یوسل او شل کاله عمر وکړ او سلطان غیاث الدین خلجي پرې یوه ښکلې مقبره جوړه کړه (۳)

---

(۱) تاریخ جونپور د تجلي نور قلمي دریم ټوک په حواله ۲۷۹ مخ
(۲) ایضا دغه کتاب ۲۸۷ مخ
(۳) ایضاً تاریخ جونپور ۶۳۴ مخ

مولوی محمد اسماعیل خان صاحب : دغه نومیالی وجانی افغان ،
دیوسف زی څخه دی. نوکره عالم او په جمله علو مو کښې
وارد شخص وشیه اوروغ دد بنی علوموپه زده کړه او تعلیم بوخت و
مولوی محمداسماعیل افغان دجونپور دپنځه رانتحه زړه پټانو دزړ کوزی
دده مزار چه دعوامو زیارت دی دجونپور په رسول آبادنومی ځای
کښې دی . (۱)

مولوی عنایت حسین خان : درعایت حسین خان لودی افغان ځوی دی
دده پلاراو نیکه دسودا گری لپاره جونپور ته راغلی اوهلته میشته
شوی وو. دی دجونپور یو لوی دینی عالم وچه شهرت یی په ټول جونپور
اوخوا و شا سیمو کښې خپور شوی و (۲)

حضرت مولانا هدایت الله خان : په تذکرة العلما او تذکرة
الشعرا کښې راغلی دی چه دغه په علی در امپور دروهیله افغانانو
څخه و. تقوی خاوند ، دنیکو اخلاقو څښتن اوپو صوفی مشرب افغان و
او په تصوف کې یی لوی لاس درلود.

مولانا هدایت الله خان افغان دخپل علم او ځوره اخلاق له کبله
په زړونو کښې ځای نیولی و ده په دینی جمله علوموکښې پوره تبحر
درلود په تیره بیا په معقولاتو کښې یې خاص بنوغ در لوداو دهندو
ستان په یوه سیمه کښې هم دده چرگه سری شو پیدا کیدلی .

مولانا صاحب دجونپور په حنفیه مدرسه کښې تدریس کاوه او
پیاد لیاقت په وجه ستر مدرس وټاکلی شو. دغه افغان وروسته دگوزن
په مرض پربوت اود ۱۳۲۶ هجری کال دروژی دمیاشتی په لومړی

---

(۱) تاریخ جونپور دتجلی نوردو یم توک په حواله ۷۸۸ مخ
(۲) ایضا دغه کتاب اودغه مخ .

و څ وفات اود جونپور په رشید آباد نومی ځای دحضرت مخدوم دیوان عبدالرشید قدس سره په مقبره کښې ښخ کړی شو (۱)

حضرت میران سیدغالب شهید رح : دی په اصل کښې دغزنی او د سید سالار مسعود غازی له ژړی سلګرو څخه و په ۴۲۳ه کښې یې دجهاد په سلسله کښې دملك فضل سره ظفرآباد ته تشریف راوړ او په همدغه ځای کی شهید شو.

خلك عقیده لری چه دهری جمعی په مبارکه شپه دغه اوی روحانی شخصیت له قبر څخه آواز ونه اوریدل کیږی . دده مزار په کوټ آسن کی دی . (۲)

حضرت شاه اسرار علی رح : دغه نومیالی اواوی روحانی یوشخص او افغان وله کوره میان پور ته راغی اوهلته یې دحضرت شاه اسرار علی رح لاس ونیوه دغه روحانی د۱۲۵۶ هجری کال دروژی دمیاشتی په اسمه دجمعی د ورځ وفات شو چه د مغل پادشاه بهادرشاه ثانی حکومت دوره وه تجلیات الله رفین په حوانه دده مزار په تکیه میان پوره کښې دی چه د الله آباد په حجره کښې دفنه دی (۳)

مونږ په وړاندی کړشو کښې دی حقیقت ته اشاره وکړه چه په هند کښې د افغانی ستر ورکه یوله پای ته رسیدلو سره سره بیا هم پیلو پیلو سیمو او یا لاتو کښې افغانی عشیری او قبیلی په ځای پاتی شوی او په قبیلوی شکل یې خپل اقتدار او تسلط په ځای وساتلو او دغه کار په حقیقت کښې دهندوستان په خاوره کښې د افغانی کلتور دپاینت سبب شوا و افغان دهند تاریخ یو مهم ارتیکل وګرزید.

---

(۲) ایضا دغه کتاب ۹۸۰ مخ .

(۱) ایضا دغه کتاب ۷۸۹ مخ

(۳) ایضا دغه کتاب ۹۰۰ مخ

دادي مونږ دېها ژو چو نیورله سیمو څخه ورو سته یو ه بله سیمه د بحث او څېړنې تر لاندې نیسو چه د هند په تاریخ کښې د روهیل کنډ په نوم یادېږي .

د روهیلکنډ معنی ده د روهیله افغانانو سیمه یا ټاټوبی. دغه ځای اوس د هندوستان د مدهیه پرادیش په آیالت کی پروت دی ترننه ورځې پکښې افغاني نسل تر یوه حده میشته دی او سره له دې چه ژبې کهول یې خپلې مورنی او پلارنی ژبې (پښتو-دري) د ځینو خاصو عواملو په وجه هېرې کړېدي لیکن د افغاني کلتور نور عناصر لا هغه شان په دوی کښې ژوندي او پاتې دي او دوی ځانونه افغانان بولي .

په هندي ولس کښې یوه مشخصه اصطلاح رواج ده او هغه دا چه دوی اوس هم افغاني النسل هندیانو ته (خان) وای او دخان په نوم یې یادوي او دغه لقب یا خطاب یوازې د هغو کسانو لپاره استعمالېږي چه پلارنیکه یې افغانان تېرشوي وي .

روهیلکنډ هغه سیمه ده چه په هغې کښې نومیالو افغانانو کورنیو، د نوابانو او حاکمانو په توګه خپل اقتدار حتی د انګریزانو تر راتللو پورې په ځای وساتلو او په وروستو کې نو کښې یې د انګریزانو له پنجو څخه د هندوستان د آزادولو په لاره کښې هم ستري قرباني ورکړې چه ذکر به یې تاسو په دې کتاب کښې وګورئ .

روهیلکنډ د روهیله افغانانو د خوځښتونو، جګړو او فداکارۍ یو ژوندی تاریخ ګڼل کېږي. هغه نومیالي افغانان چه په ځینو اثرو کښې لکه تاریخ اوده، تاریخ رحمت خاني، تاریخ روهیلکنډ، تاریخ ینګش نسب افاغنه، تزک افغاني، وقعات دار الحکومت دهلي،

عجیب التواریخ، تاریخ فرخ آباد، هستری اف دی فریدم مومنت، مختصر تاریخ ریاست رامپور، حیات حافظ رحمت خان، عبدالقادر افغان، هستری اف انډیا کیمبرج، او داسې نورو کتابو ورو هیله افغانانو په نوم یاد شویدي، او ددوی داقتدار په باب یې چه کومې څیړنې کړیدي هغه د شمار او حساب څخه وتلې دي.

اوس هم د هند په بېلو بېلو سیمو کښې داسې ځای، بونه چه افغاني نومونه لري ډېر شته دي لکه پټان کوټ، افغانپور او څینې نور رهتي درامپور ضلع کښې خو اوس هم زیاتې کوټې او کلاګانې افغاني نومونه لري.

روهیلکنډ هم د افغانانو د شهامت او بیداری داستان د خپلو رڼو او آثارو په ژبه بیانوي چې د تاریخ پوهانو لپاره ډېر حقایق روښانه کوي.

هغه نومیالي افغانان چه هند ته د شرقي کمپنۍ تر راتلو او د انګریزي اقتدار تر ټینګیدو پورې په هند او په تېره بیا په روهیلکنډ کښې داقتدار او حکومت خاوندان وو او انګریزانو به د هغوی برقوت او د سرښندنې سره په سلګرتیا هغوی له پښو غورځول دادي:

نواب علي محمد خان روهیله افغان ـ له کوچنیوالي څخه د داؤد خان افغان په خپل لاس کښې لوی کړ.

داؤد خان هغه څوک دی چه د مشهور پښتون شهاب الدین سرو او شهاب پچاوه د نومیالو افغانانو حسن خان او شاه عالم خان پلار ؤ.

حسن خان د ننګیالي او میړه پښتون دونده خان پلار دی او د شاه عالم خان د جنګیالي او بهادر افغان حافظ رحمت خان روهیله پلار ؤ(۱)

---

(۱) تاریخ بنګښ د مفتي ولي الله فرخ آبادي تالیف ۹۷ مخ د سید الطاف علي بریلوي چاپ کال ۱۹۶۵ ع

نواب علی محمد خان دقوی ارادې او تیینګ عزم خښتن ؤ او د ورځې دکندهار او کابل او زابل څخه د تلو افغانانو به مرسته او کومک خپل کوچنی سیمې دخپل اقتدار تر نګیں لاندې راوستلی او بیا کرار کرار قدرت ته ورسید او په ۱۷۳۵ عیسوي کښې د پوره طاقت خاوند شو

د محمد شاه دحکومت ستنې په دې وخت کښې په لرزیدو وې او سر هند دعلی محمد خان روهیله دپاره دیر ښه ځای ؤ چه هلته خپل قوت او طاقت امتحان کړي.

د نواب علی محمد خان روهیله قدرت ورځ په ورځ زیات شو او مراد آباد، سنبهل، بریلي، پیلي بیت، انوپ له او نورې سیمې یې قبضه کړې او په دې وخت کښې تقریباً شل بیشتو پنځوس زره افغانانو د ده سره ملاتړلی وه.

شاه حمزه د کشف الاستار مؤلف د نواب علی محمد خان په باب لیکي:

«عجب کسی بود داستان سخاوت وشجاعت وعدالت او برزبانها ست. در ین اوراق گنجایش پذیر نیست»(۱)

نواب علی محمد خان روهیله د فرخ آباد والي شولیکن وروسته دصفدر جنګ د دسیسو په علت محمد شاه پاچا هغه په خلاف کام پورته کړ او جګړې پیښې شوې .

د ده سره دوه زامنو عبدالله خان او فیض الله خان هم په جنګ کښې برخه درلوده .

نواب علی محمد خان روهیله افغان د ۱۱۶۲ هجري کال د شوال د میاشتې په ۳ نیټه په طبعي ناروغتیا وفات شو(۲)

---

(۱) تاریخ اوده حکیم نجم الغني رامپوري تالیف ۱۱۸ مخ د نولکشور طبع کال ۱۹۱۹ ع .

(۲) ایضاً تاریخ اوده او تاریخ بنگش .

نواب سعدالله‌خان روهیله افغان : ـ دانو میالی پښتون د نواب علی محمدخان روهیله کشر ځوی او د نواب فیض‌الله‌خان سکه ورور ؤ

« د نواب علی محمدخان روهیله له وفات څخه وروسته نومیالی افغانان حافظ رحمت خان دوندی خان سردارخان بخشی فرخ خان خانسامان او نورو قومی مشرانو د نواب علی محمدخان ددوه ځامنو عبدالله‌خان او فیض‌الله‌خان د نه موجودیت په وجه د نواب صاحب کشر ځوی سعدالله خان د پلار په ځای و ټاکلو » (۱)

« په روهیلکنډ کښی افغانی ننګیالو بیلی بیلی سیمی په لاس کښی درلودی په دی ډول چه حافظ رحمت خان روهیله مراد آباد سنبهل او کاشی پور علاقه نواب دوندی‌خان چه دده دکره ځوی ؤ کوټ د آنواله‌اوشاوو خواسیمی بخشی سردارخان بدایون او اسهمت فرخ خان خانسامان په خپله قبضه کښی لرل او نواب سعدالله خان روهیله دجاګیدا دڅخه علاوه دکابل اوه لکه روپی هم لاس ته را وړلی . » (۲)

دمرهټه ګانو ، ځینی محلی حاکمانو اودانګریزانو سره ددغو افغانانو په تیره بیادنواب سعدالله خان جګړی دروهیلکنډ دتاریخ او په مجموعی ډول دهند وستان دتاریخ ډیر مهم فصلونه دی او دغوافغانانو زړورتیا او ګری پوری‌خپل افغانی میمزات او صفات په ډیر ښه شان سره وساتل . ځان برسټو ددغو افغانانو د ننګ او غیرت او شهامت پوره تفصیل لیکلی دی چه په تاریخ اوده اوداورون په تاریخ فرخ آبادکښی‌ی ځینی برخی اقتباس او را نقل شوبدی

---

(۱) تاریخ بنګش دمفتی ولی والله فرخ آبادی تالیف ۱۱۰ مخ .

(۲) ایضا تاریخ بنګش ۱۱۰ مخ

نواب فیض الله خان روهیله افغان :- د رامپور والی ؤ او
دانګریزانو په لمسون یې دحافظ رحمت خان دزامنو حرمت خان ،
اکبر خان او عظمت خان سره اختلاف پیدا شو. کله چه دحافظ
رحمت خان روهیله افغان زامنو دجان برستو ور اندې ایښې شرایط
قبول نکړل نو په ۱۱۹۰ هجري کښې یې دجان برستو له رخصت کیدو نه
پس څه اندازه پوځ راغونډ کړ او په پیلی بیت یې برغل وکړ. په
دې وخت کښې نواب فیض الله خان هم ددښمنانو په لمسون خپل
پوځ دحرمت خان روهیله مقابلې ته راووېستلو. (۱)

داهغه وخت ؤ چه ایست انډیا کمپنۍ دهند په بیلو بیلو ځمو کښې
دافغانانو داقتدار دختمولو لپاره نقشې وویستلې او ددغه نقشو نتیجه
دافغانانو په ضرر او ددښمن په ګټه شوه.

حافظ رحمت خان افغان :- دغه نومیالی افغان او باتور پښتون
دشاه عالم محوی او د روهیلکنډ پر ملې دسیمې والي او د روهیله افغانانو
مشرو. دانګریزانو او ددوی له پر بګېږه یې سختې جګړې وکړې
او دژوند تر پایه پورې یې دغلامۍ ونه منله.

(کرنیل چمپین) انګلیسی دافغانانو دبهادرۍ ، توري او میړانې
د ذکر په لړ کښې دنواب حافظ رحمت خان په هکله داسې لیکي:

«حافظ رحمت خان روهیله سره تقریبا څلور پنځه زره پوځ وه هغه په
ډېره زړورتیا ، میړانې او شهامت له موږ سره جګړه وکړه. دېر ځله
روهیله پوځونه زموږ په لښکرو کښې ور ننوتل او موږ یې شاتګ ته
مجبور کړو.»

افغانانو په خپلې جنګي پوهې ته کړي وي او نور په یې په دې وسیله
وراندې تګ ته مشغول او تشویقول.

---

(۱) تاریخ او ده حکیم نجم الغني رامپوري تالیف دریم ټوک ۳۳۴ مخ

څوڅوواری هغوی ځمونږ د توپونو د لیه کواو څخه او کوښښ وکړ لیکن ځمونږ توپو او پښتنو ته دغه موقع نه ورکوله .
د بر حمله افغانانو ځانونه ځمونږ توپونو ته سهر کړل او چه کله په سنګینې راغلل نو توپونو په والوزول ر ښتیا چه د دوی بهادری او زړ وروتوب دستاینې ور او د عسکری فن ستر ماهران دی» (۱)

دحافظ رحمت خان د وفات نیټه ۱۱۸۸ هجری جوولی کیږي .

لاندې شعر د دغه نوسیالی افغان د شهادت په باب کښې دی :

شهادت یافت نواب فلك قدر   بضرب گولهٔ توپی علی الصدر
زبس در جنگ آن شیر نرینه   دلاوریها بسر بنمود سوخته
خطابش حافظ الملك است مشهور   باکناف جهان نزدیك و هم دور
قلم سالش بطرز او رقم کن   دو انگشت از جهان را نگشت خم کن (۲)

شجاع الدوله دا نګریزانو په مرسته او کومك د حافظ رحمت خان ژوند ته خاتمه ورکړه او په دې دول دانګریزانو له مخې یو لوی هراری کړی شوه د حافظ صاحب په میړنو زامنو کښې عنایت خان ، محبت خان ، اکبرخان او عظمت خان او ارادت خان هم د جان پرستو انګریزانو سره ډیری جګړې وکړې خو انګریزانو نواب فیض الله خان روهیله قوم پښتنو او هغه بی محبت خان او نورو په خلاف راپورته کړ .

نواب محبت خان محبت په هند کښې د دری ژبې یو تکړه شاعر تیر

---

(۱) تاریخ اوده حکیم نجم الغنی رامپوری تالیف ۹۳۳ مخ .
(۲) ایضاً دغه کتاب ۲۳۸ مخ .

هو بدی چه ددی کتاب د شاعرانو په برخه کښې په معرفی شی. دی د حافظ رحمت خان ځوی ؤ.

د حافظ رحمت خان د روهیله افغانانو پوملویه هسنی وه. (۱)

حافظ صاحب یو میرنی او تورزن پښتون وه چه پزدلی ورته یې ننګی ښکاریده او هیڅ کله یې هغه نشوه قبلولی (۲)

نواب دوندی خان روهیله افغان: - دغه هاغای پښتون د حسن خان نومیالی ځوی دی.

چه د حافظ رحمت خان او نورو میرنو پښتنو سره یې د شجاع الدوله او انګریزی پوځ سره د خپلی آزادی هغه د دفاع په لار کښې سختی قربانی ورکړی د مراد آباد سنبهل او کاشی پور سیمی دده تراختیار او حکم لاندی وی او حافظ صاحب او دده دزامنو سره یې په دیر و جګړو کښې پوره ملاتړلی وه.

د نواب دوندی خان دوو میرنو زامنو فتح الله خان او محب الله هم د روهیله افغانانو په جګړو کښې برخه اخیستی او د خپلو سیمو د حفاظت لپاره یې پوره هلی ځلی کړیدی.

ګلستان رحمت لیکی چه د حافظ رحمت خان له وژل کیدو نه پس نواب دواندی خان د امیدو نوځای واوده هم د خپلی کالمیا یې لپاره زیاتی کوښښونه وکړل. (۳)

نواب نجیب خان روهیله افغان: - مور خینو دی د نجیب الله وله

---

(۱) حیات حافظ رحمت خان د سید الطاف علی بریلوی تاء لیف ۲۱ مخ د کراچی طبع کال ۱۹۰۸ ع

(۲) تاریخ اوده ۲۶۴ مخ د مطلع السعادت په حواله.

(۳) تاریخ اوده د ګلستان رحمت په حواله. ۲۲ مخ

په نوم ذکر کړېدی پوه‌پرنی او نومیالی پښتون و چه د و ندی خان ته یی خپله لوروز کړی وه.(۱)
نجیب‌خان ته‌دعالم گورثانی په تفاخ اوخواهش چه دتیمورشاه‌درانی خسرو دلوی احمد شاه له خوا د امیرا لا مرائی لقب ورکړی شواود نجیب الدوله‌په‌نوم یادشو . (۲)
نجیب الدوله دلوی احمد شاه‌له خوا په شاه جهان آباد کښی دحاکم په حیث وټاکل شو . (۱۱۷۷ هجری) دی دلوی احمدشاه په جګړو کښی‌چی‌دمرهټه‌وسره یی وکړی او هغوی ته یی سختی ماتی ورکړی ملګری وه اودزو هیله افغانانو پو هو نه دده له‌خوا راټول شوی وو. (۳)
نجیب الدوله یا نجیب خان دلوی او تکړه پښتون نواب ضابط خان پلار اودپاشهامته افغان غلام قادر یڼکه وچه وروسته به یی ذکرراشی .
عمدة التواریخ په ۱۴۲ مخ کښی لیکی :
«نجیب خان داحمدشاه ابدالی ‌د‌حکم سره سم په مالی او ملکی کارونو کښی دصلاحیت خاوند ؤ او د احمدشاه خدمت یی په صداقت سره کاوه »(۴)
عمدت التواریخ په‌بل ځای کښی لیکی :

---

(۱) واقعات دارا لحکومت دهلی ۶۵۷ مخ
(۲) ایضا دغه کتاب ۶۵۸ مخ
(۳) ایضا دغه کتاب .
(۴)عمدت التو اریخ دسو هن لعل سوری تالیف دنو لکشور طبع ۱۴۲ مخ.

واحمدشاه درشالمار رخت استقامت انداخت ونجیب خان بشرف ملازمت احمدشاه معزز شد خدمت میر بخشی

وخطاب امیر الامرا بنامبرده عطا و مرحمت گشت و مقرب بارگاه گردید . (۱)

نواب ضابطه خان افغان :- د نواب نجیب الدوله بهادر ځوی وء نواب شجاع الدوله دانگریزانو په اشاره او مشوره داکوشش وکړ چه دی د ځان سره متحد کړی او ترڅو اندازی پوری په دی هڅه کښی کامیاب هم شو .

ضابطه خان د شاه عالم په وخت کښی په دهلی برغل وکړاو په تعلق آباد کښی بدرنوړ ته راورسید او شاهی پوځونه یی په شا وتمبول او نتیجه دا شوه چه پاچا د نجف خان په ځای ضابطه خان ته دوزارت رتبه ورکړه . (۲)

غلام قادر افغان :- د ضابطه خان نومیالی ځوی وء چه په ۱۲۰۲ هجری کښی یی د پښتنو بوزور ورلښکر راغونډ کړ او شاه جهان آباد یی کلابند کړ . د شاه عالم پاچا دومره په تنګ کړ . چه په پای کښی یی دشوال د میاشتی په ۲۰ نیټه دغو ننګیالو افغانانو په مرسته شاه عالم پاچا او شاهزادګانو او ملسیانو سره ونیو او بندیان کړاو په ځای یی بیدار شاه له زندان څخه راو ویستلو او په تخت یی کیناوه او هم د ده په نوم یی سکه ووهله . (۳)

---

(۱) عمدة التواریخ د سوهن لعل سوری تالیف ۲۸۲ مخ د تو لکشور طبع د دیلی پبلک لایبریری مربوط

(۲) واقعات دارالحکومت دهلی ۶۷۰ مخ .

(۳) واقعات دارالحکومت دهلی ۶۷۸ مخ .

مولوی غلام جیلانی روهیله :- د روهیله افغانانو په پوهانو کښې یو استاذ او نومیالی رساله دار وه او اوس یې هم اولاده په رامپور ضلع کښې په ډیر عزت ژوند تیروي .

د حافظ رحمت خان له وفات څخه وروسته د هغه میړني انسان آ نوله پری نبوده . د عبدالرحمن خان او محمد سعد الله خان سره چه د یوسف خان کنډ هاري خاص ورو آنولي ته ملار او هلته یې له پشیر څخه چه د شجاع الدوله مامور وه او د مولوي صاحب د نیک اخلاق او پهامت له کبله د هغه تقاضا ومنله . (۱)

مولوي غلام جیلاني یو زړور او د ډیر عزت خاوند افغان وه.

مصطفی خان افغان :- په قوم بړیڅ افغان وه دده تره عبدالغني خان د مهابت جنګ علي وردي په حکومت کښې د لوی اعتبار خاوند وه او کټک د بهمی واکدار او د هیبر جنګ لقب ورته ورکړی شوی وه دی د هیبت جنګ سره په یوه جګړه کښې چه د عظیم آباد په حدودو کښې وو کړه شهید شو . (۲)

خان بهادر خان روهیله افغان :-

د هغه نومیالي افغان د حافظ الملک حافظ رحمت خان روهیله لمسی او تر یوه وخت پوري د صدر الصدور وظیفه په غاړه د لودې دا انګریزانو سره د مقابلې په وخت د بریلي والي شو د هغه های دده نیکه حافظ رحمت خان تر لاس لاندې سیمه وه او چه کله د بریتانیا حکومت خپل اقتدار په هغې کړ نو دا انګریزانو له ځواد آزادی په جرم او ګناه و نیول شو او وژل شو او د زندان د لوی دروازې په منځ کښې ځړ

---

(۱) تاریخ اوده ۲۶۵ - ۲۶۶ مخونه .

(۲) تاریخ بنګښ ۲۵۸ مخ .

کړی شوچه پوره مقالات یی په (حیات حافظ رحمت خان) او (هند کی چند علماء) کښی ذکر شویدی .(۱)

جنرال بخت خان روهیله په دامړی لومړی د انګریزانو په ضد اوقریب د دوی طرفدار شولا کښ وروسته بیا د انګریزانو بخت دیدن وګرزید .

د په اوله کښی د جونپور د ضلع د سلطان پور د سیمی صوبه دار و اوحتی د انګریزانو د توپخانی افسر هم و لیکن په وروسته کلونو کښی یعنی د ۱۸۰۷ م عیسوی کال په مشهور بغاوت او انقلاب کښی چه هند یانو د انګریزانو په خلاف وکړ د هغه افغان دومره سترهبر څه درلوده چه د دیلی په تاریخ کښی یی بی مثال نه مو ندل کیږی .(۲)

جنرال بخت خان د مغلو د کورنی وروستی پاچا بها درشاه ظفر د انګریزانو له خطر څخه بچ کړ او حتی د مغلو سلطنت یی تر یو وخته پوری د انګریزانو په لاس له سقوط و ساتلو او نوی روح یی د هغه په تش کالبود کښی بوه کړو د بخت خان کورنی د روهیله افغانانو یوه معززه کورنی وه. روهیله هغه افغانان دی چه د غلام قادر افغان غوندی بهادر خلک په هغی کښی پیدا شویدی .(۳)

د هند د آزادی په لوی انقلاب کښی چه په ۱۸۰۷ عیسوی کښی د انګریزانو په خلاف وشو او دیر مخا نی تاوان یکښی پیښ شو

---

(۰) ایست انډیا کمپنی او رباغی علماء د مفتی انتظام الله شهابی تالیف ۲۶ مخ د دیلی طبع .

(۲) ایضاء د هغه کتاب ۶۴-۶۰ مخونه .

()ایضاء د هغه کتاب ۰۹ مخ .

اصلي مرکزي بخت خان رو هیله وا ودته په تو ره او مېړا نه د دغې انقلاب لمبې پورته شوې .

بهادرشاه ظفر دمغلو وروستي پاچهېل روهېلې له لاسه ورکړې وو او هغه دخپل سلطنت اوخپل خا ندان دنجات لپا ره پښتون بخت خان ته لاس اوږد کړ اوهغه يې دخپل پوخ عمومي قوماندان وټاکلو .

ظهېردهلوي پهداستان غدر ۹۷مخ کښې ليکي :

(بخت خان جرنيل هو ارلس زره کسان ،څو توپې او دوه ؟ زرې ... تولګي او څو لکه روپۍ دبرېلي له خزا نې څخه را وا خيستې او دډيلي خوا ته يې حرکت وکړ څکه چه له هغه څخه دډيلي پاچا بها در شاه ظفر دمرستې خواست کړی ؤ (۱)

مره له دې چه مغلي پاچا ټول اختيار د بخت خان روهيله په لاس کښي ور کړي، او بخت خان هم دا نقلاب دکا مياب لپ ره انتظام کړی ؤ ليکن د څېنو کسانو د خيانت په وجه دغه انقلاب کاميا ب شو جنرال بخت خان خلاص شو ليکن بها رشاه ظفرد انګريزا نو له خوا ونيول شو وله هند نه په رنګون ته فرار کړی شوا و هم هلته مړ او ښخ کړی شو.(۲)

حکيم محمد حسن خان روهيله افغان :- د نواب محبت خان لمسی وه چه دحافظ رحمت خا ن کړو سي کيږی دی په شا جهان پور کښې هستو ګنه در لوده او دشاه جهان پور دناظم سره يې دلوی انقلاب دکاميابۍ لپاره مرسته وکړه ليکن په پای کښي دا نقلاب قربانی شو.(۳)

جنرال محمود خان روهيله :- جنرال محمود خان نجيب آبادی

---

(۱) ايضا عدهه کتاب دداستان غدر په حواله .۶۶ مخ .

ايضاء ايست انديا کمپنی اردواد بشن ۶۶ مخ .

(۳) اايست انډ يا کمپنی اور باغی علما .۹ مخ

ابن نواب معین خان روهیله د ضابطه خان روهیله د لمسی او نواب نجیب الدوله افغان کړوسی وه چه د ۱۸۵۷ عیسوی کال د جون په ۸ نیټه یې په نجیب آباد کښې د انګریزانو په خلاف د خپل امارت اعلان وکړ.

جنرال محمود خان روهیله د ښاروخواسیمو په خلکو کښې ډیر عزت او احترام درلود. ولس دده د اخلاقو ګرویده وه مغلی پاچا بهادر شاه دده په توره تکیه درلوده او ده ته یې د امیر الدوله ضیاء الملک محمد محمود خان بهادر ظفر جنګ خطاب دخو شامنه وله کیله ورکړی وه لیکن دی هم د انقلاب او بغاوت قربانی شو او انګریزانو دغه ستر خدمت هم له منځه لری کړ. (۱)

داو په هندوستان کښې پاتی افغانی کورنو او قبیلو مشران او نومیالی کسان چه په لدیزا واختصار سره معرفی کړی شول.

دا پوحقیقت دی چه دغه کسان دهغو سرونو افغانانو له جملې څخه یوازی دګوتو په شمار یو شو پاتلی ووچه مونږ معرفی کړل البته دوی یوازی پاحکومتي مشران یعنی نوابان او حاکمان او قومی مشران و چه په سیاست او عسکری دګرونو کښې یې خپل قدرت او موجودیت تثبیت کړی وه او پخپلو خپلو سیمو کښې د افغانی کلتور په ژوندی ساتلو او روزلو کښې یې تروسه وسه کوښښ او تلاش کړیدی او دهند تاریخ هم دوی د افغانانو په نوم پخپلو پاڼو کښې قید کړیدی.

دهند تاریخ په دی خبری اعتراف کوی چه د ۱۸۵۷ عیسوی کال او حتی ترزا وروسته کلونو پوری افغانانو او افغانی نسل دهغه هیواد په مدنیت او کلتور کښې ستره برخه درلودی ده او افغانی

---

(۱) ایضا دغه کتاب ۱۱۶ مخ.

کوي په هند کښې دمه و تحولاتو په راوستلو کښې خول نقش لوبولی دی.

دغو افغانی کورنیو سره له دی چه له خپلی اصلی مورنی خاوری (افغانستان) څخه لری پاتی شو بدی لیکن بیا هم خپل اصلی ممیزات اوصفات له لاسه نه دی ور کړی اوډیسره سره ئې خپل دینی او مذهبی شعایر هم په تیکه له ځان سره ساتلی دی .

د روهیله افغانانو د حکومت دغو بیاو برکاتو په هکله (جام جهان نما) او تکمله ذکر ملوك لیکی :

(احسان دادی چه د اسلامی مراسمو اود بنداری خبری چه څکه په روهیله قوم کښې جاری دی په بل قوم کښې نه شته . دی لمونځ روژه ، د پاك قرآن تلاوت اود علومو تحصیل اولو ته ډیر کوښښ اوپاملرنه داری سره کوی (۱)

عنایت خان افغان : ـ د نوسیالی پښتون حافظ رحمت خان مشر ځوی او وامحمدؤ او د پلار ورسره د یره زیاته مینه وه کله چه قاسم علی خان د بنگال صوبه دار د انگریزانو څخه ماتی وخوړه نو شجاع الدوله حافظ رحمت خان روهیله ته و لیکل چه تاسو باید د بنگال د نجات او د قاسم علی خان د مرستی لپاره خپل یو قومی پوځ تیار کړی .

گلستان رحمت لیکی چه حافظ رحمت خان شپږ زره تنه د خپل ځوی عنایت خان تر مشر توب لاندی د انگریزانو مقابلی ته تیار کړل.

د سیرالمتأخرین مؤلف وائی چه دپوځ شمیر دری زره ؤچه عنایت

---

(۱) تاریخ اود هدوهم تیرك ۷۱ ۲ مخ دجام جهان نما اوتکمله ذکرملوك په حواله .

خان د هغه شرو تا کل شو او عماد السعادت د هغه تعداد پنځه زره سپاهیان لیکي . (۱)

په هر حال اصلي موضوع ته راځو. شجاع الدوله دانګریزانو د مقابلې لپاره په عنایت خان افغان تکیه وکړه او چه کله عنایت خان د لښکر سره اله آباد ته ورسید شجاع الدوله او راجا بېني بهادر بې هرکلې ته راووتل (۲)

عنایت خان د روهېلکهنډ او نورو سیمو لکه بنګال او بنارس په جګړو کښې هم پوره برخه درلوده .

نواب مستجاب خان روهیله :- د ګلستان رحمت مؤلف لیکي چه دی داود په سیمه کښې د نوابۍ په مسند نا ست و . او دی افغان و چه د پوره شهرت خاوند دی .

مستجاب خان د سپهسالار افغانی روحیې څښتن او بوهوښیار او لائق پښتون وو یو لکه څنګه چه د قام خاو ند و هغه شان د توري په میدان کښې هم یو مېړنی افغان و د ده په باره کښې خو په کار دی چه کتاب ولیکل شي لیکن موږ دلته د اصیل افغان په توګه لنډ یادونه وکړه.

نواب احمد یارخان روهیله :- د انها خلی د نواب ذولفقار خان ځوی او د حافظ رحمت خان روهیله لمسی دی چه د نواب شجاع الدوله سره په مبارزه او مقابله کښې شهید شو.

نواب احمد یار خان د نواب تجمل حسین په ریاست کښې د قاضي ابوالحسن له عزل کیدو نه وروسته د ریاست د چارو نیابت په غاړه واخیست .

(۱) تاریخ اوده ۸۴ مخ د ګلستان رحمت ، سیر المتأخرین او عماد السعادت په حواله .

(۲) تاریخ بنګښ د حیات حافظ رحمت خان په حواله لومړی اثر د مفتي ولي الله او دوهم د سید الطاف علي بریلوی تالیف دی .

دی د نیك اخلاق اولوړ شخصیت خاوندؤ اودچارو په اجرا کښې
یې دیوره هوښیاري څخه کار اخیستلو. دی په حقیقت کښې یوعالم ؤ
چه په دری اوارد وژبه یې څوکتابونه هم لیکلی دی. دمولود شریف
په نامه یې د کلام دری مجموعی چاپ شوی دی په ۱۲۸۳ هجری کښې
دروژی داختر په ورځ و فات شو او شپې مهاشتې وروسته یې جسد له
فرخ آباد څخه بریلی ته راوړل شو او د حافظ رحمت خان رو هیله
په مقبره کښې ښخ کړی شو . (۱)
په هند کښې د روهیله افغانانو دلنډذ کرنه ور وسته مونږ ددی خبرې
دیادونې ضرورت احساسو وچه ددغو پښتنو د دوری د ترقیاتو په هکله
دهندد لوی یوه اوکره عالم ډاکتر را جندر پر ساد له مشهور کتاب
(هند کا مستقبل) څخه یو څو ټکی اقتباس کړو چه دغو په رڼا کښې
داحقیقت ثابتېږي چه دروهیله افغانانو دا قتدار د دوره په هند کښې
یوازی دامپریالیزم سره دمبارزی وجګړو دوره نه وه بلکه په دی
کښې علوم او فنونو هم په پرمختګ کړی ؤ .
ډاکتر راجیندر پر ساد دخپل کتاب (هندوستان کا مستقبل) په
۱۷۶ مخ کښې داسی لیکی :
دروهیله افغانانو چه په کومی علاقی قا ض وو دهغی سرحد داود ه
دنواب وزیر دقلمرو سره لګیدلو په هغه ځای کښې پخپله دروهیله
افغانانو حکومت و، اودانګریزانو له وا که اختیار څخه وتلی ؤ.
روهیله افغانانو دهند دنورو قومونو په نسبت زیاته آزادی
درلود ه او په دی وجه خرهغوی شتمن او خوشحاله وو .

---

(۱) تاریخ پښتو د حیات حافظ رحمت خان په حواله لوړی اثر
دمفتی ولی الله اودویم دسید الطاف بریلوی تألیف دی .

«د روهیله افغانانو د سوبتونو لیندداوسیدو ځکو په ځیر د سولې او امن دوخت سره په سمون علومو او فنونو ته د ترقی ورکولو په کار کښې دیر کوښښونه وکړ اود غه کوښښونه تر زیات حده بریالی وو او ښوره نتیجه یې ورکړی وه»(۱)

د افغانستان نومیالی پاچا احمدشاه بابا په هندبانندې دخپل تسلط او اتدار په وخت کښې په روهیله پښتنو باندی زیات اعتماد درلود او دهغوی لویو مشرانو لکه حافظ رحمت خان، نجیب الدوله اونورو ته یې مهمې عهدې او وظیفې ورکړی وې.

روهیله افغانانو په خپلو مربوطو سیمو کښې داوچت کرداراو اخلاقو په اثر بوآرام او پرفیض چاپیریال اوماحول منځ ته راوړی ؤ چه په دغه چاپیریال کښې هندوانو او نورو مسلم قومونو چه د هغوی سره ګډ اوسیدل هم دسوکالی او خوښی احساس کاوه.

د روهیله افغانانو د نومیالو دلنډ ذکر په پای کښې مونږ د هغو افغانانو شرح لیکو چه د افغانستان دورو ستیو پاچاهانو دلوی احمد شاه بابا اولادی له خوا یې په هند کښې دافغانی سلطنت تراقتدار لاندی سیمو کښې دماموریتونو او حاکمانو په توګه ټاکلی شوی او هلته یې دافغانی روحیې مطابق په هندی ولس کښې خدمت کړیدی.

مخلص الدوله عبدالله خان دغه سړی دافغانستان د پاچا شاه زمان له طرفه د کشمیر صوبه دار مقرر شوی ؤ او په دیری ایمانداری یې وظیفه اجرا کوله ده په دکال او لکه روپی مالیه افغانی پاچاشاه زمان ته

---

(۱) هندوستان کا مستقبل دډاکټر راجیندر اپرساد دهند دلقید جمهور رئیس تالیف ۱۷۶ مخ ددهلی چاپ کال ۱۹۴۶

استو له او هم په بې په کشمیر کښې دېر تو افغانی پو څونو-
معاش او لګښت ور کولو، دی پوهو پښار عادل او مهربان انسان ؤ او
دخپل حسن تدبیر په وجه یې خلکو کښې ښه نوم او شهرت درلود. (۱)

مظفرخان بهادر صفدر جنګ افغان :- دافغانستان د پاچاله خوا
دملتان صوبه د روه دده پلار شجاع خان دتیمور شاه په زمانه کښې
دصوبه داری وظیفه په غاړه درلوده، چه په ډیره دیانت داری او پاك
نیت یې خپله وظیفه سرته رسوله زیاته دملتان برخه دافغانی سدوزی قبیلی
جاګیر و.

مظفرخان ددغه افغانی کورنی پوری مربوط ؤ دی پوسپرنی زړو
او صف خو ښونکی سری ؤ مظفرخان په ملتان کښې چه هغه وخت
د افغانستان تابع ؤ زیاتی مضبوطی کلاګانی آبادی کړی وهغه پی
دوزل دولت وغځه دی کی اری شجاع ګرچه په ملتان کښې پره مشهوره
میمه ده ده دیاد ګار په توګه پاتی ده. (۲)

عبدالرحیم خان افغان :- دی دافغانانو دهوتکو د کورنی پوری
تړلی ؤ او په عین حال کښې د زمان شاه خسر هم ؤ ده دی په ډیره اسماعیل
خان کښې (اوسنی پښتونخوا یوه برخه چې دافغانستان برخه وه) د صوبه دار
په توګه خدمت کولو په کال کښې په پې هلو رلکه روپی مالیه د افغانستان
پاچاته رالیږله. (۳)

امین الدوله محمد خان افغان :- د افغانستان د پاچاله خوا
د لیه حاکم ؤ دی پوبهادراو زړور انسان وه امین الدوله محمد خان

---

(۱) تاریخ افغنه د ظهور الحسن موسوی تالیف ۶۶ مخ دیلی چاپ
(۲) ایضاً دغه کتاب ۱۶۸ مخ.
(۳) ایضاً دغه کتاب ۱۲۷ مخ.

پوهنه او سیاست مدارۍ چه د خپلې هوښیارۍ په برکت یې ځان له زیانو خطرونو څخه بچ کړ او تر آخره د دښمنانو زور پرې ونه رسېده (۱)

د هند په تاریخ کښې دې ډیرې افغانی کورنۍ ښته دی چه د وخت او زمان د تېرېدو سره نوي او څه کوم څه په ځان پورې منسوب کړېدی او لا منسوبوي یې.

د حقیقت له مخې په هندوستان کښې پښتو افغانانو لیکلو د دغه هیواد تاریخ په جوړولو کښې هومره لوی نقش لوبولی دی لکه هومره چه د دغه ځای اصلي اوسیدونکو لوبولی دی.

د هند د مدنیت په انکشاف او ترقی کښې چه افغانانو تر کومه لویه برخه درلوده د کلکتې د پوهنتون د تاریخ او مدنیت استاد ډاکتر مکن لال رای د دغې په باب داسې وایي:

د هندیانو د ځینو دانیو واکونو سرکونو پارونو ویالونو او نورو د جوړولو او لوړولو په برخه کښې د افغانانو مرهون او او احسان مند دی یعنی په حقیقت کښې د دغه قوم د هند په تاریخ او مدنیت کښې لویه او مهمه برخه لرلې چې تل په ور ته د قدر په نظر کتلی کیږي. (۲)

د افغانی فاتحانو سره چه د افغانانو کوم عظیم پیر د هند خاورې ته رسیدلی او د هغې پراخې خاورې په کوټ کوټ کښې یې مستوګنه اختیار کړې وه د سو ونو کلونو په دوران کښې یې خپلو سر بوطو سیمو کښې افغاني کلتور په ښه ډول وساتلو او د دغه کلتور د پایښت او دوام لپاره یې هر ډول هلې ځلې وکړې.

---

(۱) ایضاً دغه کتاب ۶۸ مخ.

(۲) د کابل پوهنتون د ادب په مجله کښې د ډاکتر مکن لال رای د مقالې دری ترجمه د اتم کال دوهمه ګڼه ۱۳۳۸ کال

دهند په خاوره کښې ګڼ ځایونه ددوی په نوم یاد شول لکه افغانپور (۱) پټانکوټ (۲) لودیانه (۳) سکندره (٤) روهیلکنډ (٥) فرید آباد (٦) خضر آباد (۷) مبارك آباد (۸) سلیم ګره (۹) د فیروز آباد حصار (۱۰) او نور چه د ټولو ذکر ګران کار دی ټولو د افغانی نومیالو یادګارونه په زره کښې وساتل .

برسیره پردی ترننه ورځ پوری ځینې تاریخی ځایونه لکه کابل دروازه علاءی کلا (۱۱) غزنی دروازه (۱۲) (شیر منډل) (۱۳) او نوردی چه ټول دافغانی نومیالو دلاس یادګارونه ګڼل کیږی.

دډیلی او رآسپور په سیمو کښې اوس هم داسی کوڅی او محلی شته چه په ټولو باندی دافغانی قبایلو لکه یوسف زوا او نور په ځای پاتی دی حتی د اردو په خوږه ژبه خود پښتو ژبې دومره ژور اثر پروت دی چه

---

(۱) آثار الصنادید ۱۰ مخ دسیرسید احمدخان تالیف د پنجاب او کشمیر په لار پروت یو ځای دی (۲) په پنجاب کښې یوه لویه سیمه ده چه دلودیانو په نوم یادیږی. (۳) دا سکندر لودی په نوم یادیږی (٥) ذروهیله پښتنو سیمه او د هپور په ضلع کښې .

(٦) دفرید یا شیرشاه سوری په نوم یوه سیمه ده چه دډیلی ته نژدی پرته ده -۷- دخضرخان پښتون له خوا په ۸۲۱ ه کښې آباد شوی دی .
(۸) دحضرت خان دځوی مبارك شاه له خوا په ۸۳۷ ه کښې آباد شوی دی -۹- د سلیم شاه سوری له خوا په ۹۳۷ ه کښې آباد شوی دی
(۱۰) دفیروز شاه له خوا په ۷۵۵ کښې آباد شوی دی -۱۱- دعلاء الدین غلجی له خوا آباد شوی کلا -۱۲- په ډیلی کښې یوه مشهوره دروازه
(۱۳) دشیرشاه سوری له خوا ودان شوی یو تاریخی ځای

سړی ورته حیرانیږی یعنی دارد وژبه چه څومره نزدیک له پښتو ژبی سره لری له بلی ژبی سره بی دومره نلری .(١٤) دهند داود ه بهوپال اورا جستان په سیمو کښی خواوس هم آفغانی روایات په خلکو کښی دومره ژوندی دی چه یونا بلد او بیگانه سړی په حیرت کښی غورځوی او دغه نظر په هم موجوده دچهرا جستانیان په اصل کښی لرغنو نی افغانان دی چه دبیرو په اولوختو بی هویت بدل شو یدی .

په حقیقت کښی دهند په براخه او وسیعه خاوره کښی افغانی کلتور دهغو پښتنی قبیلو په واسطه پایښت و موندلو کومی چه له افغانستان څخه دتللی بهیر بقایا شمیرل کیږی او ددغو له جملی څخه مونږ دروهیله افغانانو دنوميالولنډ ذکر وکړو .

اوس مونږ دهندپه خاوره کښی دهغو افغانی پوهانو اوروحانی بزرگانو او عالمانو لنډه شرحه وړاندی کوو څوك چه په پخو بیلو دوراو وختونو کښی هند ته تللی او هلته میشته شو یدی او بیا یی دخپل لوړ شخصیت اوهلیت په برکت پوره شهرت موندلی دی لکین دهند تاریخ او نور معتبر اثاریی دافغانانو په نوم یادوی او پښتانه یی بولی (١٢)

١١- اودوهین پښتو کاحصه دامتیاز علی عرشی اثر

(١٢)- هند دپا کستان په شمول .

اووم څپرکی

په هند کښې دافغانی پوها نوتذکره

په تیرو پانو کښې مونږ ددغې ستر حقیقت یادونه وکړه چه د افغانی فاتحانو په رکاب کښې ګڼ افغان پوهان اورو حانی لوړ شخصیتونه دهندخاوری ته داخل شول او هم په هند کې دافغانی کورنیو داقتدار او حکومت په دوره کښې افغانی پاچاهانو او په ګروستیو دورو کښې پښتنو نوابانو والیانو او حاکمانو زیات عالمان او دفضیلت خاوندان دخپلی خاصې پاملرنې لاندې وروزل او هغوی یې په مهمو وظایفو وټاکل.

په هند کښې دافغانی کورنیو داقتدار له دورې څخه غیر دمغلو په دوره کښې هم ځینې افغانی پوهان دلوالت او هلیت خاوندان موجود وو چه هر یو لوی نوم اوهیت شهرت دګاڼ پاره-لاس ته راوړی ؤ او په دوی کښې ځینې کسان په هندی تولنه کښې دخاص محبوبیت اودر نښت صاحبان تیر شویدی.

په دی فصل کی مونږ دهغو افغانی عالمانو ذکر کوو چه تراوسه دافغان په عنوان نسل کښې لږ معرفی شوی او نه یې دشخصیت او پوهې په باب څه لیکلی شویدی.

دغه کسان البته دپیلو پیلو دورو پوری اړه لری چه دمغلو دوره هم احتوا کوی او تول په معتبرو او مشهورو آثارو کښې دافغانانو په نوم یاد شویدی.

دغه کسان دهغوعالمانو او پوهانو له جملې څخه دي چه دغزنويانو لوديانو، افغاني کورنيو دا قتدار په وخت کښې موږ معرفي کړل او دلو سري ځل لپاره په افغاني مطبوعاتو او آثارو کښې د هغوذ کر راغلي او پيژندګلوي يې کيږي.

دغه پوهان د تاريخي اسنادو په رڼا کښې افغانان پيژندل شوي او په هم غه دليل په حقيت کښې دوي په هند کښې دافغان کهول معتوي شتمني ګڼل کيږي.

دغه پوهان موږ د هغو معتبرو آثارو په استناد معرفي کوو چه ټول په علمي محافلو او ټولنو کښې د يوره شهرت او اعتبار وړ پيژندل شوي او د محققينو په نزد خاص ارزښت لري.

په هند کښې د افغاني پوهانو لړي موږ د شيخ برهان لدين محمود بلخي نه پيل کوو دغه سړي رحمان علي په تذکره علماي هند کښې داسې معرفي کړيدي.

شيخ برهان الدين محمود بلخي: - ابن ابي الخير اسعد البلخي رح اصلش از بلخ بوده از کابر علماي وقت سلطان غياث الدين بلبن متصف بوفور علم ودانش ووجد وسماع جامع بود ميان علوم شريعت و طريقت در عهد صبي به صحبت مولانا برهان الدين مرغيناني صاحب هدايه رسيد، و بشارت علم يافته بسال هشت صد و هشتاد و هفت هجري وفات يافته قبرش جانب شرقي حوض شمس واقع دهلي است که آن را تخته گويند مردم آن ديار خاک قبرش باعقاد فتح باب علم اطفال را مي خوانند عرحمته الله عليه.» (۱)

ملا يکس غزنوي: تذکره علماي هند ليکي:

«ملا يکس غزنوي يکس تخلص مي کرد بوفور قضائل وصوف -

---

(۱) تذکره علماي هند در حمان علي تاليف ۳۶مخ دنولکشور چاپ.

کمالات اتصاف داشته و بزیارت حرمین شریفین رسیده بهندوستان آمد بعضی کتب احادیث مشکواة المصابیح در عرب و شمائل النبی هم برسر مرتضی شریفی وغیره گذار نیده به جهت استیلای ضعف پیری متوجه وطن مالوف غزنین شده به منزل پشاور ندای حق ارجعی از پیک اجل شنیده در سال نهصد وهفتاد وسه هجری بجوار رحمت ایزدی پیوست (۱)

ملاحسین هروی:- از فرزندان شیخ رکن الدین علاء الدوله سمنانی است در علوم معقول شاگرد مولانا عصام وملاحنفی بود و در شرعیات تلمذ نزد خاتم العلماء والمحدثین شیخ ابن حجر ثانی نموده ودر وادی سلامت شعروانشاء صنایع وبدایع وحسن تقریر وفصاحت وبلاغت وظرافت ولطافت بی نظیر بود دیوان اشعار فارسی باتمام رسانیده ازپیشگاه اکبر شاه بنظم نمودن سنگهاسن بتیسی مامور شده بود مگر باانجام نرسید وی در سال نهصد و هفتاد و نه هجری از هندوستان رخصت وطن حاصل کرده شیخ فیضی که تربیت یافته او بود در افظدام ظله تاریخ آن یافت همدر آن نزدیکی به کابل ازین عالم گذشت (۲)

ملا درویزه تذکره علما هند لیکی:- جامع علوم ظاهری وباطنی مرید وخلیفه سیدعلی خواص بود دردفع زنادقه وملاحده درقضیه بغایت می کوشید و باانها مباحثه کرده ملزم ساختی خصوصا باعوسی ملوتی بحث ها کردی- کتاب مخزن الاسلام بزبان پشتو تالیف نموده تمام ناند پسرش ملاعبدالکریم او باتمام رسانیده .

---

(۱) ایضاء دغه کتاب ۳۴ مخ .
(۲) ایضاء دغه کتاب ۰ مخ .

هرقدراز تصنیف ملادرویزه است درآن علاوه معارف وحقایق تذکره احکام شرع شریف بسیار است وآنچه از تکمیل پسرش عبدالکریم است درآن اکثر حقایق ومعارف مذکور شد ومخزن الاسلام را ازو شرحی است مسمی بشرح کلمات باقیات مولانا درویزه درسال یکهزار وچهل وهشت هجری وفات.(۱)

عبدالله نیازی :-دنیازی افغانانو څخه یو لوی کره یو وه دشیخ سلیم چشتی مریدا و په اتحپور کښی بی اعتکاف در لود دده حجره دعا لمانو او یو هاد غونډو ځای ومځل یا پاچا اکبر دهغه ډیر احترام او درناوی کاوه او عقیده مندیی و.

ډیره موده یی په سرهند کښی تیره کړه او اکبر پاچا ورته مددمعاش مقرر کړ لیکن نیازی افغان هغه رد کړو روسته یا اکبر پاچا دده اوددده دزامنو په نوم سرهند کښی څه ځمکه بخښش کړه

دغه روحانی شخصیت دشریعت لیوال او یو متقی او پرهیزگار انسان وچه خلکو یی له اندازی څخه زیات درناوی کاوه دی له ۹۰ کالو عمرو روسته په ...۱ هجری کال کښی وفات شوه (۲)

قاضی نظام الدین بدخشی مخاطب په غازیخان : کله چه مرزا سلیمان په بدخشان کښی وتو قاضی نظام الدین بدخشی دده مره واود لوړو شخصیتونو او عالمانو په جمله کښی د زیات احترام و رپیژندل کیدلو .

په بدخشان کښی چه دغه عالم په کوم کلی کښی اوسید ونو هلته دعلو نو یو لوی کان ومتداوله علوم یی هلته له مولانا عصام الدین څخه ولوستل اوله ملا سعید نه یی دینی علوم زده کړل شیخ خوارزمی

---

(۱) تذکره علمای هند ۹۰.

(۲) دربار اکبری دمولوی محمد حسین آزاد تالیف ۹۰ مخ دلکنهو طبع

ددغه غای دلویو پوهانو په دلـه کښې و قاضي نظام الدین په ۹۸۲ هجري کښې داکبرپاچادر بارته راوستل شول. قاضی صاحب په تصوف کښې پوره لاس درلود او بدخشان کښې یې هم پوره در ناوی کېدلو او چه کله داکبر پاچادر بارته راورسېد نو هلته ورته یوه سرصع توره او پنځه زره روپۍ نقدي انعام ور کړی شو.

قاضی نظام الدین بدخشي چه کله دربارته راغلو نو هلته یې دنورو پوهانو او عالما نو سره بحث مباحثې شروع کړې او لوی نوم یې وګټلو. دهٔجهاد توره ئې ملا کړه او دجګړې میدان ته راووت او په ډېرو کښې قاضی خان دغازي خان نوم وګټلو.

ورځ په ورځ یې رتبه اودرجه پورته شوه ،هم پوځي مشرشو او هم په علم کښې لوی نوم او شهرت لاس ته راوړ (۱)

حسام الدین بدخشي :ـ دقاضی نظام الدین بدخشي غازي خان ځوی دی. دمغلو پاچاجلال الدین اکبرده ته هم دهزاری منصب ورکړ او د عبدالرحیم خان خانان سره یې دکن ته ولېږلو لیکن دهٔ یې جذبی او انسانی کرامت دژوراحساس په وجه یې له خول کار ځخه استعفاورکړه او دیلی ته راغی. په دیلی کښې حسام الدین په دیني کارونو بوخت شو او په بای کښې دروحانیت خواته لاړ اوله دینوی کارونو ځخه یې لاس واخیست او سجاده نشین شو. (۲)

ملاعالم کابلي :ـ داکبرپاچا په دربار کښې دېرمقرب واو قاضی نظام الدین بدخشي غازي خان ځوړ ملګری و.

---

(۱) دده په باره کښې زیات تفصیل ددربارا کبری په ۹۰۸-۹۰۹ ـ۹۱۰ـ او ۹۱۱ مخونو کښې کتلی شی.

(۲) ایضا دربار اکبری ۹۱۱ - ۹۲۲ مخونه.

دی یو شوخ طبع بذله گو او دعلمی غونډو یو تکړه او زیرک عالم و.

دی په اصل کښې د افغانستان د شمالی دکلبهار دسیمی و. او یوه په شعری قریحه یې هم درلوده. ده د افغانستان د ستر شاعر او صوفی مولانا عبدالرحمن جامی هروی دمشهور کتاب سلسلة الذهب په بحر کښې یو کتاب تالیف کړی چه نوم یې یې طلصل الجرس ایښو دی و. او د خنده ونکو او مزاحیه اشعارو یوه مجموعه ده. ملا عالم به دچار ایوان په مباحثو کښې تل برخه درلوده. ده دهند د مشایخو او اولیاو په باب کښې یوه یوره ذخیره راغونده کړی وه. چه هغه کښې دهوها نواو مشایخو حالات درج وو.

دملا عالم کابلی شعری تخلص بهار و او بیا یې ربیعی تخلص غوره کړ. دی یو فاضل، هوښیار، دردمند، آزاد طبیعت او مهربان انسان و په چه د دربار اکبری کښې یې یوره درناوی کیدلو. (۱)

دهغه شان والاالة العقل بحرالجود عوالم الاثار او فواتح الولایه دملا عالم کابلی تالیف دی ملا عالم کابلی په ۹۹۲ هجری کښې وفات شو. (۲)

حضرت میر محمد طاهر تیزرو: له بدخشانه هغه په امیرانه توګه اوښانو آسونو او نوکرچا کرسره دتبلیغ حق لپاره هندوستان ته راغی به لاره کښې یې دګنو درویشانو سره وکتل او دهغوی خدمت یې وکړه په کوښو ورغو کښې چه حضرت شاه عبدالجلیل لکنهوی په جونپور کښې وه نو حضرت میر محمد طاهر هم جونپور ته ورسید او هلته یې ریاضت او دنفس سره مجادله شروع کره هغه اموده پس پنجاب ته لاړ او د حضرت مخدوم شیخ احمد سرهندی رح د نقش بند یه سلسلی هغه یوره فیض لاس ته راوړ.

---

(۱) دربار اکبری ۹۱۱ - ۹۱۲ - ۹۱۳ - ۹۱۴ - مخونه .

(۲) تذکره علمای هند. ۱۰ مخ .

څنګه چې حضرت میرمحمد طاهر هم ژوند او روحانی شخص او باطنی ریاضتونه یې کاوه خلکو تری زیات کرامتونه په خپلو سترګو لیدلی وو.

دغه دیر خدا شناس انسان و کښ شاګردان او مریدان یې درلودل دی د ۱۰۴۷ بزرګ هجری کال د رجب د میاشتې په ۷ تاریخ وفات شو. مزار یې د خاص خوص په تپله کښې دی (۱)

مولوی رضا علی :

مولوی رضا علی د بریلوی په نوم مشهور او لوی عالم او فاضل و تذکرهٔ علمای هند دده په هکله لیکی :

«مولوی رضا علی ابن محمد کاظم علی بن محمد اعظم شاه ابن محمد سعادت یارخان بهادر از جمله علمای بریلی ملک روهیلکنډ و از عائله افاغنه بریځ است بزرگان شان پیش سلاطین دهلی بر عهده های جلیله به منصب شش هزار سرفراز و ممتاز بودند وی بسال بیست و چارم صدی سیزدهم هجرت متولد شده بخدمت مولوی خلیل الرحمن مرحوم به مقام تونک تحصیل علم درس کرده به عمر بیست و سه سالگی از اکتساب علوم متداوله فراغ یافته مشار الیه امائل و اقران گشت خصوصاً در علم فقه مهارتی کامل داشت. تذکیر تاثیروی مشهور و معروف است بالجمله لذت کلام و سبقت سلام و قناعت و حلم و تواضع و تجرید از حصا بص وی توان شمرد. دوم جمادی الاول سال هشتاد دوم صدی سیزدهم از ین سرای بی بود رحلت فرمود رضی الله عنه بریځ بیای موحده تازی و رای ثقیله هندیه هر دو مفتوح و یای تحتانی ساکن و جیم فارسی موقف گروهی از افاغنه اند که ایشان را روهیله نیز گویند» (۲)

مولانا عماد الدین غوری: تذکرهٔ علمای هند دده په باره کښې داسې لیکی :

---

(۱) تاریخ جونپور د سید اقبال احمد تاه لیف ۱۹۶ مخ.
(۲) تذکره علمای هند ۶۴.

«بزرگانش همراه سلطان شهاب الدین غوری به هندوستان رسیده میگویند که وی در عنفوان شباب بباب پهلوانان کشتی گرفتی روزی پهلوانی مشهوری را که ازوی قوی تر بود بزمین اورده بود مست و مغرور بخانه می آمد یکی ازعلمای عصر او را این حالت دیده تاسف خورد واورا بدین حال طعنه زدو حمیتی غیرتی بحال اوراه یافت واز آن وضع که داشت پشیمان شد.

بالاآخر به اثر تزکیه نفس ، تلاوت قرآن پاك ، طهارت همیشگی وروحانیت ده ساله شبی برای ادای فرایض بدرآمد شخصی پیداشد و اورااز عقب درگرفت وگفت بخواه هرچه خواهی وی طالب طریقه اجداد خود بودو علم وتقوی درخواست . آن مرد گفت برو کتابخانه بزرگان خود پیش گیرد بهردم درس بگوحق سبحانه تعالی ابواب علوم دینیه بروی فتح کرد وی رحمته الله علیه مردی بزرگ بود وکمال اهتمام داشت که هیچ سنتی ازسنن سید المرسلین صلعم ترك نمی کرد فقرا رابسیار دوست می داشت رحمته الله علیه.(۱)

اخوند شیرمحمدخان رح :

یو باعمله عالم ، دخدای دوست او په اسلامی شعایرو مین انسان و مولد یې افغانستان دی لیکن دیوی او پدی مو دی راهیسی دعلم اوفضل دتحصیل په نیت هندو ستا ن ته راغلی وپه شاه جهان آباد کښې یې له مولاناشاه عبدالقادر قدس سره څخه دحدیث علم زده کړ شوه اوروخ یې دعقلی او نقلی علوموپه تدریس کښې تیریدل. دعلم وپوهې خاوند اود روحانی کرامت څښتن و.

دغه لومړیالی په هند کښې دیو بزرگ په توګه پېژندل شوی او

---

(۱) تذکره علمای هند ۱۰۰ مخ .

درناوی یی کیږی . ددی په باره کښی هم دخکو عقایدداد یچه دی په علم او فضل برسیره روحانی شخصیت هم واو ولس یی سخت احترام کاوه . (۱)

اخوند عبدالرسول کند هاری سلمه الله تعالی :

دغه لوی فاضل اود پوره کمال خاوند په اصل کښی د کندهاردی اوله خوکالو څخه را پەدی پەخوا یی شاه جهان باد کښی هستوګنه اختیار کړی وه .

دوی دخطاطی پەډول خطو لیکلو کښی استاداو ماهر واود نستعلیق او شفیعه خطونو په لیکلو کښی یی ساری او مثل نه درلود . ده په هند کښی ګڼ شاګردان وروزل . (۲)

اخوند عبدالکریم افغان : داخوند درویزه ځوی دی چه دملا عبدالکریم په نوم شهرت لری . تذکره علمای هندده په باب کښی داسی لیکی :

وملاعبدالکریم ابن ملادرویزه است ،علوم ظاهروباطن ازوالد ماجد خوداخذکرده محقق افغانستان گشت فاضل صوفی مشرب بودو از میر سید علی خرقه خلافت یافته وی صاحب شریعت وطریقت بود . کتاب مخزن الاسلام ازتصانیف اوست ازخوارق اومنقول است که وی هرشب یك جزکاغذ سفید به حجره خود میبرد وبغیرروشنی چراغ وغیره تحریر فرموده علی الصباح بیاران خود میداد تاآنکه کتاب مذکور باختتام رسید در سال هزار و هفتاد دو هجری وفات وبه علاقه یوسفزی مدفون گشت. (۳)

---

(۱) آثار الصنادید دسرسید احمدخان ۵۷۹ مخ

(۲) ایضا آثار الصنادید ۶۸۱ مخ .

(۳) تذکره علمای هند ۱۳۶ مخ .

قاضی محمد اسلم هروی :- تذکره علمای هندده په باب کښې داسې لیکي :

«وی از احفاد ملا خواجه کوهی خراسانی است بهرات متولد شده و در کابل نشو و نما یافت و اکتساب علوم متعارفه بخدمت شیخ بهلول نموده بعد از فراغ علمی پیش نور الدین محمد جهانگیر پادشاه آمده چون قاضی از اقربای میرکلان محدث استاد جهانگیر بود پادشاه به اعزازش پیش آمده ویرا به منصب قضای کابل نامزد کرد. قاضی عهده خودرا باامانت ودیانت ولیاقت تمام انجام داد. جهانگیر اورا بحضور طلبیده وقضای اردوی معلی بدوسپرد ودرعهد شاه جهان ابن جهانگیر نیز به همان منصب مستقل بود، به منصب هزاری سرفراز گردید و تاسی سال بعهده قضای لشکر سرافرازمانده مورد مراحم سلطان بود .

روزی شاه جهان ویرا به روپیه وزن کرد شش هزارو پانصد روپیه که هم پله قاضی شدند بدو بخشید .

قاضی علاوه علوفه قضا جاگیر هزار روپیه سالانه از سلطان میافت وبسال شصت ویکم صدی یازدهم هجری به لاهور وفات یافت پسرش محمدزاهد صاحب زواهد ثلاثه است (۱)

محمد اسماعیل محدث :- ودی کتل شی ددی کتاب د غزنویانو څپرکی .

حضرت دا تا گنج بخش هجویری غزنوی :- و دی کتل شی دغزیانو څپرکی .

معظم خان افغان :- ددریا پادیو افغان مشرؤچه په حدیث کښې

---

(۱) ایضاً دهغه کتاب ۱۷۸ مخ .

د زیاتی پوهې او فضل خاوند ثېر شوېدی . ټول قرآن یې حفظ ؤ اودصحیح بخاری یوه ډیره قیمتی او ارزښتنا که نسخه یې لاسکی شریفی خخه راوړی وه . دغه افغان یو ایماندار انسان ؤچه له وفات څخه وروسته یې هم خلکو دنیکی اواخلاق صفتو نه کول (۱) .

مولوی بدل‌خان یابدن خان افغان :- په خټه بنګش پښتون ؤ . دصرف اونحولوی استاداودمولوی محمدعیاض څخه یې پوهه او تعلیم ترلاسه کړی ؤ .

ده پخپل وخت او خپله سیمه کښې پوره نوم ګټلی ؤ او په اتقی اوقناعت کښې یې مثال چانشو موندلی (۲)

قاضی محمد اسلم هروی :- په هرات کښې زیږیدلی خوپه کابل کښې یې هستو ګنه غوره کړه وروسته دمغل جهانګیرپه زمانه کښې لاهورته لاړ اوهلته یې دشیخ بهلول څخه په زده کړه پیل وکړ بیا اکبرآباد ته لاړاو هلته دیو خپلو ان مولانا میرکلان محدث په واسطه دجهانګیر دربارته ورسید .

ددغه نومیالی افغان دین داری اوپرهیزګاری په جهانګیر ژور تاثیر وکړ اوهغه دکابل دقضا وظیفه ورته ورکړه اوور پسی دجهانګیر دشاهی لښکر قاضی وټاکل شو او شاه جهان هم دی پخپل وخت کښې په همدغه کار مقرر کړی ؤاوده ته یې دهزاری منصب ورکړ .

شاه‌جهان پاچا دنو موړی افغان عالم ډیر در ناوی اوعزت کاوه اوهغه یې خپل خاص امام هم وټاکلو . په کال ۱۰۵۲ هجری کښې

(۱) تاریخ بنګښ دمفتی ولی الله تألیف ۳۱۴ مخ .

(۲) ایضاً دغه کتاب ۳۲۴ مخ دنزهة الخواطر داوم ټوک په حواله .

شاه جهان پاچا قاضي صاحب دروپوسره وتلل چه شپږنیم ز ی ورهروه بیوزن و خوت .

یوځل له امن څخه راولوید او ځلو رمیاشتی په لحای یریوت چه کله بیه شونو کابل ته راغی او شاه جهان لس زره روپی انعام ورکړه. دغه کره عالم په ۱۰۶۱ هجری کښی وفات شو مزار یی په لاهور کښی دی .(۱)

میرمحمدزاهد هروی :ـ تذکره علمای هند لیکی: ابن قاضی محمداسلم هروی کابلی است. تربیت یافته از پدر خود ودیگر علماهندوستان اکتساب علوم کرده ذهن ثاقب و اکر صائب داشت. در تحقیق و تدقیق گوی سبقت از سابقین ربوده ودر حاضرین ولاحقین منفرد بوده شاه جهان پادشاه او رابه منصب و قایع نگاری کابل منصوب فرمود ودر عهد عالمگیر پادشاه محتسب اردوی معلی شدزان بعد عالمگیر پادشاه حسب خواهش او مشارالیه رابصدارت کابل مامور گردانیده در انجا علاوه منصب خود اماده علوم مبدا د تصانیف غرا دارد ار آنجمله شرح مواقف وحاشیه شرح تهذیب علامه دوانی و حاشیه رساله تصور وتصدیق منصفه ملاقطب الدین رازی و حاشیه شرح الهیاکل اندیشهور سال یازده صدوویك هجری بکابل وفات یافت (۲)

ملا میرك شیخ هروی :ـ له هرات څخه هندوستان ته راغی بیا مکی معظمی ته لاړاو هلته یی دحدیث تعلیم حاصل کړ بیرته هندته زا

(۱) بزم تیموریه دسید صباح الدین عبدالرحمن تالیف ۱۶۱ مخ داعظم گره طبع کال ۱۹۴۸م ار دوا دیشن.

(۲) تذکره علمای هند ۱۸۷ مخ .

ستون شواو شاه جهان پاچا هغه دد ارا شکوه او مراد بخش ته زده کره اوتعلیم وکما رلو. دی یولوی عالم او فاضل تیر شویدی(۱)

ملا محمد هروی :- از ارشد تلامذه ملامرزا جان درعلوم عقلیه ممتاز اقران بوده علم تواریخ نیکو دانستی در سن نهصد وهشتادو چهار هجری به هند آمده مورد مراحم وعنایت جلال الدین محمداکبر پادشاه گشت وبسال نهصد ونود هجری رخت سفر باخرت برد.(۲)

ملاعلی قاری هروی :- بن سلطان محمد هروی حنفی درهرات متولد شده علوم رسمیه از علمای وقت وبعضی احادیث مشکوره ازمولانا میرکلاه محدث اکبرآبادی خوانده به مکه معظمه رسید و همانجا اقامت گزیدواز ابوالحسن بکری وسیدذکریا حسینی و شهاب احمدبن حجر هثیمی وشیخ عبداله سندهی و قطب الدین مکی وغیرهم علمای اندیا راخذ علوم نموده جامع علوم عقلیه و نقلیه متبع سنت بنو به یکتای زمانه گشت درسال چهارد هم ازصدی یازد هم به مکه معظمه رحلت فرموده کتب زیل مصنفه اواز ویاد گاراند :

تفسیر قرآن مجید- مرتاة شرح مشکوه - شرح الشفا - شرح الشمایل شرح النخبه - شرح الشاطبیه - نا موس ملخص قاموس وآثار بیشمار دیگر .(۳)

ملامحمد فاضل بدخشی :- د بدخشان اوسیدونکی و به کابل توران اوشیر از کښی یی معقول او منقول علوم زده کړل او هند ته راغی په لاهور کښی یی د ملاجمال لاهوری څخه د تفسیر او اصول تعلیم حاصل

---

(۱) تذکره علمای هند ۲۰۰ مخ ۲

(۲) تذکره علمای هند ۲۱۹ مخ.

(۳) تذکره علمای هند ۲۳۱ مخ.

کړ دخپل لیاقت او اهلیت په وجه بی لوی شهرت او نوم وګټاو او دژوند تر پایه پوری یی ددرس اوتدریس سلسله جاری وساتله دشاه جهان پاچا له خوا ورته وظیفه مقرره وه (دعبدالحمید لاهوری پادشاه نامه ۳٤۰ مخ دویم ټوک) (۱)

یوسف هروی :- ابن محمد هروی د اکبر پاچا په زمانه کښی دخپل هیواد هرات څخه هندته راغی او په دربار کښی دمعززو ماموریتو په جمله کښی و منل شو. دی طبیب هم ؤاو شاعر هم لکه چه دفن حفظ صحت په نوم یوه قصیده هم و لیکله او دبابر د ربار ته یی په ۹۳۷ هجری کښی وراندی کړه .

دبابر له وفات څخه وروسته همایون دده ډیر درناوی کاوه او یوسف هروی هم یوطبی کتاب دریاضی الادویه په نوم په ۹٤٦ هجری کښی دهمایون پاچا لپاره ولیکلو دطبابت په برخه کښی یوسف دوه نور کتابونه هم لری چه نومونه یی دادی :

جامع الفوائد او فوائد الاخبار . دانشا په فن کښی یو کتاب دبدایع الانشا په نوم هم ده لیکلی دی (۲)

همت خان میرعیسی بدخشی :- د اسلام خان بدخشی ځوی دی اوجهانګیر له وړو کوالی څخه دهغه تربیه پخپله غاړه اخستی وه دماثر الامرا دمؤلف وینا ده چه دجهانګیر په مرسته دهغه سری جامع کمالات اوډ فضل خاوندو ګرزید.

دجسونت سنګ له جګړی نه وروسته چه میرعیسی بدخشی یکښی پوره برخه اخستی وه دجهانګیر له خوا ده ته دهمت خان خطاب ور کړی

(۱) بزم تیموریه ۲۱۳ مخ .
(۲) ایضا دغه کتاب ۳۵ مخ .

شو . همت خان د بیلو بیلو ظیفو له ادا کولو څخه ورو سته په اجمیر کښې د بخشي اول په توکه وټاکل شو ماثر الامرا کښې راغلي چه :

(از مستعدان روزگار بود و در همسران سرامد اقوام فصاحت وبلاغت از نظم ونثر برصفحه یادگار نگاشته (در بزم تو ک ۹۴۸ مخ (۱)

ملامحمد غفران افغان مشهور په رامپوري : - تذکرهٔ علمای هند ده په باب کښې داسې لیکي :

ملامحمد غفران ابن صلا تائب اخون ابن حافظ سعداله خان رامپوري از افاغنه تیراهی خیل مرید وتلمیذ. فقیر اخون ولایتي بود نیز بخدمت بعضی علمای وقت مستفید شده فتاوای فقه در صد جزو نوشته که بچک موسوم و به کتب خانه رئیس رامپور موجود است . علمای نامور ازسایه دامن تربیت وتعلیم او برخاسته اند بعمر صد ساله بسال شصتم ازصدی سیزدهم هجری رحلت فرمود ومصنف ابجد العلوم وی رابلقب روایت کشي یاد کرده العلم عندالله تائب بروزن صائب معنی توبه کننده. (۲)

میا مخدوم احمد آبادي : - ونامش مولانا شیخ برهان بن ابراهیم بن محمدخان غوری است محمد خان از اولاد سلطان معز الدین محمد المشهور به سلطان شهاب الدین محمد غوری بود بحکومت ناگور امتیاز داشت .

مولانا احمد بدعای مستجاب شیخ احمد لکتهو احمد آبادی بتولد شده باسمای شیخ موصوف بنام احمد موسوم گشت . وی ازعلمای صوفیه دیار گجرات است . علوم ظاهر ازمولا نا صدر جهان گجراتی

---

(۲) بزم تیموریه ۲۸۰ مخ .

(۱) تذکره علمای هند ۲۰۵ مخ .

اکتساب نموده دردوازده سالگی به شرف ارادت حضرت سراج الدین ابوالبرکات سیدمحمد المشهور به شاه عالم قدس سره مشرف گشته و دوازده سال در خدمت ایشان صرف نمود ودوازده سال دیگر بامور ظاهر وباطن مشغول بوده بتاریخ بیست ودوم ربیع الثانی سال هشتصد وهشتاد هجری بعد طی نمودن شصت و چهار مرحله زندگانی به عالم

بقاو دانی از تعالی فر موده محله تاج پور محلات احمد آباد گجرات مدفون شد . در لفظ آخر الاولیاء تاریخ رحلتش یافته اند .(۱)

. مولوی نصر الله خان افغان :- تذکرهٔ علمای هندده په باب کښې لیکي :

« مولوی نصراله ساکن خورجه از قبیله افاغنه خویشگی تلمیذ عبدالحلیم بود بخدمت مولوی احمدعلی چریا کوتی وغیره علمای عصر اکتساب علوم متداوله رسمیه کرده استعداد کامل حاصل نمود ومدام به مزاولت علمی میپرداخت . در سرکار انگریزی بعهده دپتی کلکتر معزز بوده بعد استحصال حق تقاعد از آن سرکار بسرکار نظام حیدرآباد به منصب صدر تعلقه دار سرفرازی یافته کتب ارشادالبلیه فی اثبات التقلید و شرح رباعیات یوسفی در طب وشرح خلاصه کیدانی در فقه وغیره رسائل از تو الیف وی اند بسال دوازده صد و نود و نه هجری وفات یافته . (۲)

میرمعصوم کندهاری :- دهٔ افغان دمغلی پاچا جلال الدین محمد اکبر دزمانی نومیالی او بیاوری خطاطو چه شهرت یی په ټول هند کښې

---

(۱) ایضاء دغه کتاب ۲۳۲ مخ .

(۲) ایضاء تذکره علمای هند ۲۳۷ مخ .

خپور شوی وا و دفتح پور سپکری دزیاتو مانیو په دا خل کېږی ددغه لوی خطاط لیکنې کېندلې شوې دي . اکبرپا چا په دغه پوره پاندي پوره نظر درلود او دغه د ر تاوي پې کاوه . (۱)

مولانا میر علی هروی :- دا کبر په دربار کېږی بل پیاوړی خطاط او د استعلیق د لیك استاد مولانا میر علی هروی دی چه په هغه وخت کېږی د پوره شهرت او نوم خاوند ؤ او اکبر د هرات څخه د هغه خدمت ته ورته راوستلی ؤ او په دربار کېږی پی درناوی کېده . (۲)

خواند میر :- د خواجه همام الدین محمد ځوی او د روضة الصفا د مؤلف میر خواند لمسی دی . پلار یې د پډ خشان د والي سلطان محمود وزیر ؤ .

خواند میر په هرات کېږی وزیږید . چه په هغه وخت کېږی د علوم او فنونو ځانګوره . د هرات علمي ماحول د خواند میر په تربیه او د علمی ذوق او ذهنی او استعداد په راژوندی کولو او روز لو کېږی مهم رول ولوبو و . د هرات سلطان غازی حسین بن منصور د ربار د شاعرانو او پوهانو لوی مرکز ؤ . د وزیر میر علی شیر د علم دوستي او معارف پروري په برکت د زیات علم او فضل خاوندان په هرات کېږی راغونډ شوي وو او خواند میر د دغو پوهانو د فیض له د سترخوان څخه پوره استفاده وکړه او په کله چه میر علی شیر د خواند میر د علمی صلاحیت او استعداد څخه خبر شو نو هغه یې خپل دربار ته راوغوښتلو او د نورو پوهانو او عالمانو په ډله کېږی یې داخل کړ .

(۱) بزم تیمور په ۱۲۵ مخ .
(۲) بزم تیمور په ۱۲۶ مخ .

دخواندمیر دلته یاتی شو او دتاریخ لیکلو په فن کښې یې ژوره مطالعه پیل کړه . دمیر علی شیر په علمی مرکز کښې خواندمیر ذهن ورځ په ورځ روښانه شو اوددغه عالم دوست وزیر په داد او تشریق هغه خپل لومړی کتاب مآثرالملوک و لیکلو چه هغه دشاهانو او او لیاو په اقوالو او نصایحو علاوه ، د بنی امیه او بنی عباس خلفاؤ سره دطاهریانو ، سامانیانو اوغزنویانوتا ریخ هم دی.

خواندمیر خپل دویم کتاب خلاصة الاخبار فی بیان احوال الاخیار دمیر علی شیر په نوم منسوب کړ اودغه کتاب دروضته الصفا خلاصه اولنډیزدی . دهٔدمیرعلی‌شیر دژوندانه حالات هم د مکارم الاخلاق په نوم ولیکو . (۱)

عمر غزنوی : ـ تذکره علمای هند ددغه عالم او فاضل په هکله داسې لیکی :

« عمرغزنوی بن اسحاق احمد غزنوی کنیت او ابو حفص ولقب سراج الدین بود علم فقه را از امام زاهد وجیه الدین دهلوی و شمس الدین خطیب دهلوی وغیره علما آموخت بعد به مصر رفت وقاضی القضات شد بسواری از تصانیف عمده ومعتبره یادگا ر وبند ازانجمله توشیح شرح هدایه ، زبدة لاحکام فی اختلاف ائمته الاعلام وشامل در فقه و شرح بدایع الاصول وشرح مغنی وغیره وغیره .

